د اسلامي فکر دریمه لړۍ

# د امام حسن البنا رسایل

زموږ دعوت

موږ خلک څه شي ته رابولو

له پرون څخه تر نن

Aghalibrary.com

لیکنه: امام حسن البنا رحمه الله

ژباړه: پوهندوی محمد مزمل اسلامي

# (۱)

# زمونږ دعوت

*Download From; Aghalibrary.com*

# زمونږ دعوت

## سریزه

دغه رساله (زمونږ دعوت) د اخوان المسلمین اونیزې مجلې د او و (۷) مقالو په بڼه خپره کړې ده، لومړې مقاله یې په خپله دوهمه ګڼه کې چې د ۱۳۵۴هـ د محرم په (۲۰) نېټه نشر شوه خپره کړه، بیا نورې مقالې په پرله پسې توګه په (۳، ۴، ۶، ۷، ۸) ګڼو کې خپرې شوې، او دهمدغه کال په (۱۰) ګڼه کې یې چې د ربیع الاول په (۱۷) نېټه نشر شوه وروستۍ اومه مقاله چې د (زمونږ دعوت) رساله پرې بشپړه شوې خپره کړه.

په کال ۱۳۵۸هـ کال د شوال په نهمه (النذیر) مجلې د خپل دوهم نشراتي کال په نه دېرشمه (۳۹) ګڼه کې د دوهم ځل لپاره خپره کړه.

بیا وروسته د یو وړوکي کتاب په بڼه د امام بنا د دوه نورو رسالو (مونږ خلک څه شي ته را بلو؟) او ( د رڼا په لور) سره یو ځای خپره شوه.

امام حسن البنا شهید (رح) د دې رسالې په پیل کې د اخوان المسلمین غایه او هدف روښانه کړی دی، بیا یې د اخوان د دعوت په وړاندې د خلکو ډولونه ذکر کړي دي، او په پای کې یې هغه رنځ او مرض تشخیص کړی دی چې امت پرې اخته شوی دی او هغه درمل او علاج یې په ګوته کړی دی چې امت پرې بېرته رغېږي کوم چې په سم او صحیح منهج او تګلاره کې انځور شوی او د الله پاک د سترکتاب او د ستر پیغمبر د پاکو سنتو له متابعت او پلوی او د صالحو سلفو پر لار له تګ څخه عبارت دی.

# زمونږ دعوت

## (۱)

### ډاګیزه خبره

خوښ ګڼو چې خپلو خلکو ته خپل هدف او مقصد په ډاګه بیان کړو، او د دوی په وړاندې خپل منهج او کړنلاره څرګنده کړو او خپل دعوت ورته تر رانه لمر روڼ، تر سپېده داغه سپین او د رڼا ورځې تر رڼا روښانه پرته له هر ډول ابهام او ګونګوالي وړاندې کړو.

### پاکي او سپېڅلتیا

د دې تر څنګ خوښ ګڼو چې زمونږ قوم پدې پوه شي – او ټول مسلمانان زمونږ قوم دی – چې د اخوان المسلمین دعوت یو پاک او سپېڅلی دعوت دی او په خپله پاکۍ او سپېڅلتیا کې دومره لوړ تللی چې له هر ډول شخصي تمایلاتو پورته شوی، مادي ګټې او منافع یې سپک او حقیر ګڼلي او نفسي غوښتنې او اغراض یې شاته غورځولي دي او پر هغه لاره چې حق سبحانه و تعالی د ده په لور دعوت کوونکو ته رسمه کړې ده وړاندې تللی دی. {قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى

بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ} [يوسف:108]

ژباړه: ته دوی ته په ډاګه ووايه زما لار خو دغه ده، زه د الله لوري ته دعوت کوم، زه په خپله په پوره رڼا کښې خپله لار وينم او زما ملګري هم، او الله پاک دی او له مشرکانو سره زما څه اړيکه نشته.

نو مونږ له خلکو څخه هيڅ شی نه غواړو، نه ترې مال غواړو او نه کومه بله اجوره، نه پرې خپل موقف غټوو او نه پرې خپل مخورتوب زياتوو ( لا نريد منكم جزاء ولا شكورا) نه له تاسو بدله غواړو او نه منته.پدې هکله که مونږ له چانه څه اجر او بدله غواړو هغه هغه ذات دی چې مونږ يې پيدا کړي يو.

## مينه او عاطفه

خوښ ګڼو چې زمونږ قوم پدې پوه شي چې دوی مونږ ته له خپلو ځانونو څخه ګران دي، مونږ خوښ ګڼو چې زمونږ نفسونه د دوی د عزت لپاره قربان شي که دا کار زمونږ د نفسونو په قربانولو کيږي. او مونږ خوښ ګڼو چې که زمونږ د ارواوو په قيمت سره کيږي نو د دوی د برم ، کرامت، دين او هيلو قيمت دې شي.

مونږ د خپل قوم په اړه دغه ډول دريځ ته بل څه نه يو اړ کړي پرته له هغې مينې او عاطفې څخه چې زمونږ له زړونو چاپيره ده، زمونږ احساسات يې رانه اخيستي دي، خوب يې راباندې نا ارامه کړی دی او اوښکې يې رانه څڅولې دي.

او دا مونږ ته ډيره سخته ده، ډيره زياته سخته چې مونږ دې هغه حالت ګورو چې زمونږ قوم پکښې ګير دی او بيا دې مونږ دې ذلت ته تسليم او غاړه کيږدو، پدې سپک او خوار حالت دې راضي او قانع اوسو او ناهيلی ته دې پناه ورورو.

مونږ چې کله د الله په لار کښې دخلکو له پاره کار کوو، نو له هغه څخه يې زيات کوو کوم چې د خپلو ځانو له پاره کوو. دوستانو مونږ ستاسو يو، نه د بل چا، او داسې ورځ به هيڅ رانشي چې مونږ ستاسو پر ضد او ستاسو په تاوان اوسو.

مونږ د هيڅ شي احسان په چا نه باروو، او ځان ته د هيڅ ډول فضيلت قايل نه يو بلکې دالله پاک په دې قول باندې عقيده لرو چې : بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} [الحجرات:17] (بلکې الله پر تاسو احسان باروي چې هغه تاسې ته د ايمان لارښوونه وکړه که تاسې په رښتيا سره د خپل ايمان په دعوه کښې رينتوني يئ).

څومره هيله لرم ـ که هيلې ګټه رسولای – چې زمونږ امت ليدی او اوريدی او زمونږ زړونه سپړيدلي وای څو زمونږ ورونو او دوستانو ليدلي وای چې ايا په هغو کښې د دوی له پاره له خير غوښتنې، د دوی په اړه له فکر او اندېښنې، او د دوی د ګټې او مصلحت له پاره له سرښندنې او قربانۍ پرته بل څه شته دي؟ او ايا دوی پکښې د امت د روان حالت په اړه پرته له ځوروونکي درد

څخه بل شی مومي؟

خو مونږ ته همدا بس ده چې الله پاک په دې هر څه پوهيږي او پرې خبر دی، هو يوازې همغه ذات د تأييد او ملاتړ ضامن دی او هماغه ذات د سمون توفيق ورکوي، د هغه په لاس کښې د زړونو واګې او د هغوکليانې دي، چاته چې لارښوونه وکړي د هغه بيا څوک بې لارې کوونکی نشته او څوک چې بې لارې کړي هغه ته بيا څوک لارښود نشته، هماغه الله مونږ ته کافي دی او هغه ډېر ښه ملاتړ او چاره ګر دی، أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ . . (36) سورة الزمر. ايا الله پاک د خپل بنده له پاره بس نه دی؟

### څلورګوني ډوله خلک

مونږ چې له خلکو څخه څه غواړو هغه دادي چې زمونږ په وړاندې يو له دغو څلور ګونو ډولونو څخه وي:

**لومړی: باور لرونکی مؤمن:** زمونږ په وړاندې به څوک يا خو هغه شخص وي چې زمونږ په دعوت باندې باور وکوي، زمونږ خبره ريښتيا وګڼي، زمونږ اصول او مبادئ خوښ کړي، او په هغو کښې خير او ښيګڼه ووينې چې نفس يې پرې مطمئن او زړه يې پرې ډاډه شي. نو دغسې شخص ته دعوت او بلنه ورکوو چې له مونږ سره يوځای کيدو او مونږ سره ګډ کار ته بيړه وکړي څو ورسره د مجاهدينو شميره زياته او د دعوتګرو غږ لوړ او وچت شي. او که نه نو هغه ايمان بې معنی او بې مفهومه دی چې ورپسې عمل او فعاليت نه وي او هغه عقيده بې ګټې او بې فايدې ده چې خپل څښتن د هغې تحقق او د هغې له پاره سرښندنې او قربانۍ ته ونه هڅوي.

په مؤمنانو کښې (السابقون الاولون) هغوی چې الله پاک يې سينې خپلې لارښوونې ته پرانستې وې همدغسې وو. پر پيغمبرانو او د هغوی په رسالت يې ايمان راووړ، د هغوی متابعت او پلوي يې وکړه، او په دې لار کښې يې ريښتينی جهاد وکړ. دوی ته به د الله له لوري ستر اجر وي او دوی ته د هغو خلکو دثواب په اندازه ثواب هم وي چې د دوی دعوت ومنې او متابعت يې وکړي پرته له دې چې د هغوی په اجر او ثواب کښې څه ډول کمی راشي.

**دوهم: متردد او زړه نازړه:** يا به زمونږ د دعوت په هکله ورته حق څرګند شوی نه وي او زمونږ په خبرو کښې به يې اخلاص او فايده نه وي پيژندلې، نو دی زمونږ په اړه متردد او زړه نازړه دی.

مونږ دغسې شخص خپل حالت ته پرېږدو او ورته توصيه کوو چې له مونږ سره اړيکې زياتې کړي، د مونږ په اړه له ليرې او نژدې څخه مطالعه وکړي، زمونږ کتابونه او رسالې ولولي،

زمونږ له مراکزو لیده کاته وکړي، او زمونږ له ورونو او ملګرو سره تعارف وکړي، تردې وروسته به يې نفس ډاډه شي او زړه به يې ارام ومومي او ان شاءالله چې له دې وروسته به زمونږ وي. همدغسې حالت تردې د مخه د پیغمبرانو د متردددو او زړه نازړه اتباعو او پلویانو هم و.

**دریم: نفعي او غرضي:** یا به داسې څوک وي چې هغه وخت او هغه ځای کښې خپله مرسته لګوي چې ده ته يې فايده ورګرځي او ده ته مادي ګټه او منفعت جلبوي. نو دغسې شخص ته وایو چې: مهرباني وکړه، مونږ سره د الله پاک له اجر او ثواب څخه پرته بله بدله نشته هغه هم که اخلاص درسره و، او پرته له جنت څخه بل عوض نه لرو، هغه هم که الله پاک په تاکښې خیر لیده!

پاتې شو مونږ، نو مونږ خو د جاه او مقام له لحاظه نوم ورکي یو او د مال له درکه بې وځله او فقیران یو، زمونږ کار دادی چې څه شی له ځانو سره لرو او په لاس کښې مو شته هغه وښندو او ويې لګوو، زمونږ هیله یوازې د الله پاک رضا او خوښې ده او الله پاک ډیر ښه دوست او ملګری او ډیر ښه مرستندوی دی ( وهو نعم المولی و نعم النصیر).

نو که الله پاک د دغسې شخص له زړه نه پرده لیرې کړه او د تمې بلا يې ترې ایسته کړه نو دی به په دې پوه شي چې الله پاک سره چې څه دي هغه غوره او تلپاتې دي، د الله پاک له لښکر سره به ټل شي څو د دنیا له متاع څخه چې ځان سره يې لري په سخاوتمندئ سره ولګوي او دالله پاک د آخرت ثواب تر لاسه کړي. مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللَّهِ بَاقٍ . . (96)سورة النحل. تاسو سره چې څه دي هغه پای ته رسيږي او الله پاک سره چې څه دي هغه تل پاتې دي.

او که خبره څه بل شان وه، نو الله پاک له هغه چا څخه بې پروا او غني دی چې په خپل مال، ځان، دنیا، آخرت، مرګ او ژوند کښې د الله پاک له پاره د لومړي حق قایل نه وي. همدغسې حالت د ده په څیر د هغو خلکو و چې کله يې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له بیعت کولو انکار وکړ مګر داچې هغوی به تر ده وروسته د واک څښتنان وي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته بل ځواب ورنکړ پرته له دې چې هغوی يې خبر کړل چې: {إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ} [الأعراف:128]

ژباړه: ځمکه د الله ده، له خپلو بندګانو څخه يې چې چاته خوښه شي د هغې وارث يې ګرځوي، او وروستئ کامیابي د همغو له پاره ده چې له هغه څخه په وېرېدو کار کوي.

**څلورم: متحامل او پرغلګر:** او یا به داسې شخص وي چې پر مونږ بدګومانه دی، پر مونږ هر ډول شکونه او شبهې لري، هغه مونږه یوازې له تورو عینکو څخه ویني او تل زمونږ په اړه د یو شکمن په ژبه غږیږي، هغه بل څه نه مني پرته له دې چې په خپل غرور کښې وړاندې لاړ

شي، په خپلو شکونو کښې لاپسې حیران دریان شي او د تل له پاره له خپلو وهمونو او شکونو سره پاتې شي.

د دغسې شخص په اړه له الله پاک څخه ځان او ده ته سوال کوو چې حق راته حق وښيي او د هغه متابعت او پلوي را په نصيب کړي او باطل راته باطل وښيي او له هغه نه ډډه او اجتناب را په برخه کړي او مونږ او ده دواړو ته په زړونو کښې رشد او هدايت واچوي، مونږ دی دعوتوو که دعوت ومني او غږ پرې کوو که دی ځواب راکړي او الله پاک ته د ده په هکله دعاګانې کوو او الله سبحانه وتعالی خو د هيلو او اميدونو ځای دی.

الله پاک خپل پيغمبر باندې د يوې ډلې خلکو په هکله آيت نازل کړ چې: {إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ} [القصص:56]

(ای پيغمبره!) ته چې چاته وغواړې او خوښ دې وي هغه ته هدايت نشې ورکولی، مګر الله چې چاته وغواړي هدايت ورکوي، الله هغه خلک ښه پيژني چې د هدايت منونکي دي.

د دغسې شخص په اړه به زمونږ دريځ داوي چې مونږ به تر پايه ورسره مينه او محبت کوو او زمونږ پر دعوت باندې د هغه د قناعت او مونږ ته د را ګرځيدو هيله به يې کوو. زمونږ شعار به له ده سره هغه څه وي چې مصطفی صلی الله عليه وسلم مونږ ته تر مخه راښوولي دي: (اللهم اغفر لقومی فانهم لايعلمون) [رواه البخاري] ای الله زما قوم ته ښنه وکړې ځکه دوی نه پوهيږي.

مونږ خوښ ګڼو چې خلک مونږ سره يو له دغو ډولونو څخه وي، او اوس هاغه وخت رارسيدلی دی چې په مسلمان فرض دي څو خپله غايه او موخه درک کړي او خپل لوری وټاکي، خپل ټاکلي لوري ته کار وکړي څو موخې او غايې ته ورسيږي.

پاتې شو دغه لالهانده غفلت، د لوبو او ټوکو حرکات، غافل او بې پروا زړونه، په پټو سترګو هر چا پسې تګ، او هر غږ پسې کېدل؛ نو داخو هيڅکله د مؤمنانو لاره نشي کېدای.

## فناء

د دې ترڅنګ خوښ ګڼو زمونږ قوم په دې پوه شي چې د دې دعوت ورتيا او لياقت هغه څوک لري چې دعوت په تمامه معنی او له ټولو اړخونو څخه درک کړي او هغه ته هغه څه وروبښي چې هغه يې ترې غواړي: ځان، مال، وقت، صحت او روغتيا : {قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ} [التوبة:24]

ژباړه: اي پيغمبره ! ووايه چې که ستاسې پلرونه، ستاسې زامن، ستاسې ورونه، ستاسې ميرمنې، ستاسې خپل خپلوان، ستاسې هغه مالونه چې تاسې ګټلي دي، ستاسې هغه تجارت چې د هغه په ورانېدو اندېښمن کيږئ، او ستاسې د خوښې کورونه تاسې ته له الله او دهغه له پيغمبر او دهغه په

لار کښې له جهاد نه ګران وي نو انتظار وباسئ تردې پورې چې الله خپله فیصله ستاسې مخې ته راولي. او الله فاسقانوته لاربښوونه نه کوي.

دا داسې دعوت دی چې شراکت او ګډون نه مني، ځکه طبیعت یې دادی چې دی به ځانته او یوستوی وي.

نو څوک چې دغسې دعوت ته چمتو شو نو دی به په دغه دعوت باندې ژوند وکړي او دعوت به په ده باندې ژوند وکړي، او څوک چې د دغسې پیټي له پورته کېدو پاتې راغی نو هغه به د مجاهدینو له ثواب څخه بې برخې وي، له پاتې کړی شویو څخه به وي او په ښځو او ماشومانو کښې به شمېرل کیږي، او الله پاک به خپل دعوت ته د دوی پر ځای نور خلک راپاڅوي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ} [المائدة:54]

ژباړه: ای مؤمنانو ! که له تاسې نه څوک له خپل دین نه واوړي ( نو وادې وړي) الله به نور ډېر داسې خلک پیدا کړي چې الله ته ګران وي او الله هغوی ته ګران وي، چې له مؤمنانو سره به نرمې کوي او پر کافرانو سختې، چې د الله په لار کښې به جدو جهد وکړي او د هیڅ ملامتوونکي له پړې اچولو نه ونه وېرېږي. دا د الله فضل دی چاته یې چې خوښه شي ور په برخه کوي یې، الله د پراخه وسایلو څښتن او پر هر څه پوهیږي.

[د (زمونږدعوت) موضوع په سریزه کښې مې خبرې اوږدې کړې، اوس همدوره بس ده، دبیا لیدو په هیله].

## زمونږ دعوت

## (۲)

### وضاحت او روښانتیا

مونږ خلک یوه اصل او یوې مبدأ ته رابلو، روښانه او ټاکلي اصل او مبدأ ته چې د ټولو په وړاندې مسلم او منل شوی دی، هسې مبدأ چې دوی ټول یې پیژني، ایمان پرې لري او د هغې په احقیت باندې معتقد دي. او په دې هم پوه دي چې په همدې اصل او مبدأ کښې د دوی نجات، هوساینه او نېکمرغي ده. هسې اصل او مبدأ چې د هغې تلپاتې توب او د بشریت د اصلاح او رغولو اهلیت او صلاحیت یې تجربې ثابت کړی او تاریخ یې د صحت پرېکړه صادره کړې ده.

### دوه ډوله ایمانونه

زمونږ او زمونږ د قوم او ولس ترمینځ توپیر دادی – له دې سره چې مونږ او دوی پر نومړي اصل او مبدأ باندې ایمان کښې شریک او متفق یو – چې د دوی ایمان د دوی په نفسونو کښې بې

هوښه او ویده پروت دی، د هغه پرېکړې ته غاړه نږدي او د هغه په غوښتنه عمل نه کوي، په داسي حال کښي چې د اخوان المسلمین په نفسونو کښي د دوی ایمان ویښ، بیداره، ځواکمن او په لمبو دي.

یو عجیب او غریب ځانګړی نفسي او روحي حالت او ښکارنده ده چې مونږ. او پرته له مونږ. نور یې هم زمونږ. د ختیځوالو په نفسونو کښي لمس کوي. هغه داچې مونږ. په یوه فکر باندې داسي ایمان لرو چې کله خلکوته هغه بیانوو نو هغوی ګومان کوي چې مونږ. به د دغه ایمان پر مټ غرونه له بیخ څخه ونړوو، خپل ځان او مال به له هغه څخه ځار کړو، هر ډول ستونزې به وګالو او له هر ډول خطرونو سره به ډغرې ووهو څو دعوت زمونږ. په مټ بریالی شي او یا مونږ. د دعوت په مټ بریالي شو!

تر دې چې د خبرو شور او ځوګ کښیني او خلک سره تیت شي نو بیا مونږ. خپل ټول ایمان هېر کړو، له خپل فکر څخه غافل او بې پروا شو، نو نه د هغه له پاره د څه کار فکر او سوچ کوو او نه له ځان سره په زړه کښي د هغه په لاره کښي د تر ټولو کمزوري او ضعیف جهاد خبره کوو. بلکې کله په دې غفلت او هېره کښي دومره مبالغه کوو چې لګیا یو د خپل فکر او ایمان پر ضد او خلاف کار کوو برابره ده چې پرې پوهیږ.ي او که پرې نه پوهیږو!

ایا ته به له تعجبه ونه خاندې چې چې د یو فکر او تهذیب څښتن وويني چې د یوې ورځې په دوه پرله پسي ساعتونو کښي له بې دینه او ملحدینو سره بې دینه او ملحد وي او له دین والو عبادتکوونکو سره دین پاله عابد!

دغه غفلت، هېره، خوب یا هرنوم چې ورته اخلې هغه څه دی چې پر مونږ. باعث شوی څو هڅه وکړو تر څو خپل اصل او مبدأ راويښ کړو کوم چې زمونږ. د ګران ولس په نفسونو کښي مسلم او منل شوی حقیقت دی.

## دعوتونه او بلنې

زه بېرته خپلې لومړنۍ خبرې ته راګرځم او وایم چې د اخوان المسلمین دعوت او بلنه د اصل او مبدأ دعوت او بلنه ده، او نن سبا په ختیځ او لېدیځ کښي دعوتونه دي، اصول او افکار دي، او بلا مذاهب او نظریات. او د دې ټولو د خلکو په زړونو او فکرونو سره جګړه ده. هر فکر او دعوت ته یې خپل خلک لګیا دي چې ښایسته یې ښکاره کړي: پلویان، مریدان، او مینان یې ورته تبلیغات کوي، ښېګڼې او محاسن ورته بیانوي او په دې کار کښي ډېره مبالغه کوي او له حده تیریږ.ي څو خپل فکر او دعوت ښکلی، ښایسته او په زړه پورې څرګند کړي.

## دعات او بلونکي

نني دعات او بلونکي هغه پروني دعات او بلونکي ندي، د نن بلونکي مثقف، روڼ آندي،تجربه ناک او مسلکي افراد دي، په ځانګړې توګه په لویدیځو هېوادو کښي چېرته چې د هر کار او هر فکر له پاره یوه تجربه کاره او تدریب شوې ډله ځانګړې شوې وي چې ګونګتیا او غموض یې روښانوي، محاسن او ښېګڼې یې څرګندوي، د خپریدو نوي وسایل او د تبلیغاتو نوې لارې ورته راو باسي او د خلکو په نفسو کښي ورته د قناعت او پلوۍ نژدې ، لنډې او اسانې لارې لټوي.

## وسایل

په همدې توګه د نن ورځې وسایل هغه د پرون ورځې وسایل ندي. پرون خو تبلیغات یوازې یوه خبره وه چې په خطبه یا غونډه کښې ویل کېده او یا به په یوه پاڼه او رساله کښې لیکل کېده. نن خو خپروني دي، مجلې دي، جراید دي، رسالې دي، ناولونه دي، ډرامې دي، راډیوګانې دي . . . دې ټولو د خلکو – نرو او ښځو - زړونو ته رسیدل د هغوی په کورونو، کروندو، دکانو او کار خانو کښې اسانه کړی دی. د همدې له پاره د دعوت او بلنې د خلکو وجیبه ده څو دغه ټول وسایل په ښه توګه وکارولی شي څو یې کار او عمل مطلوبه ثمره ورکړي.

زما یې له دې حاشیوي بحث سره څه؟ زه دوهم ځل له پاره بېرته ستنېږم او وایم چې نړۍ نن ورځ په افکارو او دعوتونو باندې ټنډه ده که هغه سیاسي او اقتصادي افکار او دعوتونه دي، که قومي یا وطني دي، سولبیز افکار دي او یا هم وسلوال او نظامي افکار. نو د افکارو او دعوتونو د دغې ګډولې په مینځ کښې د اخوان المسلمین دعوت او فکر کوم ځای کښې قرار لري؟

زه اړ یم چې په دې هکله پر دوو نکتو خبره وکړم:

لومړی زمونږ مثبت او ایجابي او همدې کارته ځانګړی شوی هیکل . دوهم د نورو متعددو او مختلفو دعوتونو په اړه زمونږ د دعوت دریځ او موقف.

زما په حاشیوي تلو باندې نیوکه مه کوئ ځکه ما په ځان لازم کړي چې هغسې لیکنه وکړم څرنګه چې غږیږم، او زه خپله موضوع په دغه ډول باندې پرته له کوم تکلف او کړاو څخه لیکم، زه غواړم لوستونکي ما هغسې وپیژني څرنګه چې زه یم. او زما خبره د دوی زړونو ته په اصلي بڼه پرته له مصنوعي ښکلا او تزیین څخه پاکه سوتره ورسیږي.

## زمونږ اسلام

وروره واوره! زمونږ د دعوت هیکل او ډانچه داده چې دا هغه دعوت دی چې تر ټولو جامع صفت او ځانګړتیا یې داده چې (اسلامي) دعوت دی. دغه کلمه ځان ته پراخه معنی او مفهوم لري، نه هغه ګونګ مفهوم چې خلکو ترې اخیستی دی، ځکه زمونږ په آند او عقیده اسلام یوه جامعه او شامله معنی او پراخ مفهوم لري چې د ژوندانه ټولې چارې په ځان کښې نغاړي، د ژوندانه په هره چاره کښې حکم او فتوا ورکوي او د ژوندانه هرې چارې او هرې برخې ته دقیق او محکم نظام وضع کوي او هیڅکله د ژوندنیو ستونزو او هغو سیستمونو په وړاندې چې دخلکو او ټولنو اصلاح او رغونه ورته اړتیا لري ترلې لاسونه نه دریږي.

ځنې خلک غلط پوه شوي چې اسلام د عبادت په څو ډولونو او د روحانیت په څو حالتونو کښې منحصر ګڼي او خپل ځانونه او خپله پوهه د دغه محدود او منحصر فهم په کړۍ کښې ایساروي.

خو مونږه اسلام په بله بڼه او بل مفهوم پیژنو؛ مونږه اسلام په ارت او پراخ مفهوم سره پیژنو چې د دنیا او آخرت ټولې چارې تنظیموي. او دا زمونږه ادعا نه ده او نه مونږ له ځانه پکښې دومره پراخي کړې ده، بلکې دامو د الله له کتاب او دلومړنیو مسلمانانو له سیرت څخه زده کړې ده. او قرآن کریم زمونږ او زمونږ د ولس تر مینځ دی: رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ

الْفَاتِحِينَ (89)سورة الاعراف.ـزمونږه ربه! زمونږ او زمونږ د قوم تر مینځ په حقه پرېکړه وکړه، ته ډېر غوره پرېکړه کوونکی یې.

که لوستونکی غواړي د اخوان المسلمین د دعوت د (اسلامي) لفظ په پراخ مفهوم پوه شي نو خپل مصحف دې راواخلي او ځان دې له هوی او غرض څخه پاک کړي بیا دې دقرآن آیتونه ولولي نو هلته به داخوان المسلمین دعوت ورته تر سترګو شي.

له دې وروسته به د نورو دعوتونو په هکله د اخوان المسلمین د موقف او دریځ په هکله خبرې ولرو.

والله المستعان

# زمونږ دعوت

## (۳)

هو زمونږ دعوت (اسلامي) دی، د (اسلامي) لفظ په ټوله معنی سره، نور نو چې کوم ډول پوهه او فهم ترې اخلې اخیستلی یې شې په دې شرط چې د الله پاک د کتاب، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو، او د صالحو سلفو د سیرت په رڼا کښې وي.

د الله کتاب خو د اسلام اساس او بنسټ دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت خو د الله د کتاب بیانوونکی او شرح کوونکی دی، هر چې دصالحو سلفو سیرت دی نو هغوی – رضوان الله علیهم – خو د اسلام د تعالیمو او لاربنوونو زده کوونکي او اخیستونکي وو، دهغو منفذین او پلي کوونکي وو، هغوی د اسلام د تعلیماتو او لاربنوونو عملي بېلګې او نمونې او دهغو محسوس او ملموس تصویر او انځور وو.

## زمونږ دریځ او موقف د نورو دعوتونو په اړه

د مختلفو دعوتونو په هکله کوم چې په دې عصر کښې د طغیان په حد کښې دي او د خلکو زړونه یې سره ویشلي او فکرونه یې ګډوډ کړي دي زمونږ دریځ دادی چې هغه د خپل دعوت په تله تلو، که ورسره موافق و نو هرکلی ورته وایو او که ورسره مخالف و نو مونږ ترې بېزاره یو، او مونږ خو په دې عقیده چې زمونږ دعوت خو عام او محیط دعوت دی، هیڅ چېرې د هیڅ یوه دعوت یوه روغه او صالحه برخه نشته مګر داچې زمونږ دعوت ورته شامل او پکښې داخله ده.

## وطن پالنه

خلک په فتنه کښې لوېدلي دي؛ د وطن پرستی د دعوت په فتنه کښې او د قوم پرستی د دعوت په فتنه کښې. په ځانګړې توګه د ختیځ ولسونه کله چې هغوی فکر کوي چې غرب یې بې دربغه توهین او سپکاوی کړی دی، د دوی عزت، کرامت او استقلال یې تر پښو لاندې کړی دی، او د دوی مالونه یې لوټلي دي او وینې یې څښېلي دي!

د ختیځ ولسونه د لویدیځ د ښکیلاک له ځغ ښخه کړیږي چې په زور او زبرځواکی سره یې د دوی پر اوږو ایښی دی، اوس هغوی په خپل ټول ځواک او قوت، اوجهاد او مبارزې سره چې په وس کښې یې لري هڅه کوي له هغه ښخه ځان خلاص کړي. نو ځکه د وطن او ملت په نامه د سیاسي رهبرانو خولې خلاصې شوې، درځن درځن جریدې راووتې، لیکوالانو لیکنې وکړې او خطیبانو ویناوې وکړې.

په هر حال داهر څه نیک او ښه کار دی خو بده او بې خونده داده چې ته کله د ختیځ خلک او ولسونه په داسې حال کښې چې ټول مسلمانان دي پوه کول غواړې چې دغه څه چې د غربیانو په خولو او د اروپایانو په لیکنو کښې دي له دې نه پاک، لوړ، بشپړ، او کره افکار په اسلام کښې پراته دي نو دوی یې درسره نه مني او انکار ترې کوي، د اروپایانو ړانده تقلید ته لالهانده ور وګرځي او درته د خپل ګومان په اساس لګیا شي چې اسلام په یو لوري کښې دی او دغه افکار په بل لوري کښې قرار لري، او ځنې خو لا تردې هاخوا اوړي او وایي چې دغه افکار له اسلام سره تړل او هغه اسلامي ګڼل د ولس یووالی ویشي او اړیکې یې کمزورې کوي.

دغه دواړه غلط او خطا ګومانونه د ختیځ ولسونو ته له هر نظر نه ستر ګواښ او خطر دی. په همدې خاطر مې وغوښتل چې دلته د وطنیت د فکر په اړه د اخوان المسلمین او دهغوی د دعوت دریځ وړاندې کړم هغه دریځ چې د خپلو ځانو له پاره یې غوره کړی دی او غواړي او هڅه کوی څو خلک یې ورسره یو ځای خوښ او غوره کړي.

## د مینې او محبت وطنپالنه

که د وطنیت د بلونکو او پلویانو مقصد له وطنیت ښخه له وطن سره مینه، محبت او هغه ته شوق او لیوالتیا وي نو داخو که له یوې خوا د انسان په خټه او طبیعت کښې اغیز ل شوی دی له بلې خوا د اسلام له مامور به هدایاتو ښخه دی.

دغه بلال چې خپل ټول څه یې د خپل دین او خپلې عقیدې په لیار کښې وښندل او قربان کړل دادی دهجرت په وطن مدینه کښې د مکې په مینه او دهغې په یاد کښې له خوږښت او نرمښت ښخه ډک اشعار زمزمه کوي:

ألا لیت شعري هل أبیتَنَّ لیلةً *** بــوادٍ وحولي إذخرٌ وجلیلٌ

وهل أرِدَّنَّ یوماً میاه مجنــةٍ *** وهل یبدُوَنَّ لي شامة وطفیل

آه، زمانصیبه! داسې وخت به هم راشي چې یوه شپه د مکې په یوه دره کښې تېره کړم او شا وخوا مې منجان او سرګړي واښه ولاړ وي!

کومه ورځ به داسې راشي چې د مجنې سیمې او بو ته ور کوز شم او د شامي او طفیل غرونه ته ګورم!

یوه بل مهاجر به ویل:

ألا لیت شعري هل أبیتَنَّ لیلةً *** بواد الخزامی حیث ربتنی أهلی

آه زما نصیبه! داسې وخت به هم کله راشي چې یوه شپه د خزامې دره کښې چېرته مې چې خاپوړې کړي او مور او پلار روزلی یم تېره کړم!

او یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم له اصیل څخه واورېدل چې مکه یې ستایله نو په زړه یې راوورېده، له سترګو یې د مینې او ښکي وڅڅېدې او ورته ویې ویل: اصیله! پرېږده چې زړونه مو ارام او ټکور شي.

## د عزت او خپلواکۍ وطنپالنه

او که یې مقصد داوي چې له ښکیلاکګرو او غاصبانو څخه د وطن د ازادۍ او خپلواکۍ تامینولو له پاره هر ډول کوښښ او هڅه په کار اچول او د ولس د بچیانو په زړونو کښې د عزت او ازادۍ بنسټنه او مبادي کښېنول فرض دي نو مونږ ورسره په دې مقصد کښې هم ملګري یو، او اسلام په دې اړه ډېره زورنه کړې ده او انتهایي شدید دریځ یې نیولی دی، الله پاک فرمایي:

{وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ} [المنافقون:8]

ژباړه: عزت خو د الله او د هغه د رسول او مؤمنانو له پاره دی. خو دغه منافقان نه پوهیږي.

{وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا} [النساء:141]ژباړه: الله د کافرانو له پاره پر مسلمانانو د برلاس کېدو هیڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې.

## د ټولنې او اجتماع وطن پالنه

او که مطلب یې د یوې سیمې او قطر د وګړو تر مینځ د اړیکو ښه والی او غښتلتیا او د هغوی لارښوونه وي څو دغه غښتلتیا د خپلو ملي ګټو او مصالحو له پاره وکاروي نو مونږ له دې سره هم موافقه لرو او اسلام یې یوه اړینه فریضه بولي کله چې د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: وکونوا عبادالله اخوانا.[متفق علیه] او د الله پاک ورونه بندګان اوسئ.او قرآن کریم فرمایي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ} [آل عمران:118]

ژباړه: ای مؤمنانو! د خپلې ټولنې له وګړیو نه پرته له نورو سره خپل رازونه مه وایئ. هغوی ستاسې د ورکاوي له هیڅ یو فرصت څخه ګټه اخیستل له لاسه نه ورکوي، او تاسې ته چې په هرڅه زیان اوړي دهغو خوښیږي، د هغو د زړه دښمني د هغو له خولې نه راووځي او څه چې هغوی په خپلو سینو کښې پټ ساتلي دي هغه له دې نه زیات دي . مونږ تاسې ته په ډاګه څرګندې لارښوونې کړې دي که تاسې پوهه لرئ ( نو له هغو سره به په ارتباط ساتنه کښې له پاملرنې څخه کار واخلئ).

## د سوبې او فتحې وطنپالنه

او که وطنیت نه یې مراد ملکونه فتح کول او د ځمکې واکمني تر لاسه کول وي نو دا کار اسلام فرض کړی او خپل فاتحین یې مبارکو سوبو او غوره رغونو ته تو جیه کړي دي،الله پاک فرمایي: {وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ} [البقرة:193] ژباړه: او تاسي له هغو سره وجنګیږئ تردې پورې چې فتنه پاتې نشي او دین د الله له پاره شي.

## ګوندي او حزبي وطنپالنه

او که له وطنیت څخه یې مقصد په ډلو او ټپلو باندې د ولس وېشل وي څو یو بل سره دښمني وکړي، یو بل له مرۍ نه ونیسي، یو بل ته ښکنځل وکړي، یو بل پورې تور پورې کړي، یو بل ته توطیې او دسیسې جوړې کړي، او هره ډله دهغې تګلارې ننګه او پلوي وکړي چې د دوی نفسي غوښتنو جوړه کړې، شخصي هدفونو او غرضونو تشکیل کړې ده او د دوی فکرونو د شخصي مصلحتونو پر بنسټ شرح او تفسیر کړې ده . په داسې حال کښې چې دښمن دغه حالت د خپلو ګټو او مصالحو له پاره غنیمت ګڼي، د ډلو او ټپلو تر مینځ د دښمنۍ او جګړې په اور تېل شیندي، د حق په هکله یې سره وېشي او مختلف کوي یې او پر باطل باندې سره ټولوي او یو ځای کوي، خپل مینځ کښې پرې د دوستۍ اړیکې او متقابله مرسته او تعاون حراموي خو بیا همدغه اړیکې او تعاون له مستعمر او ښکیلاکګر دښمن سره او پر هغه راټولیدل ورته روا کوي، تل د هغه کور او دفتر ته ور روان وي، او د هغه د ملاقات پر وخت سره یو ځای کیږي!

دا هغه بدل او ناچله وطنیت دی چې نه یې دعوت کوونکو او پلویانو ته پکښې څه خیر شته او نه عام ولس ته.

نو دادی تا ولیدل چې مونږ د وطنیت له بلونکو او داعیانو سره ملګري یو بلکې د هغو له افراطیانو سره هم په هغه څه کښې ملګري یو چې وطن او ولس ته یې خیر رسیږي! او تا ولیدل چې د وطنیت دغه اوږده او پلنه دعوا بل څه نه بلکې د اسلام د لارښوونو یوه برخه ده.

## زمونږ د وطن پولې او سرحدونه

زمونږ او د دوی تر مینځ د اختلاف وجه داده چې مونږ سره عقیده اعتبار لري او د وطن پولې او سرحدونه په عقیدې باندې ټاکو او دوی سره ځمکني توکي او خاورین عناصر اعتبار لري او د هغو پر بنسټ د وطن پولې او سرحدونه ټاکي. بنا پر دې د ځمکې هر ګوټ کښې چې یو مسلمان اوسیږي او (لااله الا الله محمد رسول الله) وایي هغه زمونږ وطن دی، د حرمت او سپېڅلتیا څښتن دی، د مینې او اخلاص مستحق دی، او د هغه د خیر او صلاح له پاره د جهاد او هلو ځلو حق لري. په همدې لحاظ د دغسې سیمو ټول مسلمانان زمونږ ورونه او د کورنۍ غړي دي، هغوی ته اهتمام او پاملرنه کوو، د هغوی د فکر په څېر فکر کوو او د هغوی د احساس په څېر احساس!

خو یوازې د وطن پالنې دعوتګر او بلونکي بیا دغسې ندي، هغوی ته له همدغې تنګې او وړې محدودې ځمکنۍ ټوټې څخه پرته نور څه مهم ندي. د دې خبرې عملي توپیر هلته څرګندیږي چې کله یو ولس وغواړي خپل ځان د بل ولس په ځپلو او له مینځه وړلو ځواکمن او غښتلی کړي، نو مونږ دا کار د هیڅ یوې اسلامي سیمې په ضد نه خوښوو بلکې مونږ ټولو ته قوت او ځواکمني غواړو. خو د ځانګړې وطنپالنې بلونکو او پلویانو ته بیا دا کار هیڅ پروا نه لري، او له همدې ځایه د ولسونو ترمینځ اړیکې شلیږي، ځواک او قوت یې کمزوری کیږي، او دښمن یې یو پر بل وهي.

## زمونږ د وطنپالنې هدف او مقصد

دا یو خبره، دوهمه خبره دا چې ځانګړي وطنپالان چې کوم غټ مقصد لري هغه دادی چې خپل وطن يې نجات ومومي، بيا چې ورسته د هغه د ځواکمنی له پاره څه کوي نو يواځې په مادي اړخ کښې او د مادي تمو له پاره يې کوي لکه اوس اوس يې چې اروپايان کوي. خو مونږ عقيده لرو چې د مسلمان پر غاړه يو ستر امانت پروت دی چې پر هغه لازموي څو د دغه امانت د ادا کولو له پاره خپل ځان، مال، سر، وينه هرڅه قربان کړي، چې هغه د اسلام په رڼا سره د بشريت هدايت او لارښوونه او د ځمکې په ګوټ ګوټ کښې د اسلام بيرغ رپول دي. مسلمان په دې کار سره نه مال غواړي نه مقام غواړي، نه په چا واک غواړي، او نه د کوم ولس ښکيلول او غلامول بلکې يوازې او يوازې د الله پاک رضا او خوښي غواړي، د هغه د کلمې لوړوالی او د هغه په دين سره د نړۍ سعادت او نېک مرغي.او همدا هغه څه و چې صالح سلف (رضوان الله عليهم) يې هاغسې فتوحاتو ته وهڅول چې نړۍ يې حيرانه کړه او د تاريخ په زړه کښې يې د عدالت، فضيلت، شرف او اصالت نوی ريکارډ قايم کړ.

[خبره مې په دې هکله اوږده کړه او ته مې پرې ستړی کړې، زه احساسوم چې موضوع نازکه ده او له دې تفصيلي خبرو سره سره توپيرونه لا روښانه او واضح نه دي خو کېدای شي زه يې درته په لنډه او اجمالي توګه په دوه جملو کښې بيان کړم:]

ښه پوه شه چې مونږ چې کله کار او فعاليت کوو نو څه شی چې مونږ کار ته هڅوي هغه د الله پاک دامر پر ځای کول، د هغه کلمه لوړول او د هغه د رضا او خوښی هيله مندي ده. او نور خلک چې کار کوي نو د يوې نفسي عاطفې پر بنسټ يې کوي که ريښتينې او حقيقي وي او يا دروغجنه او تکلفي. نو مونږ د هغوی په څېر کړېږو او زحمت وباسو خو مونږ له الله پاک څخه د هغه څه هيله لرو چې دوی يې نه لري.

## وحدت او يووالی

مخکې له دې نه چې خبره پای ته ورسوم خوښ ګنم د هغو خلکو د اشتباه بې بنسټې ته دې پام ورواړوم چې وايي: پر دغه اصل او مبدأ باندې حرکت کول د ولس وحدت او يووالی له مينځه وړي کوم چې د مختلفو دينونو له افرادو او عناصرو څخه جوړ دی. ځکه اسلام چې د يووالي او مساوات دين دی د ولس د ټولو افرادو او عناصرو تر مينځ د وحدت دغه اړيکې تضمين کړې دي تر کومه چې دوی په خير او ښېګڼه کښې سره همکار او متعاون وي: {لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ } [الممتحنة:8]

ژباړه: الله تاسې له دې خبرې نه نه منع کوي چې تاسې له هغو خلکو سره د نېکۍ او عدل چلند وکړئ چې هغوی د دين په باب له تاسې سره جنګ ندی کړی او تاسې يې له خپلو کورونو څخه نه يئ وېستلي، الله عدل کوونکي خوښوي. نو بيا بېلتون او تفرقه له کوم ځايه کيږي؟

په پای کښې همدا ځان ته کافي بولو چې زمونږ په هکله خلک په دې پوه شي چې مونږ له هغو افراطي وطنپالو سره هم وطن ته د خير او فلاح په مينه او د هغه د ازادۍ او ترقۍ له پاره جهاد کښې يو ځای او ملګري يو او هر هغه څوک تاييدوو او ورسره کار کوو چې په اخلاص سره په

دې اړه هلې ځلې کوي. د اوس له پاره همدا مهمه او عملي ده که څه هم مونږ خپل کار اسلامي فريضه بولو او هغوی يې وطني فريضه بولي، او چې کله د ټولو تر مينځ دغه ګډ او مشترک ګام بريالی شو نو بيا وړاندې د نورو ګامونو ډګر پراخه دی.

## زمونږ دعوت

## (۴)

[تاسو مې د وطنيت او وطنوالی په هکله له خپل دريځ او موقف سره ودرولئ، او درته روښانه مې کړه چې مونږه چې کله د خپل فطرت پر بنسټ له وطن سره مينه لرو او دهغه حق او دهغه په اړه زمونږ مسئوليت په خپل زړه، عاطفې او شعور سره احساسوو، ورسره پدې عقيده يو چې د دې وطن د لوېشتې لوېشتې ځمکې ساتنه او حفاظت يوه اسلامي فريضه هم ده چې الله پاک به خپل له وړاندې د هغې په اړه رانه پوښتنه کوي، او ما درته داهم روښانه کړه چې مونږه وطن په خپلو پراخو پولو او حدودو سره پيژنو او هره لوېشت خاوره چې هلته مسلمان وي او د (لااله الاالله محمدرسول الله ) کلمه وايي زمونږ د هغه لوی وطن برخه ده چې حقونه يې پر مونږ فرض او دهغو په اړه مسئوليتونه پرغاړه لرو.]

### قوميت

او زه اوس درته د قوميت په هکله د خپل دريځ او موقف خبره کوم.

### د مجد او وياړ قوميت:

هغوی چې د قوميت په اصل او مبدأ وياړي که مقصد يې لدې څخه دا وي چې په کار ده وروستي نسلونه د مجد او عظمت پر زينو او د نبوغ او همت پر پوړيو د پلار نيکه او مخکنيو اسلافو په پلونو پسې ولاړ شي، هغوی ځان لپار ه بېلګه کړي او هغو پسې اقتدا وکړي، او د پلار نيکه وياړونه او کارنامې خو هغه څه دي چې زوی او لمسی بايد د خپلوۍ او وراثت پر بنسټ پرې وویاړي، پرې خوښ او ډاډمن اوسي او د هغو په اړه په زړه کې حماس، جذبه او ولوله ولري. نو دا يو ښه او نېک مقصد دی چې مونږه يې تأييدوو او هڅوو يې او خپله هم ترې کار اخلو. او آيا مونږ د اوسني نسل د همت په راويښولو کې پرته لدې بله وسيله لرو چې هغوی د اسلافو پر وياړونو او کارنامو باندې ونه هڅوو؟ او ښايي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دغه مبارک حديث کې همدې لوري ته اشاره وي: النَّاسُ مَعَادِنُ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا. . رواه البخاری ومسلم. خلك د زېرمو او کانونو په څېر دي، د جاهليت پر وخت چې څوک غوره و هغوی تر مسلمانېدو وروسته په اسلام کې هم غوره دي خو چې فقاهت او پر اسلام پوهه تر لاسه کړي.

دادی ته ګورې چې اسلام هېڅکله قوميت او قومپالنه په دغه روغه او شريفه معنا نه منع کوي.

### د کورنۍ او خپلوۍ پالنې قوميت:

او که مقصد یې له قومیت څخه دا وي چې د انسان کورنۍ او خپلوان ده ته اولویت لري څو خیر ښېګڼه ورسره وکړي او تر نورو د ده د احسان او منډو ترړو مستحق دي. نو دا هم ښه خبره ده او څوک دی چې په خپل قوم او کورنۍ کې خاپوړې وکړي او را لوی شي او بیا هغه د خپلو کوښښونو او خدماتو اولویت نه ګرځوي؟

لعمری لرهط المرء خیر بقیة *** علیه وان عالوا به کل مرکب

قسم دی چې انسان ته دده کورنۍ او قبیله له هر چا نه غوره پاتې خلک دي که څه هم هر ډول ستونزې او ربړې پرې راولي.

## د نظم او ترتیب قومیت:

او که د قوم پالونکو مقصد دا وي چې په مجموع کې خو ټول په ازمېښت او ابتلاء کې یو ، او له ټولو نه غو ښتنه ده څو عمل او جهاد وکړو، ښا پر دې باید هره ډله په خپله سیمه او له خپل لوري هدف تر لاسه کړي تر څو ټول -که خدای کول- د فتح او بري په ډګر کې سره یو ځای شو. نو دا خو ډېر ښه وېش او ترتیب دی، او مونږ داسې څوک له کومه کړو چې شرقي ولسونه ډلې ډلې په خپلو خپلو ډګرونو کې وهڅوي څو په پای کې ټول د خپلواکۍ او خلاصون په پراخه غېږ کې سره ټول او یو ځای شو؟

د قومیت دغه بېلګې او دېته ورته نورې ټولې ښکلې او ښایسته دي او اسلام یې هېڅکله نه منع کوي، بلکې دغه ډول قومیت زمونږ تله او مقیاس دی، زمونږ سینه ورته پراخه ده او نور ورته هم رابلو.

## جاهلي قومیت او جاهلي قومپالنه:

او که له قومیت او قوم پالنې څخه هدف او مرام له اسلام نه د مخه د جاهلیت د وخت له منځه تللي دودونه او عنعنات راژوندي کول وي، پخواني او تېر شوي مناسبتونه تازه کول او لمانځل وي، موجود او مستقر تمدن رنګول او له منځه وړل وي او پدې توګه د قوم پالنې او نژاد وپارنې تر نامه لاندې له اسلام او دهغه له رسۍ څخه انحلال او ځان خلاصول وي د بېلګې په توګه ترکیې چې په همدغه نامه په ډېره افراطي بڼه د اسلام او عربیت مظاهر او ښکارندې رنګې کړې، آن نومونه، د لیک لوست توري او دژبې الفاظ او کلمات او د ترکانو د اصل او ریښې (طوراني) نژاد له منځه تللي دودونه یې راژوندي کړل. نو دا د قومیت هغه بده او خرابه معنی او د پایلو او نتائجو له مخې خطر ناک مفهوم دی چې شرق به پداسې دروند تاوان واړوي چې ورسره به یې خپل تاریخي میراث ضایع شي، مقام او منزلت به یې پریوزي او د خپل شرف او اصالت سپېڅلی او مقدس مظهر او تر ټولو خاصه ځانګړنه (داسلام سپېڅلي دین) به له لاسه ورکړي. او په یاد ولرئ چې که دا کار وشي هم د الله پاک دین ته به هېڅ ډول زیان ونشي رسولی {وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ}. [محمد:38] ژباړه: او که تاسي مخ واړوئ نو الله به ستاسي په ځای

کوم بل قوم راولي او هغوی به بیا ستاسې په ځېر نه وي.

## د تېري او تجاوز قوم پالنه:

او يا که هدف او مرام له قوم پالنې څخه په خپل نژاد باندې دومره وياړنه او ځان لوړ ګڼل وي چې نور نژادونه ټيټ او نيمګړي وګڼل شي او هغوی د خپل نژاد د بقا او لوړتيا لپاره قرباني کړي. د بېلګې په توګه لکه المان او ايتاليا چې دغسې شعارونه پورته کوي او يا هر هغه نژاد چې ځان په ټولو لوړ ګڼي او دغسې شعارونه پورته کوي. نو دا هم د قوميت او قوم پالنې هغه بده او منحوسه څېره ده چې له انسانيت سره هېڅ اړيکه نه لري، او پايله يې داده چې بشري جنس دې د يو وهم او خيال لپاره چې هېڅ ډول حقيقت نلري او هېڅ ډول خير پکې نشته يو بل سره وخوري.

### دوه بنسټه

اخوان المسلمين په دغسې او دېته ورته قوميت او قوم پالنې باندې عقيده نلري ، نه د فرعونيت شعار پورته کوي، نه د عربيت، نه د فينيقي توب (کنعانيت) او نه د سوري توب. او نه دغسې القاب او نومونه يادوي چې ځنې خلک يو بل ته پرې پېغورونه ورکوي. اخوان المسلمين په هغه څه ايمان او عقيده لري چې بشپړ او کامل انسان، تر ټولو کامل ښوونکي او معلم -چې بشريت او انسانيت ته يې خير ښوولی دی- د الله پاک استازي او پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ نَخْوَةَ الجَاهِلِيَّةِ وَتَعَظُّمَهَا بالآبَاءِ. النَّاسُ لآدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ. لاَ فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ إلاَّ بِالتَّقْوَى». (اخرجه الازرقی فی اخبار مکة)

ژباړه: يقينا چې الله له تاسو څخه د جاهليت کبر او غرور او د پلار نيکه پر اساس پر نورو ځان لوړ ګڼل لېرې کړل، خلک ټول له آدم (عليه السلام) څخه پيدا دي او آدم (عليه السلام) له خاورو څخه ، او عربي پر عجمي باندې هېڅ فضيلت نه لري مګر په تقوا سره.

څومره ښکلې، په زړه پورې او د انصاف خبره ده: خلک ټول له آدم څخه پيدا دي بنا پر دې ټول سره سيال او سره برابر دي. او خلک له يو بل څخه په اعمالو فضيلت لري، نو بايد د خير په چارو کې سره سيالي وکړي!

دوه ستر او قوي بنسټونه دي چې که انسان پرې اباد شي نو بشر به د اسمان لوړو ته پورته کړي:

خلک د آدم اولاده ده نو سره ورونه دي او پرې لازم دي چې يو بل سره مرسته وکړي، پر يو بل مهربانه شي، او يو بل ته دخير ښېګڼې لارښوونه او توصيه وکړي.

او فضيلت او غوره توب په اعمالو سره دی نو پرې لازم دي چې هر يو په خپله برخه کې د ښو عملونو د ترسره کولو هڅه او کوښښ وکړي تر څو ټول انسانيت پرمختګ او ترقي وکړي.

نو ايا انسانيت تردې لوړتيا پورته لوړتيا ليدلې ده؟ او انسانيت تر دې تربيې بله ښه او غوره تربيه ليدلې ده؟

## د عربيت ځانګړتيا

لدې سره سره مونږ د ولسونو د طبیعي ځانګړتیاوو او اخلاقي امتیازاتو څخه انکار نه کوو، مونږ پدې پوهیږو چې هر ولس د اخلاقو او فضایلو ځانګړې برخه او ځانګړی امتیاز لری، او پدې هم پوهیږو چې ولسونه پدې هکله سره تفاوت او توپیر لري او عربي ولسونه پدې کې د زیاتې او پوره برخې څښتنان دي.

خو د دې دا معنی نده چې ولسونه دې دغه ځانګړتیاوې یو پر بل د تیري او تجاوز ذریعه وګرځوي بلکې هغوی باید دغه ځانګړنې د هغه ستر هدف چې د هر ولس مسئولیت او مکلفیت دی د تحقق وسیله جوړه کړي: هغه دټول انسانیت او ټول بشریت لوړتیا او ښېرازي.

او ښایي چې د تاریخ په اوږدو کې د ولسونو ترمنځ داسې څوک ونه مومې چې دغه معنی یې درک کړي وي هاغسې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملګرو ټولي درک کړې وه!

[دا له موضوع سره یو شمېر نښتي مسایل و چې نه غواړم پسې اوږده یې کړم څو مو له اصل موضوع څخه لېرې نکړي او دادی بېرته هغه څه ته راګرځم چې مونږه یې په لټه کې یو].

## د عقیدې اړیکه

کله چې دغه موضوع درته څرګنده شوه نو پوه شه –الله دې توفیق درکړي-چې اخوان المسلمین خلک خپل وړاندې دوه ډوله ګڼي:

یو ډول خلک هاغه دي چې د دوی په څېر عقیده لري، د الله پاک دین یې منلی، د هغه په کتاب او دهغه په پیغمبر او په هغه شریعت چې هغه راوړی ایمان لري، له دوی سره مونږ تر ټولو سپېڅلې رابطې تړلې یو چې د عقیدې رابطه ده. د عقیدې رابطه زمونږ په وړاندې مونږ ته د وینې او وطن له رابطې څخه زیاته مقدسه او سپېڅلې ده، نو دغه خلک زمونږ هغه نژدې قوم دی چې مینه ورسره لرو، دهغوی لپاره کار کوو، له هغوی څخه ننګه او دفاع کوو، او خپل ځان او مال ترې ځاروو، د ځمکې په هر سر کې چې اوسي او له هر نژاد او له هر توکم څخه چې وي.

او دوهم ډول خلک بیا داسې ندي او تر اوسه پورې زمونږ او دوی ترمنځ دغسې اړیکه نشته، نو دوی سره مو د سولې او سلامتیا چلن او تعامل دی څو پورې چې دوی راسره په سوله او سلامتیا چلیږي، دوی لپاره خیر او ښېګڼه خوښوو څو پورې یې چې پرمونږ تېری او تجاوز نه وي کړی، او پدې عقیده یو چې زمونږ او دوی ترمنځ اړیکه او رابطه شته چې هغه د دعوت اړیکه او رابطه ده، پر مونږ لازم دي څو دوی هغه څه ته دعوت کړو چې مونږ پرې باندې یو، ځکه دا د ټول انسانیت په خیر او ګټه ده او د دې دعوت د برې لپاره هغه لارې چارې او وسایل په کار واچوو چې هغه خپل دین راته ټاکلي دي، نو که چا له دوی څخه پر مونږ تېری او تجاوز وکړ نو تېری او تجاوز به یې له ټولو نه په ښه شکل ځوابوو. او که دا خبره د الله پاک له کتاب څخه اوریدل غواړې نو غوږ شه:

١- {إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ} [الحجرات:10] مؤمنان خو یو د بل سره ورونه وي نو د خپلو ورونو په مینځ کې مناسبات سم کړئ.

٢- {لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَز إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا

عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ} [الممتحنة:8، 9] الله تاسي له دې خبرې نه نه منع کوي چې تاسي له هغو خلکو سره د نېکۍ او عدل چلند وکړئ چې هغوی د دين په باب له تاسي سره جنګ ندی کړی او تاسي يې له خپلو کورونو څخه نه يئ وېستلي، الله عدل کوونکي خوښوي. الله چې له کومې خبرې نه تاسي منع کوي هغه داده چې تاسي له هغو خلکو سره دوستي وکړئ چې هغوی له تاسي سره د دين په معامله کښې جنګيدلي دي او تاسي يې له خپلو کورونو نه ويستلي يئ او ستاسي په ويستلو کښې يې يو د بل ملاتړ کړی دی.

او ښايي په دې سره ما د دعوت دغه برخه درته هاغسې روښانه کړې اوسې چې نور دې نو په زړه کې د هغه په اړه کوم ډول شک او اشتباه يا کومه نا پوهېدلي نکته نه وي پاتې، او اوس به نو پوه شوی اوسې چې د اخوان المسلمين نسب او شجره له کومې ډلې سره تړاو لري.

## زمونږ دعوت

## (۵)

### د ديني اختلافاتو په وړاندې:

[وروسته لدې چې زمونږ د دعوت ماهيت مې درته روښانه کړ او د قوميت او وطنيت په هکله مې د هغه د دريځ او موقف په هکله رڼا واچوله اوس د ديني اختلافاتو او مذهبي آراوو او نظرياتو پر وړاندې زمونږ د دعوت د دريځ په هکله درسره خبره کوم]

### وحدت او يووالی راولو، بېلتون او تفرقه نه:

لومړی بايد پدې پوه شې –الله پاک دې ښه علم در په نصيب کړي- چې د اخوان المسلمين دعوت يو عام دعوت دی او کومې ډلې او طائفې پورې ندی تړلی، او نه د خلکو په وړاندې په کومې ځانګړې بڼې پېژندل شوي نظر او يا د هغوی لخوا پر ځان باندې د لازم کړی شويو ځانګړو امورو پلوي کوي. د اخوان المسلمين د دعوت ټوله توجه او پاملرنه خالص دين او د هغه روح او زړه ته ده او خوښ ګڼي پدې اړه ټول نظريات او پاملرنې سره يو شي څو کار او عمل مثمر او اغيزمن شي او لاسته راوړنې زياتې وي او ستري. د اخوان المسلمين دعوت تک سپين او پاک سوتره دعوت دی او په هيڅ ډول رنګ ندی رنګېدلی، هغه له حق سره دی چېرته چې وي، وحدت او اجتماع خوښوي او شذوذ او ځانته والی بد ګڼي.

هغه ستر مصيبت او ستر تاوان چې مسلمانانو ته اړول شوی دی هغه تفرقه او اختلاف دی، او د دوی د ټولو سوبو او برياوو اساس او بنسټ خپل منځي وحدت او محبت و. او د دې امت آخر، وروستی نسل او وروستی حالت به په هغه څه سميري په کوم چې د دې امت اول، لومړی نسل او لومړنی حالت سم شوی و. او دا د هر مسلمان ورور په وړاندې يوه بنسټيزه قاعده او څرګند هدف دی او زمونږ په زړونو کې ژوره او محکمه عقيده ده چې له هغې نه سرچينه اخلو او هغې ته خلک رابلو.

### اختلاف اړين دی:

لدې سره مونږ پدې عقيده يو چې د دين په فروعو کې اختلاف يو اړين امر دی او له هغه څخه ناچاري ده، او دا هيڅ امکان نلري چې مونږ دې د دين په فروعو او دهغو په هکله په آراوو، نظرياتو، او مذاهبو کې سره يو او متحد شو، او دا ځانته ګڼ اسباب او لاملونه لري چې ځنې يې په لاندې توګه دي:

۱- د عقلونو تفاوت: واقعيت دادی چې انساني عقلونه د احکامو په استنباط کې سره يو شان نه دي، ځنې يې قوي او ځنې يې کمزوري دي، همداسې د دلائلو په درک او نه درک کې، د معانيوو عمق او تل ته په کوزيدو او رسېدو کې، او د حقايقو په يو بل سره ارتباط او تړاو کې. او دين عبارت دی له آيتونو، احاديثو او نصوصو څخه چې عقل او فکر يې د عربي ژبې د حدودو او قوانينو په دننه کې شرح او تفسيروي، او خلک پدې هکله سره بيخي متفاوت دي نو ارومرو به اختلاف رامنځته کيږي.

۲- د علم پراخي او کمي: يو عالم ته هغه څه رسيدلي چې هغه بل ته ندي رسېدلي، او بل عالم ته همداسې، بنا پر دې د ټولو معلومات په يوه اندازه نه ول، ځکه خو امام مالک رحمة الله عليه د وخت  عباسي خليفه منصور ته ( کله چې هغه ترې وغوښتل چې ټولو مسلماناتو ته به د (موطأ) د عملي کولو امر وکړي) وويل چې: د رسول الله صلی الله عليه و سلم ملګري او صحابه ښارونو او وطنونو کې خپاره شول او هر يوه سره خپله برخه علم و، نو که ته اوس ټول خلک په يوه رأيه او نظر باندې مجبور کړې نو فتنه به ترې جوړه شي.

۳- د سيمو او د هغو د ظروفو او شرايطو توپير: يو لړ عملي تطبيقات له يوې سيمې څخه بلې ته توپير کوي، دادی امام شافعي رحمةالله عليه په عراق کې يې په خپل پخواني نظر فتوا ورکوله او چې بيا کله مصر ته ولاړ نو هلته يې بيا په خپل نوي نظر فتوا ورکوله، پداسې حال کې چې هغه په دواړه ډوله فتواګانو کې د حق پلټنه کوله او په هغه څه يې حکم کاوه چې ده ته به حق او صواب ښکاره شو.

۴- پر رواياتو باندې قلبي اطمينان: چاته هم چې روايات رسيدلي دي د هغو ټولو قلبي ډاډ او اطمئنان پر نوموړو رواياتو باندې يو شان نه و، يو راوي به د يوه عالم او امام په وړاندې ثقه او باوري مومې چې زړه يې پرې مطمئن دی اود روايت په منلو يې ډاډه دی، خو همدغه راوي بيا د يو بل عالم او امام پر وړاندې له ده سره د هغه په اړه د ځانګړو معلوماتو په اساس مجروح او نا باوري دی.

۵- د معيارونو په ترتيب کې اختلاف: علماء د دلالتونو په تقدير او اندازه کې يوه خوله ندي، د بېلګې په توګه يو امام د يوې سيمې خلکو عمل پر خبر واحد باندې مخکې ګڼي، او بل امام بيا ورسره داخبره نه مني، او داسې نور مثالونه.

## په فرعي مسئلې باندې اجماع ګرانه ده

د پورتنيو لاملونو پر اساس مونږ پدې عقيده يو چې د دين په فروعو کې پر يوې مسئلې باندې اجماع کېدل مستحيله او ناشوني ده، بلکې دا کار خپله د دې دين له طبيعت سره منافات لري، ځکه الله پاک غوښتي چې دغه دين تلپاتې وي او په ټولو زمانو کې له هر ډول حالاتو او شرايطو سره

ځنګ په ځنګ او غاړه په غاړه ولاړ شي، په همدې خاطر دغه دين پوست، نرم او اسانه دی، نه په کې جمود شته او نه سختي او شدت.

## ښښنه او اعتذار

هو مونږ دغسې عقيده لرو نو ځکه هغو مسلمانانو ته چې له مونږ سره په ځنو فروعاتو کې اختلاف لري په ټوله معنی سره عذر وړاندې کوو، او مونږ پدې نظر يو چې دغه اختلاف به هيڅکله زمونږ د زړونو تر منځ پرده نشي او زمونږ متبادله مينه او په خير ښېګڼه کې سره مرسته او تعاون به را خراب نکړي. او پدې نظر يو چې د اسلام خوږ دين مونږ ټول په خپله پراخه غيږ او ارته لمن کې سره نغاړي. ايا مونږ هم مسلمانان نه يو او دوی هم مسلمانان نه دي؟ ايا مونږ دا نه خوښوو چې هغه حکم ته غاړه کيږدو او عمل پرې وکړو چې زړه مو پرې مطمئن شوی دی او دوی هم همداسې نه خوښوي؟ ايا له مونږ نه اسلام دانه غواړي چې هغه څه خپلو ورونو ته خوښ کړو کوم چې ځان ته خوښوو؟ نو بيا اختلاف په څه کښې دی؟ او ولې زمونږ رأيه او نظر هغوی ته د ملاحظې او نيوکې وړ نه وي داسې لکه د هغوی رأيه او نظر چې مونږ ته د نيوکې او ملاحظې وړ ده؟ او ولې د مينې او خلوص په فضا کې تفاهم ته سره نه رسيږو چېرته چې تفاهم ته سره اړتيا وي؟ دغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه ملګري وو، په مسايلو کې يې فتواګانې يو ډول نه وې او يو له بله يې سره توپير درلود نو ايا دغه اختلاف يې په زړونو کې هم اختلاف اچولی و؟ او ايا د هغوی وحدت او يووالی يې مات کړی و او اړيکې يې شلولې وې؟ (اللهم لا) لويه ځښتنه هيڅکله نه. او په بني قريظه کې د لمانځه خبره له تاسو نه پټه نده.

(امام بخاري له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د احزاب غزا په ورځ صحابه وو ته وفرمايل: د مازيګر لمونځ دې هيڅوک هم نه ادا کوي مګر په بني قريظه کښې. نو په ځنو صحابه وو باندې په لاره د مازيګر د لمانځه وخت راغی، نو ځنو يې وويل چې د مازيګر لمونځ نه کوو څو بني قريظه ته ونه رسيږو، او ځنو يې وويل چې لمونځ کوو او د پيغمبر صلی الله عليه و سلم مطلب دا نه و چې لمونځ په لار کې ونکړو. نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته دا خبره ورسېده او هغه هيڅوک هم ملامت نکړل او څه يې ورته ونه ويل.)

او چې کله صحابه کرامو اختلاف کړی چې د نبوت په زمانه کې اوسېدل او د احکامو په اړوندو نښو نښانو باندې ښه پوهېدل نو مونږ ولې په وړو وړو او بې خطره اختلافاتو کې يو د بل مرئ نيولې وي؟ او کله چې د الله په کتاب او د رسول الله په سنتو تر هر چا پوهو امامانو ځنو له ځنو نورو سره اختلاف کړی دی او يو بل سره يې علمي مناظرې او مناقشې کړې دي نو مونږ ولې هغه څه نه شو کولی چې دوی کولای شول؟ او مونږ ته ولې هغه څه جايز ندي چې دوی ته جايز و؟ او چې کله د اذان په څېر ډېرو روښانه او مشهورو مسايلو کې اختلاف پيښ شوی چې ګڼ روايات او آثار يې په هکله راغلي او په ورځ کې پنځه ځله ويل کيږي نو د هغو مسايلو په هکله څه فکر کوئ چې هغه ډېر دقيق اونازکه دي او په رأيه او استنباط سره ثابتيږي؟

پدې ځای کې يوه بله خبره هم ده چې د ډېر غور او فکر وړ ده: پخوا به چې کله مسلمانانو ته په کومه مسئله کې اختلاف پيښ شو نو خليفه او امام ته به ورغلل، هغه به پرېکړه وکړه او حکم به يې صادر کړ او اختلاف به له منځه ولاړ؛ خو اوس خليفه چېرې دی؟ چې کله خبره دغسې ده نو مسلمانانو ته ښايي چې د يوه عالم او متدين قاضي په لټه کې شي او هغه ته خپله مسئله وړاندې

کړي.او که دوی یوې مرجع ته له ورتګ پرته اختلاف څېړي نو له نورو اختلافاتو زیږېدو پرته به بل څه په لاس ورنشي.

اخوان المسلمین دغه ټول حیثیتونه درک کوي، په همدې خاطر اخوانیان له خپلو مخالفینو سره تر ټولو د پراخې سینې څښتنان دي، او پدې نظر دي چې هرې ډلې سره یو څه علم شته او په هر دعوت کې حق او باطل دواړه موجود دي، نو اخوانیان حق ترې انتخابوي او عمل پرې کوي او په ډېره نرمۍ او رفق سره هڅه کوي څو مخالفین په خپل فکر او نظر باندې قانع کړي، که قناعت یې وکړ خو ډېره ښه او که نه نو دیني وروڼه یو، ځان او دوی ټولو ته له الله پاک څخه هدایت غواړو.

## منکرات له منځه یوسئ

اخوان المسلمین باید پدې پوه شي چې دلته یو اجتماعي او ټولنیز اړخ هم شته چې هغه د دې دین وجود ته تر ټولو اړخونو خطرناک دی، نو څومره به ښه وي چې د مسلمانو داعیانو جهود او کوښښونه له دغو خطرناکو اړخونو سره د جګړې او دهغو د له منځه وړلو په محور د خلکو راټولولو ته توجیه شي کوم چې دین له بنسټه ګواښي او تهدیدوي یې او هغه چې مونږ ټول دهغو په بد ګڼلو او د هغو د له منځه وړلو په خاطر د کار کولو په فرضیت باندې سره یوه خوله یو.

دغه ده د الله پاک په دین کې په فرعي مسایلو کې د خپلو مخالفینو پر وړاندې د اخوان المسلمین تګلاره چې کېدای شي داسې یې درته خلاصه کړم چې: اخوان المسلمین په فروعو کې اختلاف جائز بولي، خپلې رأیې او نظر ته تعصب بد ګڼي، حق ته درسېدو هڅه او کوښښ کوي، او خلک په مینه، محبت او خوږو پستو لارو او وسایلو همدې تګلارې ته رابلي او ورته هڅوي یې.

[پاتې شو دا چې لدې وروسته درته د هغو اهدافو په هکله خبره وکړم چې مونږ په نښه کړي دي او هغه وسایل بیان کړم چې مونږ د نوموړو اهدافو د لاسته راوړو لپاره چمتو کړي دي او ښایي لدې وروسته له یوه یا دوه بحثونو څخه (ان شاءالله) خبره وانه وړي، او کار خو وړاندې او وروسته ټول الله پاک لره دی.]

# زمونږ دعوت

# (۶)

د اخوان المسلمین دریځ او موقف دې د هغو ټولو دعوتونو په اړه وپیژانده چې نن سبا په دې سختو ورځو کې د ختیځ والو پر زړونو او د هغو د بچیانو په عقلونو څرخیږي، او ما څرګنده کړه چې د اخوان دعوت (اسلامي) دی په ټوله معنی او ټول مفهوم سره چې دغه درنه او ستره کلمه (اسلامي) یې له ځان سره لري، او په ټولو اړخونو او ټولو تګلورو سره چې دغه کلمه (اسلامي) پرې مشتمله ده. او ما درسره وعده کړې وه چې د اخوان المسلمین د دعوت د اهدافو او وسایلو په اړه پاتې موضوعاتو باندې به یو دوه بحثونو کې خبره وکړم، نو زه هیله لرم چې په همدې سره د څرګندونو د دې لړۍ تکمیل او بشپړتیا ته توفیق را په برخه شي.

(والله المستعان)

# د علاج په لور

## تشخيص

وروره زه هم پوهيږم او ته هم پوهيږې چې ولسونه په خپل قوت او ضعف کې، په ځوانی او بوډا توب کې، او په خپل صحت او ناروغتيا کې برابر داسې مثال لري لکه افراد. يو فرد به ګورې چې ښه قوي، روغ رمټ، او صحيح سلامت دی؛ خو ناڅاپه وينې چې ناروغيو ورته مخه کړې، مرضونه ترې چاپېر شوي او دردونو او رنځونو يې ځواکمن بدن بې سېکه کړی دی، لګيا دی په وش او وای اخته دی تر دې چې ديو تکړه ډاکټر او ماهر طبيب له لياري پرې د الله پاک رحم او مهرباني وشي چې د مرض ځای پېژني او ښه تشخيص يې کولی شي، ناروغتيا وپېژني او په اخلاص سره يې علاج او درملنه وکړي، نو بيا څه وخت وروسته ګورې چې نوموړي ناروغ صحت موندلی او خپل ځواک او قوت ورته بېرته ور ګرځېدلی. او کله کله خو يو ناروغ تر علاج او درملنې وروسته تر خپل لومړني حالت څخه هم ښه شي.

همدغه خبره په بشپړه توګه د ولسونو په هکله کولی شي، په يو ولس د وخت داسې پېښې راشي چې وجود يې تر ګواښ لاندې راولي، بنسټونه يې ولړزوي، د قوت او ځواکمنۍ په ښکارندو او مظاهرو کې يې د رنځ بهير پيل شي، رنځ ورپورې ونښلي او په سختۍ سره يې ځپي څو پرې خپله اغيزه وکړي، نو چې ورته ګورې کمزوری او ضعيف ښکاري، بدنيتي خلک ورته خرابه تمه کوي او غاصبان پرې لوېږي، نو نه غاصبان دفع کولی شي او نه د بدنيتو تمې غوڅولی شي. د دغسې رنځور ولس علاج او درملنه په درې شيانو کيږي: د رنځ او مرض ځای پېژندل، د علاج او درملنې په دردونو صبر، او تکړه طبيب چې درملنه پيل کړي څو الله پاک يې په لاسونو باندې هدف متحقق کړي او صحت او برى بشپړ شي.

## جانبي عوارض

تجاربو راوښوولې او پېښو څرګنده کړه چې د ختيځ والو ولسونو رنځ ګڼ اړخيز او خورا زيات عوارض لري چې د ژوند ټولو ښکارندو او مظاهرو ته رسيدلی دی. شرقي ولسونه نن سبا په سياسي اړخ کې له يوه لوري د دښمنانو له خوا د استعمار په مصيبت اخته دي او له بله لوري د خپلو بچو له اړخه په ګوندۍ، دښمنۍ، تفرقې او اختلاف باندې.

په اقتصادي برخه کې په ټولو طبقو کې سود او ربا خپره ده او طبيعي زېرمې او نور موارد يې د پرديو شرکتونو په ولکه کې دي.

په فکري اړخ کې فوضی، ګډوډي او له دين نه تېښته خپره ده، او الحاد او بې ديني يې د بچيانو په نفسونو کې سپېڅلي عقايد او لوړ اخلاق وژني.

او په اجتماعي او ټولنيز اړخ کې په اخلاقي انحلال او اباحيت اخته دي، له غوره او نېکو اسلافو ورته پاتې فضايلو څخه تېښته او ځان خلاصول دي، غربي تقليد او پېښې يې د ژوند په ټولو چارو کې لکه د مار زهر ځغليږي چې وينې يې مسمومو‌ي او خوند او خوښي يې ور خرابوي.

په عدلي او قضايي برخه کې يې داسې وضعي قوانين پلي دي چې نه مجرم ايسارولی شي، نه تيري کوونکي ته سزا ورکولی شي او نه دظالم لاس لنډولی شي، او نه د يوې ورځې لپاره هم د

هغو اسماني قوانینو ځای نیولی شي چې د کائناتو خالق، د پادشاهۍ څښتن او د انسانانو پیداوکوونکي او پالونکي ذات نازل کړي دي.

د تعلیم او تربیې په برخه کې داسې ګډوډي ده چې نشي کولی خپل نسلونه په سالمه توګه توجیه کړي او هغوی دخپل راتلونکي شخصیتونه او د ترقۍ او پرمختګ د امانت حاملین جوړ کړي.

په نفسي او روحي برخه کې یې وژونکی ضعف او ناهیلي، شرموونکی بې زړه توب او ذلت، بې همتي او بنځینکتوب،او بې دریغه بخل او ځان غوښتنه خپره ده چې لاسونه یې له لګښت، قربانۍ او سربښندنې څخه ور تړلي دي او ټول امت یې د جدیت او جهاد له لیکې څخه د لهو، لعب او عبثیاتو په لیکه کې درولی دی.

ته نو اوس له هغه امت او ولس څخه څه تمه لرې چې دغه ټول عوامل یې پر ضد جګړې ته سره ټول شوي دي! ښکیلاک او استعمار، ګوندي او حزبیت، سود او ربا، پردۍ مؤسسې او شرکتونه، الحاد اوبې دیني، اخلاقي انحلال او اباحیت، د تعلیمي او عدلي نظامونو فوضی او ګډوډي، ناهیلي، بخل او ښځینکتوب، ډار او بې زړه توب، او د دښمن لوړتیا منل او هغه په هر څه کې چې هغه یې تر سره کوي پداسې توګه خوښ ګڼل - په ځانګړې توګه د هغه په بد او ناوړه اعمالو کې- چې د هغه تقلید او پیښې وکړي.

په اصل کې یوه ناروغي هم له دغو ناروغیو څخه د ټولو ولسونو د یوځلي وژنې لپاره بس ده دا لا پرېږده چې دغه ټولې ناروغۍ په یوه وخت په هر ولس جلا جلا ور پرېوزي!

او که د شرقي ولسونو چې دښمنانو یې له لېرې څخه د دښمنۍ په پړي تړلي او را کاږي یې او په مودو مودو یې د دغو ناروغیو تخمونه او مکروبونه پکښې کرلي دي څو په هګیو او بچیو راغلي که د دغو ولسونو کلکتیا، محکمتیا، شدت او صلابت نه وای نو اوس به د ځمکې له سر نه پنا شوي وو او نوم او نښان او هیڅ ډول آثار به یې هم نه وپاتې. خو الله پاک دا نه غواړي او مؤمنان هم.

**وروره!**

دا هغه تشخیص دی چې اخوان المسلین د دې امت د مرضونو په هکله کړی دی، او دا هغه څه دي چې اخوان د هغه لپاره کار کوي څو الله پاک امت ترې پاک کړي او امت ته خپل له لاسه تللې صحت، ځواني او ځواکمني ورکړي.

[پاتې شو د دې کار د لاسته راوړو او تحقق وسایل نو پدې هکله به زمونږ وعده راتلونکي ګڼه وي – ان شاءالله-].

## زمونږ دعوت

## (٧)

زه له خپلې مخکنۍ خبرې نه د امت د شدیدې ناروغۍ تشخیص ته را ورسېدم کومې چې له پېړیو پېړیو راهیسې د امت په سینه ګوندې خښې کړي دي، دهغه سا یې ورتنګه کړې ده ، د ځواکمنۍ له

نسیم څخه یې محروم کړی او د ولاړېدو او پرمختګ مخ ته یې اوړده زمانه څنډ شوی دی. او روښانه مې کړه چې د دې ناروغۍ تر ټولو څرګند عوارض او آثار عبارت دي له : ښکیلاک او استعمار، ګوندي او حزبیت، سود او ربا، پردۍ مؤسسې او شرکتونه، الحاد اوبې دیني، اخلاقي انحلال او اباحیت، د تعلیمي او عدلي نظامونو فوضی او ګډوډي، ناهیلي، بخل او ښځینکتوب، ډار او بې زړه توب، او د دښمن لوړتیا منل او هغه په هر څه کې چې هغه یې تر سره کوي پداسې توګه خوښ ګڼل - په ځانګړې توګه د هغه په بد او ناوړه اعمالو کې- چې د هغه تقلید او پېښې وکړي.

او پدې هم پوه شوې چې هره یوه له دغو ناروغیو څخه په جلا توګه د ټولو ولسونو د فساد لپاره په یو وخت کفایت کوي، او دابه لاڅه حال وي چې ټولې ناروغۍ یوځای په یوه وخت پر یوه ولس راټولې شي؟

او خبره مې د شرقي ولسونو د علاج او درملنې پر وسیلې او له دغې درنې او خطرناکې بلا څخه پر خلاصون درولې وه.

## هیله او احساس

مخکې لدېنه چې د وسیلې په هکله خبره وکړم خوښ ګڼم پدې پوه شې چې مونږ له خپلو ځانو څخه ناهیلې نه یو، له مونږ نه لا د ډېر خیر هیله شته، او پدې عقیده یو چې زمونږ او د بري ترمنځ له ناهیلۍ پرته بل کوم حائل او پرده نشته.

نو که زمونږ په زړونو کې هیله قوي شوه نو غټ خیر ته به ورسیږو - ان شاءالله -، د همدې لپاره مونږ ناهیلي نه یو او هیڅکله به ناهیلي زمونږ زړونو ته لاره پیدا نکړي.

د بد فالانو او بد شګونانو له بدفالۍ او بدشګونۍ سره سره زمونږ شاوخوا ټول شیان د هیلو زېری راکوي.

کله چې ته یو ناروغ ته ورشې او هغه ووینې چې هغه په کراره کراره له خبرو کولو ولوېد او چوپ شو او له حرکت څخه پرېووت او غلی شو نو ته احساس کوې چې ناروغي یې غټه او خطرناکه شوه، رغېدل یې ګران دي او اجل یې نږدې دی. او که خبره سرچپه وه او ناروغ ورو ورو له چوپ والي څخه په خبرو راغی او له بې سېکۍ څخه پر حرکت راغی نو احساس کوې چې د صحت او عافیت په لور یې پرمختګ کړی او شفاء یې عاجله او نژدې ده.

حقیقت دادی چې پر شرقي ولسونو څه زمانه داسې تېره شوه چې دوی پکښې بې سېکه، بې حرکته، جامد او په ټپه ولاړوو تر دې چې دغې بې حرکتۍ او جمود ستړي او ستومانه کړل، او دادی اوس یې د ژوندانه په ټولو اړخونو کې بشپړه ویښتیا او بیدارتیا خوټیږي او فواري کوي، او په سینو کې یې د ژوندیو او قوي احساساتو او ولولو سمندر په څپو دی.

او که چېرې د استعمار د ځنځیرونو او زولانو درنښت له یوې خوا او د مسلمانانو په مسیر او تګلوري کښې ضعف او ګډوډي له بلې خوا نه وای نو دغې ویښتابه به اوس خپل تر ټولو غوره آثار درلودل.

د مسلمانانو په لاسونو کې به د تل لپاره ځنځيرونه نه وي پراته ، زمانه اووښتونکې ده او د سترګو په رپ رپ کې الله پاک وضعيت له يوه حالت نه بل حالت ته اړوي. حيران به د تل لپاره حيران نه پاتې کيږي، له حيرت وروسته لارموندنه ده، او ترګډوډۍ وروسته استقرار، او کار خو وړاندې او وروسته ټول د الله پاک په واک کې دی.

په همدې خاطر مونږ هيڅکله ناهيلي نه يو، د الله پاک د کتاب آيتونه، د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث، او فنا ته له نږدې کېدو وروسته د ولسونو په تربيه او راولاړو لو کې د الله پاک سنت، او هغه قصې چې پدې هکله يې په قرآن کريم کې ذکر کړې دي ټول مونږ باندې د پراخو هيلو غږ کوي او د پورته کېدو او پر مختګ سمې لارې را ښيي او مسلمانانو ته اوس دا زده کړې وي که دوی څه زده کوي!

د قصص سورت لومړي آيتونه لولي: {طسم (1) تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ (2) نَتْلُو عَلَيْكَ مِنْ نَبَإِ مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (3) إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ (4) وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ (5) وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ} [القصص:1-6]

ژباړه: ط، س، م. دا د ښرګندوونکي کتاب آيتونه دي. مونږ د موسی (ع) او فرعون يو څه حال سم صحيح تاته اوروو ، د داسې خلکو د ګټې له پاره چې ايمان راوړي. (خبره داده چې) فرعون په ځمکه کښې سرکشي وکړه او د هغې اوسيدونکي يې په ډلو ووېشل، له هغو څخه يوه ډله يې ذليله کوله، د هغو هلکان يې وژل او دهغو نجوني يې ژوندۍ پرېښودلې، په واقع کښې هغه له فساد کوونکو څخه و. او مونږ دا اراده درلوده چې پرهغو خلکو مهرباني وکړو چې په ځمکه کښې ذليل ګرځول شوي وو او هغوی رهبران وګرځوو او هماغوی وارثان وګرځوو. او په ځمکه کښې حکومت ورکړو، او له هغو نه به فرعون او هامان او دهغو لښکرو ته همغه څه وروښيو چې له هغو سره يې وېره وه.

دغه آيتونه لولي او ګوري چې باطل څه ډول په خپل تېري او سرکښۍ کې د طغيان حد ته رسيږي، په خپل ځواک او قوت ځان برلاسی ګڼي، په خپل ظلم او جبروت ډاډه کيږي او د الله پاک له څارنې او مراقبت څخه غافله کيږي. تر دې چې ده ته په ورکړ شوي شيانو وياړمن او مغرور شي نو الله پاک يې د زورور او مقتدر ذات په توګه راونيسي، او د الله پاک اراده بل څه نه مني پرته لدې چې د مظلومانو ملاتړ وکړي او مستضعفينو ته لاس ورکړي او راپورته يې کړي. نو ګوري چې باطل له بيخ نه ړنګ شوی دی او حق په خپلو بنسټونو باندې محکم ولاړ او اهل او پلويان يې برلاسه شوي دي!

د قرآن حکيم له دغو او دې ته ورته مبارکو آيتونو نه وروسته د هيڅ مسلمان ولس لپاره چې په الله پاک، د هغه په پيغمبر او د هغه په کتاب ايمان لري د يأس او ناهيلۍ لپاره عذر ندی پاتې. نو مسلمان به کله د الله په کتاب ځانونه پوه کوي؟

ځکه نو اخوان المسلمين هيڅکله لدې څخه ناهيلي شوی ندی چې مسلمانو ولسونو ته به د الله پاک مرسته او نصرت راځي که څه هم په مخ کې يې ستر او سخت کارونه پراته دي. او اخوان د همدغې هيلې په رڼا کې په جديت او هيله مندۍ سره کار کوي.

والله المستعان

## د وسیلې درې ګونې ارکان

پاتې شوه وسیله چې ما د هغې په هکله د خبرې کولو وعده کړې وه، نو هغه درې ګوني ارکان دي چې د اخوان المسلمین فکر پرې څرخیږي:

## لومړی صحیح منهج او تګلاره:

اخوان المسلمین د خپل کار منهج او تګلاره د الله کتاب، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او د اسلام احکام او لارښوونې ومونده چې مسلمانان پرې له پردیو نظریاتو او افتراءاتو څخه پاک صفا پر خپله سمه وجهه او اصلي بڼه پوهېدلي دي. نو اخوان المسلین پر دغه بنسټ د اسلام په اسانه، روښانه او هر اړخیز لوست او مطالعه اخته دي.

## دوهم مؤمن کارکوونکي:

د همدې لپاره اخوان المسلمین د الله پاک د دین تطبیق او تنفیذ د هغه فهم پر اساس چې دوی ترلاسه کړی دی پرته له جزئي غفلت او بې پروایۍ څخه پیل کړی دی. اخوان – لله الحمد- په خپل فکر مؤمن او باوري دي، په خپلې موخې او غایې مطمئن دي، او څو پورې چې د الله لپاره کار کوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لارښوونې پسې روان وي د الله په تأیید او نصرت ډاډه دي.

## دریم قاطع او باوري قیادت:

اخوان المسلین دغسې قیادت هم موندلی دی، د هغه بشپړ اطاعت کوي او دهغه تر بیرغ لاندې لګیادي کار کوي.

دا و وروره هغه څه چې ما غوښتل په اجمالي توګه د خپل دعوت په اړه درسره پرې وغږیږم، دا یو خوب دی ځانته تعبیر لري، او ته د دغو خوبونو د تعبیرونو یوسف یې! که دغه څه دې خوښ شول چې له موږ سره دي نو بیا دې لاس زموږ له لاسونو سره یو کړه چې په ګډه سره پدې لاره کې کار وکړو. الله پاک زموږ او ستا دواړو د توفیق ورکولو څښتن دی.

وهو حسبنا و نعم الوکیل، فنعم المولی ونعم النصیر

والله اکبر و لله الحمد

# (۲)

# مونږ خلک څه شي ته رابولو

# مونږ خلک څه شي ته رابولو

## سریزه

دغه رساله هغه وخت خپره شوه چې کله د اخوان المسلمین دعوت په ډېرو سیمو کښې خپور شو او د اخوان غړو له شهید امام حسن البنا څخه وغوښتل څو یوه رساله ولیکي او په هغې کښې د دعوت اصول او مبادئ روښانه کړي او دا چې څرنګه او په کوم ډول خلکو ته دعوت ورکړل شي؟ نو هماغه و چې امام حسن البنا شهید دغه رساله ولیکله.

دغه رساله د امام حسن البنا شهید لومړئ رساله ده چې مونږ ته رارسیدلې ده که څه هم د امام حسن البنا شهیدد رسالو په ترتیب کښې دریمه رساله ده او تر دې مخکښې دوه رسالې خپرې شوې دي چې دواړه د (رسالةالمرشد) په نامه یادې شوې دي.

دغه رساله د اول ځل له لپاره د اخوان المسلمین په اونیزې مجله کښې د نه (۹) پرله پسې مقالو په بڼه کښې خپره شوه. لومړئ مقاله د ۱۳۵۳هـ د محرم په ۲۶مه چې د ۱۹۳۴ز کال د مې له یوولسمې سره سمون خوري خپره شوې او وروستئ مقاله د ۱۳۵۳هـ د ربیع الثانی په ۲۱مه چې د ۱۹۳۴ز کال د اګست له دریمې سره سمون خوري نشر شوه.

نوموړې رساله په کال ۱۳۵۸هـ د شوال په ۳۰مه د (النذیر) مجلې د خپل دوهم خپرنیز کال په ۴۲مه ګڼه کښې د دوهم ځل له پاره له یو شمېر کمونو او زیاتونو سره چاپ او خپره کړه.

د دې رسالې په لیکنه کښې مونږه په (الاخوان المسلمین) اونیزې مجله کې د دې رسالې لومړی چاپ اصل ګرځولی دی او ورسره مو د (النذیر) مجله کښې د دوهم چاپ کمونو او زیاتونو ته اشاره کړې ده.

او مونږه وموندل چې د (النذیر) چاپ کوم چې له مونږ سره موجودو او متداولو د امام د رسائلو مجموعو اصل ګرځولی د مقالو په ترتیب کښې خطا شوی او اومه، اتمه او نهمه مقاله یې تر شپږمې مخکښې کړې دي.

په همدې توګه دغه رساله د مرکزي دفتر له خوا د یوه وړوکي کتاب په بڼه کښې چې درې رسالې: زمونږ دعوت، مونږ خلک څه شي ته رابلو؟، او د رڼاپه لور یې سره یوځای کړې وې د بیا ځل له پاره چاپ او خپره شوه.

## مونږ خلک څه شي ته رابولو؟

**(۱)**

**دوه لامله**

ډېرځله ته دیوې موضوع په اړه خلکوته خبره کوې او کوښښ کوې چې په هره وسیله اوهرې لارې چې وي خپل هدف اومقصد ورته بیان کړې اوفکرکوې چې نوردې خبره پوره روښانه او واضحه کړه او د خپل مخاطب سر دې خلاص کړ او هغه دې درانه لمرپه څېر په روښنایی کې کړ،خو لحظه وروسته به هک پک حیران شې چې کله درته څرګنده شي چې خلک ستاپه خبره ندي پوه شوي اوستامطلب يې ندی اخستی!

ماڅوځله دغه واقعیت لیدلی اوپه ګنو مواقفو کې مې لمس کړی دی،او زه فکرکوم چې ددې کاردوه لامله کېدای شي:

یا دا چې د متکلم اومخاطب ترمنځ د ویلو او اورېدلو تله او معیار یو ندی او سره توپیر لري چې پدی صورت کې طبعا فهم اودرک اختلاف اوتوپیر پیداکوي.اویابه دمتکلم خبره په خپل ذات کې ابهام اوګونګوالی لري که څه هم متکلم فکرکوي چې خبره يې روښانه اوڅرګنده ده.

## تله اومعیار

زه دلته غواړم خلکوته داخوان المسلمین دعوت، دهغه غایه اوهدف اودهغه وسایل او اسالیب په پوره صراحت، صفا اوسپینوټکوکې بیان کړم.نوخوښ ګڼم لومړی هغه تله اومعیار مشخص کړم په کوم چې دغه توضیحي خبرې تلو، زیارباسم څومې خبرې ساده، روښانه او واضحه وي څويې په فهم اودرک کې ستونزه نه وي او هرڅوک چې غواړي استفاده ترې وکړی پرې پوه شي.

زه باورلرم چې هیڅ فرد به راسره پدې کې مخالف نه وي چې نوموړې تله اومعیاردې د الله سپېڅلی کتاب(قرآنکریم) وي کوم چې له برکته يې فیض مومو، دعلم او هدایت له سمندرڅخه يې خړوبیږو او پرېکړې اوفیصلې ته يې غاړه ږدو.

## زما ولسه!

قرآنکریم یوجامع کتاب دی، الله پاک پکې د فکر اوعقیدې اصول او د ټولنیزوګټو اومصالحو اساسات اوبنسټونه بیان کړي دي. دژوندانه دقوانینوکلیات اوقواعد يې پکې ایښي دي، په هغه کې لارښووني دي، اوامردي اونواهي دي . .

نو ایا مسلمانانو د قرآنکریم لارښوني عملي کړې دي، دهغه افکاراوقواعد يې خپل افکاراوعقاید جوړ کړي دي؟ هغه اهداف اومقاصد يې درک کړي چې قرآنکریم ورته بیان کړي دي؟ ایا مسلمان فرد دقرآنکریم ټولنیز او ژوندنیز قوانین اولارښووني په خپلو ټولو ژوندنیو چارو کې تطبیق کړې دي؟

که ځواب دا وي چې هومسلمانانو دا کار کړی نوخو همدا زمونږه موخه اوهدف دی او مونږ ټول خپل هدف ته ور رسیدلي یو. اوکه ځواب داوي چې نه، مسلمانان دقرآنکریم له لارې ډېرلرې تللي،

او د هغه له لاربنوونو، اوامرو او نواهيو څخه غافل او بې پروا دي خوبيا پوه شه چې زموږ دنده اورسالت همداده چې مونږخپل ځانونه اوخپل ملګري اوپلويان دقرآن لاري ته راواړوو.

## په قرآنکريم کې دژوندغايه‌اوهدف

قرآنکريم له ژوندانه څخه دخلکوګڼې اومختلفې موخې اوهدفونه اودهغوی مقاصد ذکرکړي دي:

### خوراک څښاک، خوندونه اومزې

له ژوندانه څخه دځينوخلکوموخه اومقصد يواځې خوراک، څښاک، خوندونه اومزې کول وي، الله پاک فرمايي::

(. . وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ (12) سورة محمد)

ژباړه: او هغوی څې ايمان نه لري او کافران سوي مزو او چړچو پسې ګرځي او هاغسې خوراک کوي په کوم ډول چې څاروي خوراک کوي. اور يې ځای دی.

### جنسي غريزې، مال، دولت اوشهرت

قرآنکريم يوه ډله خلک يادکړي چې په ژوندانه کې يې ټول هم اوغم دنيوي زينت اوښايست، مال او دولت، وياړاوشهرت دي اوبس. الله عزو وجل فرمايي:

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الْمَآبِ...(آل عمران ۱۴)

ژباړه: ځينو خلکو ته د ښځو، اولادونو، د سرو او سپينو ډېرئ ډېرئ مالونو، ځانګړو اسونو، څارويو او کښتونو مينه په زړه کې ناسته ده. دا ټول د دنيوي ژوندانه مال متاع ده. تر ټولو ښه د ور ګرځېدو ځای د الله پاک په وړاندې ده.

### شر او فساد خپرول

ديوې بلې ډلې خلکو يادونه يې کړې چې په ژوند کې يې کاروبار اولېوالتيا دخلکو په منځ کې شر او فتنه، او فساد خپرول او رامنځته کول دي الله فرمايي:

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ (البقره۲۰۴-۲۰۵)

ژباړه: ځيني خلک داسي دي چې د دنيا په هکله به دې يې خبرې په تعجب کې واچوي، د خپل زړه په حال به الله پاک ګواه نيسي، پداسې حال کې چې دی به سرسخته دښمن وي. کله چې واک ته ورسيږي په ځمکه کې د فساد هڅه کوي څو فساد خپور او نسلونه تباه کړي. الله پاک هېڅکله فساد نه خوښوي.

دغه و د دنیا له ژوندانه څخه دیوشمېر خلکوهدفونه اومقاصد چې الله پاک مؤمنانو ته ترې برائت اوسپېڅلتیا ورکړې ده. الله پاک مؤمنان له دغو پرېوتو موخو او مقاصدو څخه ژغورلي اوهغوته یې لوړ اوسپېڅلی هدف اومقصد ټاکلی اوهغوی ته یې په ژوندانه کې سپېڅلی مسؤلیت اورسالت ورپه غاړه کړی دی، د حق په لور د بشریت لاربنوونه، د خیر او ښېګڼې په لور د انسانانو دعوت اوبلنه، اوټوله نړۍ داسلام په رڼا روښانول.

الله پاک فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ فَنِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ (الحج 77,78)

ژباړه: مؤمنانو! رکوع سجده وکوئ او د خپل پالونکي رب عبادت وکړئ او د خیر چارې ترسره کړئ څو فلاح ومومئ، د الله په لار کې رښتینی جهاد وکړئ، هغه تاسو غوره کړي یاست، تاسو ته یې په دین کې کړاو ندی ایښی، دا ستاسو د نیکه ابراهیم دین دی، هغه تاسو د مخه مسلمانان نومولي یاست، او په قرآن کې هم، تر څو پیغمبر پر تاسو ګواه وي او تاسو پر نړۍ والو ګواهان وئ. نو لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ، د الله په دین سره راټول سئ، الله ستاسو مولی دی، څومره ښه مولی دی الله، او څومره ښه مرستندوی دی الله!

د دې معنا داده چې قرآنکریم مسلمانان د دې مقصد لپاره د بشریت اولیاء او اوصیاء (چارواکي) مقرر کړي دي، اودهمدې لوړاوسپېڅلي وصایت د ښه خدمت لپاره یې دوي ته پرنړۍ باندې د سیادت او واکمنۍ حق ورکړی دی! هودبشریت وصایت اودنړۍ واکمني اوسیادت دمسلمانانودنده ده نه دغربیانو! هو دا کار د اسلام د مدنیت ده نه د مادي مدنیت!

## د مسلمان وصایت تضحیه او سرښندنه ده، نه امتیاز او استفاده

کله چې الله پاک مسلمانانو ته د بشریت وصایت ورکړ نو روښانه یې کړه چې مسلمانانو د دې وصایت په بدل کې دهغه سترهدف اومقصد لپاره خپل سراومال په الله پلورلی دی، ددوی نفس ته یکې هېڅ هم ندي پاتې، بلکې دهغوی سراومال ددې ستراوسپېڅلي دعوت دبري او د خلکو زړونو ته دهغه د رسولو لپاره وقف دی.

الله پاک فرمايي :
«إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ . .» (۱۱۱ التوبه)

ژباړه: الله پاک له مؤمنانو څخه د جنت په بدل کې د هغوی سر او مال اخستی دی . .

دهمدې لپاره ته ګورې چې مسلمان خپله دنيا داسلام دعوت ته وقف کړې ده څو د تضحيې اوسربښندنې په پايله کې خپل آخرت وګټي. له همدې ځايه به يومسلمان فاتح ديو استاذ او معلم حيثيت درلود اوهغه به دمهربانۍ، زړه خوګي، هدايت او رحمت ټول هغه صفات درلودل چې د يو استاذ او معلم لپاره ښائېدل، ځکه خواسلامي فتوحات دمدنيت،حضارې، هدايت اوعلم فتوحات و، او اوس نو له دې سره دغربي استعمار اوسنۍ پراخي غوښتني پرتله کړئ!

## مسلمانان له دغه هدف څخه په کومه فاصله کې قرارلري؟

ستادې پخپل رب قسم وي چې ايا مسلمانانو د الله کتاب(قرآنکريم) په دغه معنا پيژندلی دی؟ چې په پايله کې يې شخصيتونه لوړشوي، ارواوې يې سپېڅلي سوي، دمادې له غلامۍ څخه ازاد سوي، دنفسي غوښتنو او شهواتو څخه پاک سوي، او له دنيوي وړو او پرېوتو اغراضو څخه پورته سوي او د هغه ذات په لوريې مخه کړې چې ځمکه يې پيداکړې اواسمان يې درولی دی، د الله دکلمې د لوړوالي لپاره شپه او ورځ اخته دي په سر او مال جهاد کوي، دهغه دين خپروي او د هغه دقانون اوشريعت له حريم څخه دفاع کوي؟؟؟

اوکه نه دادی دوی د خپلو شهواتو په بند کې اسيران دي اودنفسي غوښتنو او ناولو هيلو او طمعو بنده ګان دي، ټول هم اوغم يې غوړه مړۍ، لکس موټر، ښايسته جامې، ښکلې ښځه، پسته بستره، ارام خوب، دروغجن مظهر او دشهرت او منصب القاب دي!!!

رضوا بالامانی وابتلوا بحظوظهم وخاضوا بحارالجد دعوی فماابتلوا ([1])

په تشو هيلو او ارزوګانو راضي سول اونورپه خپلومزواوخوندونوکي لمبېږي.

اودجهاداومبارزې په سمندرکي دلامبولاپې وهي خوجامې يې هم ندي لندې سوي!

رسول الله عليه الصلاة والسلام څه رښتياويلي دي:

(تعس عبدالدينار، تعس عبدالدرهم، تعس عبدالقطيفة) رواه البخاري

د دينارو بنده دې هلاک شي! د درهموبنده دې هلاک شي! دلباس بنده دې هلاک شي!

له کومه ځايه چې هدف اوغايه اصل اوبېخ دی اواعمال دهغه فروع اوښاخونه دي اوهمداغايه اوهدف دی چې انسان لارې اومزله ته هڅوي اومتأسفانه چې زمونږ له امت سره موخه اوهدف ګونګ او مبهم دی نوځکه اړين ؤچې موخه، هدف اوغايه روښانه اوتوضيح شي اوزه فکرکوم چې اوس ترډېره بريده شرح اوتوضيح سوه اوپه دې موسره سرخلاص شوچې زموږدنده اورسالت دنړۍ سيادت اومشري اونړۍ وال داسلام سالم اوصالح نظام او د هغه لارښوونو ته رابلل دي چې پرته له هغه دانسانيت سعادت اونېک مرغي متصوره نده.

---

[1]): (بيت دابن الفارض ديو ې قصيدې څخه اخيستل شوی دی)

هرکله چې مسلمانانودغه موخه اوهدف درک کړ او په هغه يې سترګې خښې کړې نو يواځې همدغه موخه اوهدف ددې له پاره بس ده چې دوی د غفلت له خوبه راويښ کړي، خپلې نيمګړتياوې اوخاميانې ورپه ګوته کړي اودبري مختلفې لارې ورته پرانيزي څو يې ژوند نېکمرغه سي، ټولنه يې اباده اوهيلې يې ترسره سي.

له پورته توضيح او روښانتيا وروسته اخوان المسليمن خلکوته له قرآنکريم څخه په الهام اخستو او پوهېدنې سره اعلان کوي چې : «فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ» (ابراهيم ۳۶)

ژباړه: څوک چې (د دغه هدف په لور) زموږ ملګرتيا اوپلوي کوي نودوی زموږله ډلې اوحرکت څخه دي اوکه څوک له موږسره نه ځي نو الله پاکه ته ښنونکی اومهربان يې.

## مونږ خلک څه شي ته رابولو؟

(۲)

د ټولنيز ژوندانه اصلاح

قدرمنه مسلمانه وروره ! مونږ تا د اسلام د ټولنيز ژوندانه اصلاح اوتجديد ته رابولو او داکار به په لاندې اصولو سرته رسوې:

1- الله پاک ته په منسوبېدو وياړه اودعزت احساس کوه ، ځکه ته الله پاک ځان ته منسوب کړی يې، دخپلې دوستۍ او ملګرتوب فضيلت يې در په برخه کړی اوته يی خلکو ته دخپل رسالت درسولو لپاره غوره کړی يې .

2- دهغې دندې اورسالت قدر او قېمت درک کړه چې الله پاک ستاپه غاړه ايښی ، اوهغوسرښندنو او قربانيوته ځان چمتو کړه کومې چې پدې هکله له تا څخه مطلوبې دي .

3- هغه دنيوي اثر او اخروي جزا اوبدله ښه وسنجوه کومه چې ستا لخوا ستا د دندې اورسالت په سرته رسولو او يا له هغه څخه په ناسته اودهغه لپاره له جهاد اوسرښندنوڅخه په لاس اخيستو مرتبيږي.

4- بايد پوه شې چې د دې رسالت دسرته رسولو دتاداو تيګه داسلامي امت دنفسونو اصلاح اودهغو دافکارو او اخلاقو تجديد ده ځکه دمسلمانانو اوسني فکرونه او اخلاق د دغسې جدی کار لپاره ندي جوړ.

5- پدې عقيده ولړه چې هر مسلمان ستا ورور دی، دهغه په درد دردمن او په خوښۍ يې خوښ سه، اودځمکې هره لوېشت برخه چې هلته يکښې مسلمان د (لااله الا الله محمد رسول الله) کلمه

وايي هغه دالله پاک حريم وګڼه کوم چې په هر مسلمان فرض دی څې دهغه ساتنه وکړي، له هغه دفاع وکړي اودهغه داوسېدونکو دسوکالۍ لپاره کاروکړي.

6- پدی عقیده ولره څې په نړۍ کې هر نظام چې په اسلامي اصولو اوقرآني بنستونو ولاړنه وي هغه په هيڅ صورت کې ديو نوي نهضت او پرمختګ صلاحيت نلري.

7- ستا زړه به دبري او کاميابۍ له هيلو ډک وي ، ناهيلي دمسلمان خوی ندی ، اوهمدا وياړ اوشرف دې بس دی چې دخپل امت دخير اوهوسايني په جهاد کې خپل ژوند قربان کړې.

## زمونږ د دې هدف مصدر اومر جع

داهغه ستر هدف دی چې اخوان المسلمين غواړي خلکو ته يې ورسوي، اوله خلکو غواړي چې هغه په ربښتيني معنا و پيژني اودرک يې کړي او دهغه دتحقق لپاره په هوډ اوجديت سره متې بډ وهي. خو ياد ساتئ چې دغه هدف داخوان المسلمين لخوا کوم له ځانه جوړسوی بدعت ندی بلکه داهغه رسالت دی چې دقرآن کريم له هر آيت اودرسول الله صلى الله عليه وسلم له هر حديث څخه په ډاګه څرګنديږي اوداسلام دلومړني نسل (صحابه کرامو) هر عمل پرې شاهد دی څوک چې داسلام دصحيح فهم او صحيح تطبيق بېلګې اونمونې دي.

نو که مسلمانانو دغه رسالت راسره ومانه نو دا دصحيح ايمان او بشپړ اسلام نښه ده، او که يې پدې هکله حرج اوزړه تنګيا احساسوله نو دالله کتاب زمونږ اود دوی ترمنځ عادل حکم او غوڅه پرېکړه ده، يابه زمونږه خبره حقه ثابته کړي اويا هم ددوی!{رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ} [الأعراف:89] (زمونږه ربه! زمونږ او زمونږ د قوم ترمينځ حقه پرېکړه وکړه، ته غوره پرېکړه کوونکی يې).

## که خلک داخواني ځوانانو له حاله خبر سوي وای!

يو شمېر ورونه پوښتني کوي، هغوی چې په ټول زړه ورسره مينه لرو او د دوی دخير ښېګڼې اودنيوي او اخروي ګټولپاره مو خپلې هلې ځلې، مالونه اوخپل روحونه وقف کړي دي. او دمسلمانو ورونو او اسلامی امت دسعادت اونېکمرغۍ دهدف لپاره له خپلو مالونو او ځانونو لرې سوي او له خپلو ښځو او اولادونو څخه بې پرواسوي يو.

ځما ځومره هيله ده چې دغه ورونه داخواني ځوانانو له حاله خبر سوي وای .هغوی چې خلک دشپې ويده وي دوی شپې رڼوي. خلک بې غمه او بې پروا خوبونه کوي او دوی خپلو نفسونو او ځانو نو اصلاح مصروف کړي وي، هغوی چې له خپلو رسمي کارونو وروسته له مازيګرڅخه تر نيمې شپې پورې اخته دي زحمت باسي او کار کوي، او په جدي توګه د دعوت لپاره سوچونه او فکرونه کوي. ټوله مياشت يې همدا کاروي او چې د مياشتې په پای کې معاش واخلي ټول جماعت ته ور کړي، خپل لګښت په دعوت ولګوي او خپل مال له خپل هدف څخه قربان کړي.پداسې حال کې چې د حال په ژبه خپل د ده له قربانۍ څخه نا خبره قوم ته وايې:

«وَيَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ» (29) سورة هود

(زما قومه! له تاسو نه پدې دعوت باندې مال نه غواړم، زما بدله یوازې په الله پاک باندې ده . . )

الله ته پناه وروړو لدې چې خپل امت باندې احسان بار کړو ، مونږ لدوی څخه او د دوی په خدمت کی یو، په خپلو قربانیو سره یواځې غواړو څو زمونږ قوم زمونږ دعوت درک کړي اوزمونږ غږ ته ځواب ووایي .

## د اخوان المسلمین هدف

دغه ګران او خواږه ورونه چې اخوان المسلمین له لرې څخه ګوري او ځاري سره پوښتنې کوي : اخوان د څه شي لپاره کار کوي ؟ ددوی مقصد څه شی دی ؟ دوی دکوم هدف په لور روان دي ؟ دغه ورونه دې ښه پوه شي چې اخوان المسلمین داسلامي امت د ولاړېدو، پرمختګ او ترقۍ لپاره کار کوي او پدغو ستونزمنو او سختو ظروفو او حالاتو کې غواړي دنفسونو داصلاح، تزکیې او پاکۍ پر اساس دامت ژوندانه ته تغییر ور کړې او یو مثبت بدلون راولي. خپل اصول او مبادئ یې بیان کړي دي او خپل هدف او مقصد یې اعلان کړی دی. هو څو ک چې غواړي د اخوان د هدف په هکله ځان ډاډمن کړي اود دوی له ټولو فعالیتونو څخه خبر شي نو د اخوان المسلمین دروازه یې په دواړو پټو پر مخ خلاصه ده او اخترخو پټ مېږه ندی!

## مال او پیسې له کومه کیږي؟

یوه بله ډله خلک سره پوښتنه کوي چې اخوان المسلمین لګښت له کومه ځایه کوي؟ پدی سختو او تنګو شرایطو کې چې څوک لا یوه روپۍ چاته نه ور کوي د اخوان دعوت دومره وغوړېد او پر مخ ولاړ د دې لپاره مال او پیسې له کومې خواسوې؟!

زه دوی ته وایم چې دیني دعوتونه له مال اومتاع څخه وړاندې پر ایمان او عقیدې باندې ولاړ دي ،اوچې کله هم دصحیح ایمان او سالمې عقیدې ښتن مؤمن پیدا سو نو دبري او کامیابۍ ټول وسایل ورسره رامنځ ته کیږي.

داخوان المسلمین دغړو پدي لږو او متواضعو پیسو کې چې له خپل لګښت یې سپموي ، له خپلو ضروري اړتیاوو یې جلا کوي، او دخپل اهل او عیال دخولې مړۍ ورسره نیموي، په پاک نفس، ډاډه زړه په مینې او لېوالتیا یې دالله په لار کی لګوي. هر یو یې هیله لري چې کاش ډېر مال او دولت یې لرلی څوبې په دعوت کې لګولی وای ، او ځېنې یې چې څه په لاس کې ونه مومي نو ( . . تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ (92) سورة التوبة. (ببرته ستنیږي پداسې حال کې چې له سترګویې اوښکې فوارې وهي، لدې غمه چې څه نه مومي چې په جهاد کې یې ولګوي).

هو داخوان دغړو په دغه لږ شان مال او د دوی په لوی او ستر ایمان کې ( . . لَبَلَاغًا لِقَوْمٍ عَابِدِينَ (106) سورة الانبياء. (د عبادت کوونکي قوم لپاره خبرتیا ده). لوستونکو ته کافی ځواب او ددی دعوت د ربښتینو کار کوونکو دبری لپاره ضامن دي. یقینا هغه الله چې په واک کې یې هر څه دي هغه داخوان دغړو په یوې رو پې کې دومره برکت ږدې چه په سلګونو کې هومره نشته :

{يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ} [البقرة:276](الله پاک سود اوربا له مینځه وړي او صدقات ښېرازه کوي).

{وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ} [الروم:39](او تاسو څې د الله پاک د رضا په خاطر کوم زکات ورکوئ نو د دغسې خلکو بدلي څو ځله زیاتیږي).

## مونږ اوسیاست

یوه بله ډله خلک وایي اخوان المسلمین یو سیاسي ګوند دی دعوت یې سیاسي دعوت دی او د دې دعوت تر شایي نور هدفونه دي!

زه نه پوهیږم تر څو به زمونږ امت یو بل تورنوي، پریو بل به ډول ډول ګمانونه کوي، پر یوبل به نومونه او القاب ږدي او حق اوحقیقت به چې واقعیت ورسره ملګری دي دشکونو په اساس پربېږدي؟

زمونږ دلایل : مونږ پداسي حال کې پرتاسو غږ کووڅې قران مو په ښي لاس کې دی، دپیغمبر سنت مو په کیڼ لاس کې او د دې امت دسلفو صالحو عمل او کړنې مو قدوه او مقتدا دي پرتاسو غږ کوو او تاسو اسلام او دهغه لاربښوونو اواحکاموته رابولو که دېته تاسو سیاست وایئ نو بالکل دازمونږه سیاست دی او که هغه څوک چې تاسو دغو اصولو او مبا دئوته رابولي هغه سیاسي شخص اوسي نو الحمد لله مونږ له هر چا څخه په سیاست کې ژور خلک یو نو که تاسو غواړی دېته سیاست ووایي ، پداسی حال کې چې داسیاست ندي نو څه مو چې خوښه یې ویې وایې چې کله هدف او مقصد روښانه وي نو مونږ ته بیا نومونه مهم ندي.

## زمونږ اولسه!

الفاظ او نومونه دي له تاسو څخه اهداف او مقاصد پټ نکړي او نه دې رنګ او عرض له تاسو څخه جوهر او حقیقت پنا کړي. اسلام داسي سیاست لري چې په هغه کې د دنیا سعادت او دآخرت نېکمرغي نعښتلې ده او همدا داسلام سیاست زمونږ سیاست دی.

بل بدیل نلرو او په بل دین قناعت اورضایت نلرو، په دغه دین او دهغه پر سیاست باندې خپل ځانونه هم وروزئ او نورو ته یې هم وروښیئ څو ددنیا برې اودآخرت نېکمرغي در په برخه شي

(وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ (88)سورة ص) تاسو به ارو مرو يو وخت ددې خبرې په حقانيت باندې پوه شئ.

زه هيله مند يم چه ما به په لومړئ برخه کې تاسو ته داسلام د عام هدف په هکله خبره روښانه کړي وي او پدې دوهمه برخه کې مې هغه اصول او مبادئ توضيح کړې وي چې نوموړی عام هدف يې راکوي. هيله لرم الله پاک توفيق راکړي څې په راتلونکو برخو کې دهر اصل اومبدأ په اړه جلا جلا خبره وکړم.

«. . وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ . .» (8) سورة المنافقون

عزت او قدرت ټول الله پاک ، پيغمبر او مؤمنانو لره دی.

## مونږ خلک څه شي ته رابولو؟

## (۳)

الله پاک د مؤمنانو دوست او ملګری دی

{اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا} [البقرة:257]

زمونږ قوميت او د هغه بنسټ

زما مسلمانه وروره راځه چې سره يو ځای د ستر الله پاک له عزت نه ډک غږ ته غوږ شو چې له کومې ورځې چې جبريل امين زمونږ نړئ ته رارسولی تر لا نهايته او بې پايه پورې د اسمان له لوړو د ځمکي تر تله انګازې کوي او واړو اسمانونو ، ځمکې، او د ځمکې مخلوقاتو ورته غوږ ايښتلی، هغه غږ ته چې هر ايمان والا ته د عزت، شرف او وياړ لوړ مفاهيم ورکوي. هغه غږ چې الله پاک ورته خلود او تلپاتې توب ليکلی: اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا . .

هو، هو ورور جانه دا ستا د پالونکي رب غږ ده، نو لبيک زما ربه لبيک! ثنا او ستاينې ټولې ستا دي، حمد او شکر د تا دی، مونږ ستا د شان وړ ثنا ستاينې څخه پاتې راغلي يو!

په رينيتيا چې همدا ته د مؤمنانو دوست او ملګری يې، او همدا ته د اسلام د داعيانو او خادمانو ملاتړ او مرستندوی يې او د هغو مظلومانو ننګه او دفاع کوې چې په خپلو کورو کې پرې جګړې وشوې، او له خپل کلي او وطن څخه ووېستل شول.

هغه برلاسی او عزتمن دی چې تا ته پنا دروړي، او هغه بريالی او بريمن دی چې ستا حريم ته د ننګې او ملاتړ چيغه دروړي او پر تا وژاړي!

{وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ} [الحج:40]

ژباړه: الله به ارومروله هغو کسانو سره مرسته وکړي چې هغه دالله مرسته وکړی ، الله ډير زورور او برلاسی دی.

هو وروره راځه د قرآن نارو ته غوږ شو، د ستر الله له آيتونو څخه خوند او لذت واخلو او د هغو په تلاوت سره د دې ستر عزت او شرف جمال او جلال د دې ستر کتاب په سپيڅلو پاڼو باندې انځور کړو!

راشه راشه وروره د الله پاک آيتونو ته غوږ شو:

1- {اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ} [البقرة:257]

ژباړه: کوم خلك چې ايمان راوړي د هغو ملاتړ او مرستندوی الله دی او هغوی له تړږمېو نه رڼا ته راباسي .

2- {بَلِ اللَّهُ مَوْلَاكُمْ وَهُوَ خَيْرُ النَّاصِرِينَ} [آل عمران:150]

ژباړه: (د هغو خبرې غلطې دي ) حقيقت دا دی چې الله ستاسې ملاتړ اومرستندوی دی او هغه ډير ښه مددګار دی.

3- {إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ} [المائدة:55]

ژباړه: ستاسې ملګري خو په حقيقت کښې يوازې الله او د الله پېغمبر او هغه مؤمنان دي چې لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله په وړاندې سرټيټوونکي دي.

4- {إِنَّ وَلِيِّيَ اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَابَ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ} [الأعراف:196]

ژباړه: زما ملاتړ او مرستندوی هغه خدای دی چې هغه داکتاب نازل کړيدی او هغه د ښو خلکو ملاتړ کوي.

5- {قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ} [التوبة:51]

ژباړه: دوی ته ووايه " مونږ ته هيڅکله څه ( ضرر يانښېګڼه ) نه رسيږي مګر هغه چې الله راته ليکلي دي، هماغه الله زمونږ مولادی ، او مؤمنان بايد په هماغه توکل وکړي."

6- {أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (62) الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ} [يونس:62، 63]

ژباړه: واورئ ! څوك چې د الله دوستان دي، پر هغو كومه وېره او كړاوْ نشته. هغوی چې ايمان يې راوړيدی او د تقوی كړنلاره يې غوره كړيده.

7- {ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَى لَهُمْ} [محمد:11]

ژباړه: داد دې لپاره چې دمؤمنانو ملاتړ او مرستندوی الله دی او د كافرانو هيڅ ملاتړ او مرستندوی نشته .

ته نه ګورې چې ستر الله په دغو آيتونو كې تا خپل ګڼي او ځان ته دې منسوبوي، د خپلې دوستۍ فضيلت در كوي او د خپل عزت فيض او بركت در باندې وروي:

{وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ} [المنافقون:8]

ژباړه: عزت خو ټول يوازې الله پاک، د هغه پيغمبر او او مؤمنانو لره ده ، خو منافقان هيڅ نه پوهيږي.

په مبارک حديث کې چې امام طبراني په المعجم الكبير كې له ابوهريره (رض) څخ روايت كړی راځي:

«إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَمَرَ اللَّهُ مُنَادِيًا، فَنَادَى: إِنِّي جَعَلْتُ نَسَبًا، وَجَعَلْتُمْ نَسَبًا، فَجَعَلْتُ أَكْرَمَكُمْ أَتْقَاكُمْ، فَأَبَيْتُمْ إِلا أَنْ تَقُولُوا: فُلانُ بن فُلانٍ خَيْرٌ مِنْ فُلانِ بن فُلانٍ، فَأَنَا الْيَوْمَ رَافِعٌ نَسَبِي، وَأَضَعُ نَسَبَكُمْ ¸ أَيْنَ الْمُتَّقُونَ»

ژباړه: چې د قيامت ورځ شي نو الله پاک به يو اواز كوونكي ته امر وكړي او هغه به غږ كړي: د آدم كهوله! ماهم درته نسب ايښی و او تاسو هم ځان ته نسب ايښی و. ما ستاسو عزتمن هغه څوک ګرځولی و چې په تاسو كې تر ټولو زيات متقي و: ان اكرمكم عندالله اتقاكم. (په تاسو كې د الله په وړاندې غوره او عزتمن متقي او پرهيز ګار دی). خو تاسو نه منله پرته لدې چې ووايئ: فلانی د فلاني زوی له فلاني د فلاني له زويه غوره دی . نو نن به خپل نسب لوړوم او ستاسو نسب به غورځوم! متقيان چيرې دي؟

له همدې كبله د سلفو صالحو فضيلت دا و چې خپل نسب يې الله پورې تاړه او د خپلو اړيكو او اعمالو اساس او محور يې د همدغه لوړ نسبت ثبوت او تحقق ګرځولی و، چې يو بل ته به يې ويل:

لا تدعنى إلا بيا عبده *** إنـه أشـرف أسمــائى

ما پرته له عبده – د هغه بنده- څخه په بل څه مه بله، همدا زما تر ټولو لوړ او شريف نوم دی.

أبی الإسلام لا أب لی سواه *** إذا فتــخروا بقـيس أوتمـيم

زه د اسلام بچی یم بل پلار نه لرم که خلک پر قيس وياړي او که پر تميم!

## تر دې پورته او لوړ عزت نو ر نشته

عزتمنه وروره! خلک خو ځکه پر خپلو نسبونو وياړي چې دخپل پلار نيکه له وياړونو او کار نامو سره ځان وتړي او خوند ترې واخلي او دغه وياړ او شرف د خپل کهول او اولادې په ارواوو او نفسونو کې ور ګډ کړي، لدې هاخوا بل مقصد نه لري. اوس نو وګوره چې له الله پاک سره ستا په نسب او نسبت کې د شرف مجد او عظمت هغه لوړ مفاهيم نشته چې خلک يې هيلي کوي او ارمانونه! {فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا} [النساء:139] نو عزت خو ټول د الله پاک دی.او آيا دغه نسب او نسبت ستا نفس او اروا لوړ عليين ته نه پورته کوي؟ او له دعوتګرو سره د پورته کېدو او کار کولو روحيه نه در کوي.

لدې لوړ شرف او لدې پورته فضيلت چېرې دی چې ته خپل ځان رباني (الله والا) وومې، له الله سره دې اړيکه وي، او هغه ته منسوب وې؟

الله پاک د يوې خبرې څه ښه ويلی دي: {وَلَكِنْ كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ} [آل عمران:79]

ژباړه: هغه به همدا ورته ووايي چې خدای پالونکي شئ لکه څنګه چې ددې کتاب غوښتنه ده چې تاسي د هغه زده کړه او ښوونه کوئ.

## د ځواک ستره سرچينه

الله پاک ته په نسبت کې يوه بله معنا هم پرته ده چې يوازې هغه څوک يې درک کوي چې پدې نسبت کې ژور فکر وکړي، هاغه له ايمان څخه عام فيض او هاغه په بري باندې باور، هاغه چې زړه او سينه دې له ډاډ او اطمينان څخه ډکوي چې بيا له ټولو خلکو څخه نه وېرېږې او د ټولې نړۍ پروا نه ساتې، آن که وغواړي ستا عقيدې اصولو او مبادئو ته زيان هم واړوي:

{الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ} [آل عمران:173]

ژباړه: هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وويل چې " ستاسي پر خلاف لويې لښکرې راغونډې شوېدي، له هغو نه ووېرېږئ " ؛ نو ددې په اورېدو يې نور هم ايمان پياوړی شو او هغو ځواب ورکړ

چې زمونږ له پاره خدای کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.

په همدې خاطر به د هغه وړوکي مؤمن ټولګي چې په الله پاک او دهغه په ولایت او نصرت یې پوخ باور درلود یو تن به په مېړانه او زړورتیا د یو ستر مغرور او سر تر پایه په وسلو پټ لښکر مخ ته لکه غر ولاړ و او هېڅ ډول وېره یې ترې نه لرله. ځکه هغه له الله پاک پرته له هیچا څخه نه وېرېده.

هو له دې څخه ستر ځواک او قوت بل څه کېده شي چې کله د یو مؤمن زړه کې د الله پاک د نصرت او غلبې احساسات او ولولې څپې وهي:

{إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ} [آل عمران:160] ژباړه: که الله مو مرستندوی وي نو هېڅ قوت درباندې برلاسه کیدای نه شي.

## زمونږ قومیت نړیوال دی

مونږ د نړۍ وال قومیت څښتنان یو او زمونږه قومیت نړۍ وال نسبت لري. دا چې مونږ الله پاک ته ځان منسوبوو او خلک ټول د الله پاک بولو پدې کې د اجتماعي لوړ والي یو ستر مفهوم پروت دی کوم چې د ولسونو تر منځ ملګرتوب، دوستي او ورورې راولي او هغه تعصب او نشنلزم له منځه وړي کوم چې په انساني ټولنو کې د نفرتونو، ځان غوښتنې او دښمنیو اورونه بلوي. نو دا ښه نده چې نړۍ وال په قوت سره د الله پاک پر بیرغ سره را ټول شي؟

## پرونۍ هیلې د نن کلیانې دي

ډېره موده کیږي چې مسلمانان دغه خبرې اوري، کېدی شي دغه مفهوم ورته تر اوسه پورې ښه روښانه او زړه ته د لوېدو نه وي، او کېدی شي پوښتنه مطرح شي: اخوان المسلمین ولې داسې څه وایي چې هغه کېدونکي ندي او واقعیت نشي موندلی؟ دوی ولې خوبونهویني او په خیال کې الوزي؟

نو زما د ایمان او اسلام ورونو لږ واورئ: نن چې تاسو څه شي ته غیر ممکن، خیال او محال وایئ دا دصحابه کرامو په وړاندې بدیهي، روښانه او په ډېره اسانۍ سره لاسته راتلونکي اهداف و، او تر څو ستاسو دغه نظر او تصور سم نشي نو ستاسو کوښښ، دعوت او جهاد به ثمره ونلري!

هو لومړنیو مسلمانانو څې د لومړي ځل له پاره قرآن واورېد او ویې لوست نو همدغه معنا یې ترې واخیسته کومه چې اوس تاسو ته پرې ټینګار کوم او تاسو ته پرې قناعت درکول غواړم.

زه تاسو ته په پوره صراحت خبره کوم چې د اخوان المسلمین همدغه عقیده ده، په همدغې عقیدې باندې ژوند کوي، همدغه هیلې یې په زړونو کې دي، او په همدغې عقیدې باندې به له دنیا څخه رخصتیږي.نو آیا :

{أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ} [الحديد:16]

ژباړه: ایا ایمان راوړونکو لپاره لاتر اوسه پورې هغه وخت ندی راغلی چې دهغو زړونه دالله له ذکرنه ویلی شي او دهغه د نازل کړي حق په وړاندې سر ښکته کړي او هغوی دهغو خلکو په څېر نشي چې هغو ته مخکښې کتاب ورکړشوی و، بیا چې یوه اوږ ده موده ورباندې تېره شوه نو دهغو زړونه سخت شول او نن له هغونه زیاتره فاسقان شویدي ؟

خوږو ورونو! چې پدې خبره مو سره اتفاق وکړ نو بیا یوه شئ چې الله پاک ته زمونږ او ستاسو منسوبېدل پر مونږ فرضوي چې د هغې دندې او رسالت قدر او قېمت ته پام ور واړوو کوم چې الله پاک زمونږ پر اوږو ایښی ، متې ورته راونغاړو او د هر ډول سرښندنو له پاره ملا وتړو! نو تاسو دې کارته چمتو یاستئ؟؟؟

## مونږ خلک څه شي ته رابولو؟

## (۴)

### څو د پیغمبر وارث او لاروی شې!

**«وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا»**

څو پیغمبر پر تاسو شاهد او ګواه وي.

ګرانه وروره دا هغه رسالت ده چې الله پاک در په غاړه کړی او دهغه د سرته رسولو په لار کې یې د دعوت او جهاد امر درته کړی دی څو د خپل ستر پیغمبر دعوت په رسولو او خپرولو د هغه وارث او لاروی شې، د هغه راوړی شریعت پلی شي او هیڅ ډول فتنه او فساد پاتې نشي. حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ.

### د مسلمان دنده او رسالت

الله پاک د یو رېښتیني مؤمن رسالت او دنده د خپل کلام په یوه مبارک آیت کې خلاصه کړې او بیا یې د قرآن کریم په ګڼو آیتونو کې په مکرره توګه د هغه یادونه کړې ده، الله پاک د (حج) په سورت کې فرمایي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (77) وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ

حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ فَنِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ} [الحج:77، 78]

ژباړه: ای مؤمنانو! رکوع اوسجده وکړئ، دخپل رب بندګي وکړئ او ښې چارې سرته ورسوئ ښايي چې برى درپه برخه شي.

دالله په لارکښې هماغسې جهاد وکړئ لکه څنګه چې د جهاد کولو حق دی . هغه تاسې د خپل کار لپاره غوره کړي يئ او په دين کښې ئې پرتاسې څه تنګي نده راوستې ، ثابت اوسئ د خپل پلار ابراهيم پر ملت، الله مخکښې هم ستاسې نوم ( مسلمان ) ايښی و اوپدې ( قرآن ) کښې هم (ستاسې همدغه نوم دی ) ترڅو چې پيغمبرپرتاسې شاهد وي او تاسې پرخلکو شاهدان اوسِئ نولمونځ قائم کړئ ، زکات ورکړئ اوپه الله پورې ځان مربوط کړئ ، هغه ستاسې مولا دی هغه ډېر غوره مولادی او ډېر غوره مرستندوی.

لکه د سهار روښانه او روڼ لمر ځومره ښکاره، څرګند او صفا غږ دی! او څومره ښايسته، خوږ او زړه راښکونکی غږ دی چې پرته له اجازې غوږونو ته ننوځي او زړونو ته ور کوزيږي!

نو آيا د الله پاک دغه کلام تر دې د مخه مؤمنانو ندی اورېدلی؟ او که اورېدلی يې دی خو زړونو ته يې قلپونه پراته دي نه خبره ورته لوېږي او نه په څه باندې غور کوي؟

الله پاک مؤمنانو ته امر کوي چې رکوع وکړي، سجده وکړي، لمونځ وکړي کوم چې د اسلام ستره نښه، د دين ستنه او د عبادت زړه دی. الله پاک امر کوي چې د يوه الله عبادت وکړي او هېڅوک ورسره شريک او برخوال نکړي، او څومره يې چې توان او وسه وي د خير ښېګڼې چارې سرته ورسوي او له بديو او ناکاره چارو څخه ځان وژغوري، ځکه څوک چې په خير ښېګڼه روږدی شي هغه سره بيا د شر او بدې فکر نه وي، د خير ښېګڼې پيل خو له همدې څخه دی چې شر او بدي پرېږدي. او د دې ټولو په پای کې يې د دوی فلاح، نجات او برى وګرځاوه (لعلکم تفلحون) څومره لنډه او ورسره کافي او شافي خبره!

دغه ده د مسلمان دنده او رسالت چې تر سره يې کړي، که هغه ځانته ګوښی وي او که له ډلې او جماعت سره وي.

## د بشريت حق

بيا الله پا ک دوی ته امر وکړ چې د دې دين په نشرولو او خپرولو سره د الله په لار کې جهاد وکړي، لومړی په دليل او منطق سره دين خپور کړي او که چا د دين د خپرېدو په وړاندې د زور زياتي لار

نیوله نو بیا په توري او وسلې سره.

والناس ان ظلموا البرهان واعتسفوا

فالحرب اجدى على الدنيا من السلم

که خلکو له دلیل او برهان سره ظلم او ناروا پیل کړه نو بیا دوی له پاره سوله نه، جګړه ډېره ښه چاره ده!

## د ځواک په واسطه د حق ساتنه

چا څه ښه ویلي دي: (زور د حق لاسته راوړلو غوره لار ده، خو څومره به لا ښه وي چې زور او حق سره څنګ په څنګ روان وي).

هو د اسلام د خپراوي جهاد که له یوې خوا د اسلام د مقدساتو د ساتنې او حفاظت اړتیا ده له بلې خوا د لمانځه، روژې، زکات . . په څېر یوه مستقله فریضه هم ده چې الله پاک پر مؤمنانو حتمي کړې ده، هغه ته بلنه کوي او پدې هکله د هیچا عذر نه مني تر څو پورې چې په هغه کې د دې کار وسه او توان وي. د الله پاک له ګواښ او تهدید، نصیحت او موعظې څخه ډک دې کلام ته زیر شئ:

{انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ} [التوبة:41]

ژباړه: ووځئ که سپك یئ که درانه، او د الله په لار کښې په خپلو مالونو او په خپلو سرونو سره جهاد وکړئ،داستاسې له پاره ډېره ښه ده که تاسې پوهیږئ.

ور پسې الله پاک پر مؤمنانو باندې د اسلامي دعوت د خپراوي د دې ستر جهاد د فرض کېدو راز او حکمت بیانوي او فرمایي چې په اصل کې الله پاک مؤمنان د خلکو له منځ نه د خپلو بندګانو د ژوند چارو د سنبالښت او کنترول د وصایت او سر پرستۍ له پاره غوره کړي دي څو په ځمکه کې د الله پاک ځای ناستي او خلیفه ګان وي، د خلکو د ژوندني نظام سنبالوونکي او کنترولوونکي وي، د الله د دین او شریعت ساتونکي او امناء وي، او د دین او شریعت په دعوت او خپرولو کې د هغه داستازي محمد صلی الله علیه وسلم وارثان وي.

دین یې ورته اسانه کړی، شریعت یې ورته مضبوط کړی او په هغه کې یې له هر زمان او مکان سره د جوړښت صلاحیت ایښی دی څو په هر وخت او هر ځای کې ټولو نړۍ والو ته یو شان د قبول وړ وي او خپلې هیلې او امیدونه پکې ومومي:

{هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا

لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ} [الحج:78]

ژباړه: هغه تاسي د خپل کار لپاره غوره کړي يئ او په دين کښې ئې پرتاسې څه تنګي نده راوستې ، ثابت اوسئ د خپل پلار ابراهيم پر ملت الله مخکښې هم ستاسې نوم ( مسلمان ) اينسی و اوپدې ( قرآن ) کښې هم (ستاسې همدغه نوم دی ) ترڅو چې پيغمبرپرتاسې شاهد وي او تاسې پرخلکو شاهدان اوسِئ.

دا هغه اجتماعي رسالت دی چې الله پاک مؤمنانو ته پرې امر کړی ځو يو موټی او يو قوت شي او يو منظم او مهربانه لښکر شي چې انسانيت د ضلال او جهالت له تيارو څخه د اسلام د رڼا په لور وخوځوي.

## د شپې پرهېزګاره عبادت کوونکي او د ورځې پر اس سپاره مجاهدين

## (رهبان الليل و فرسان النهار)

الله پاک د مؤمنانو د فردي مکلفيتونو لکه لمونځ، روژه . . او اجتماعي مکلفيتونو لکه دعوت، جهاد . . ترمنځ اړيکه بيان کړې ده چې لومړی د دوهم له پاره مقدمه او وسيله ده،او عقيده خو د دواړو له پاره اساس او بنسټ دی.

بنا پر دې په فردي عبادتونو او مکلفيتونو مشغولتيا چاته د اجتماعي مکلفيتونو د پرېښودو جواز نه ورکوي لکه څرنګه چې اجتماعي فريضې او مکلفيت سره بوختتيا د فردي مکلفيتونو د پرېښود اجازه نه ورکوي.

سبحان الله څومره قوي او دقيقه خبره ده، په رښتيا چې د الله نه ښايسته خبره بله خبره نشته: ومن احسن من الله حديثا؟!

مسلمانانو ! د خپل رب عبادت او د هغه د دين د حاکميت او سر لوړی له پاره دعوت او جهاد ستاسو د ژوندانه دنده او رسالت دی. که مو پوره سرته ورساوه نو بيا به بريالي ياست او که نيمګړی مو سرته ورساوه او يا مو بېخي پرېښود نو د الله پاک دغه آيت ته غوږ شئ:

{أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ (115) فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ} [المؤمنون:115، 116]

ژباړه: ايا تاسې انګېرلې وه چې مونږ تاسې بابېزه پيداکړي ياست او زمونږ لوري ته ستاسې هېڅکله راګرځېدل نشته؟ نولوړ او پورته دی الله، حقيقي پاچا، له هغه پرته بل هېڅ کوم خدای نشته، دعزتمن عرش څښتن دی.

د همدغې معنا په خاطر د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو په اړه – چې د الله په بندګانو

کې تر پیغمبرانو وروسته غوره او صالح سلف و- راغلي چې: (رهبان اللیل و فرسان النهار).(اخرجه الطبرانی فی الکبیر) د شپې زاهدان او عابدان او د ورځې بیا د اسونو پر شا الوتونکي تورزن مجاهدین!

د شپې په زړه کې به یې ګورې چې په خپله مصلی باندې په تهجدو ولاړ ړیره یې په موټي کې نیولې لکه مار چیچلي تاوېږي، غریو نیولی سلګی وهي او ژاړي، له دنیا سره په جنګ دی او ورته وایي: (یا دنیا غری غیری) (اخرجه احمد فی فضایل الصحابة) دنیا: کوم بل څوک تېر باسه! او چې سبا شي او مجاهدینو ته د برید غږ وشي نو بیا یې ګورې چې شین زمری وي، د ننګ او مېړانې پر نیلي سپور وي، لک ښامار پشنیږي او غړمبیږي او د جګړې ډګر ټول له ځان سره لړزوي!

زما ربه د دنیا او د هغې د چارو او د آخرت او دهغه د روحانیت تر منځ څه نا اشنا ورته والی او څه عجیب او غریب تنسیق او تنظیم راغلی؟

په ریښتیا چې دا اسلام دی چې دواړه یې پدې ښکلي او ښایسته بڼه سره یو ځای کړي دي!

## د اصلاح او لاربښوونې فتوحات

صحابه کرام دهمدغې معنا له پاره – چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل لوړ ملګری په لور لاړ- د ځمکې هر لور ته د اسونو پر زینونو ووتل، قران یې په سینو کې و، توره یې په لاسو کې، دلیل او حجت یې د ژبو په څوکو اسانه او روښانه ثبت و، خلک یې له درې خبرو څخه د یوې منلو ته رابلل: اسلام راوړل، اسلامي نظام ته غاړه ایښودل، او په پای کې جګړه. که به چا اسلام راووړ هغه به یې ورور و، په ګټه، تاوان، امتیاز او مسئولیت کې به یو شان او برابر و، که به اسلامي نظام ته تسلیم شول او جزیه به یې ومنله نو د مسلمانانو په عهد او ذمه کې به و، دهغه تړون او عهد به یې رعایتاوه، حقوق به یې ادا کول او ټول شرائط به یې پوره کول. او که به چا په جګړې لاس پورې کړ نو جګړه به یې ورسره وکړه څو پورې به چې الله پرې برلاسي کړل. {وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ} [التوبة:32]

دوی دا کارونه د قدرت، نوم او شهرت له پاره ندي کړي، د هغوی په وړاندې د دې شیانو بې ارزښتي او بې اهمیتي ټولو ته په ډاګه ده. هو د اسلام دین دهغوی له سرونو او فکرونو څخه دغه پرېوتي شیان له منځه وړي و کوم چې نن سبا پرې یو شمېر ولسونه د یو شمېر نورو ولسونو په ځپلو او تباه کولو سره مزې او چړچې کوي.

یو تن به یې خلیفه و، دومره معاش او تنخوا به ورکول کېده څومره چې بل چا ته ورکول کېده، نه به له دوی لوړ او نه به له دوی معتبر و او پرته د ایمان او یقین له جلال او هیبت څخه بل شي نه سره جلا کول!

دا کار د مال او دولت تر لاسه کولو له پاره هم نه و، د هغوی به یوه څپک ډوډۍ بس وه چې لوږه یې

مړه کړي او يو غوړپ اوبه يې بس وې چې خپله تنده پرې ماته کړي، روژه ورته خوړ عبادت و، لوږه يې له مړښت نه زياته خوښوله، د لباس برخه يې همدومره وه چې خپل عورت پرې پټ کړي . . او قرآن به يې ورته ويلې:

{وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ} [محمد:12]

ژباړه: او کافران فقط د دنيا د څو ورځني ژوندانه خوندونه اخلي ، دڅارويو په شان خوراك څښاك کوي او دهغو وروستی استوګنځی دوزخ دئ.

او پيغمبر به يې ورته ويلې:

«تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَالدِّرْهَمِ وَالْقَطِيفَةِ».2 هلاک د شي د دينارو بنده ، د دراهمو بنده، او د لباس بنده.

بنا پر دې هغوی له کلي کور څخه د مال دولت، جاه او سلطنت، او ښکيلاک او نيواک له پاره نه و وتي. بلکې هغوی خپل ځانګړی رسالت تر سره کاوه، د دوی د پيغمبر رسالت، کوم چې دوی ته يې امانت پرېښې و او د هغه د پر ځای کولو له پاره يې د جهاد او سر ښندنې امر ورته کړی و:

{حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ} [الأنفال:39]

ژباړه: څو فتنه پاتې نشي او دين او نظام ټول د الله پاک شي.

## هاغه وخت رارسېدلی چې يو له بله سره پوه شو

تېرو مسلمانانو له پخوا څخه خپل رسالت پېژندلی و، شپه او ورځ يې کار کاوه او د هغوی ايمان د هغه له پاره هر ډول سربښندنې او قربانی ته هڅول. نن سبا مسلمانان د خپل رسالت په پېژندلو کې سره مختلف او يوه خوله نه دي، هغو له خپل رسالت څخه د ناستې او غفلت له پاره له تاويلونو څخه ښه نکته جوړه کړې ده، ځنې وايي: د کار او جهاد وختونه تللي دي! ځنې به دې همت درمات کړي او وبه وايي: د مسلمانانو لاسونه تړلي دي او هېڅ شی په لاس کې نلري. ځنې بيا سبا او بېګا کې د ژبې د سر څه اورادو او اذکارو او په څو رکعته عبادت باندې -چې د زړه له پاسه يې کوي -قانع دي او هغه هر څه ګڼي.

نه، نه،مسلمانانو ورونو! قرآن کريم ستاسو په منځ کې دی او در باندې غږ کوي چې:

{إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ} [الحجرات:15]

---

2- صحيح البخاری: بَاب مَا يُتَّقَى مِنْ فِتْنَةِ الْمَالِ.

ژباړه: په حقيقت کښې خو مؤمنان هغه دی چې پر الله او د هغه پر پيغمبر يې ايمان راووړ بيا هغوی څه شك ونکړ او په خپلو مالونو او سرونو سره يې دالله په لاره کښې جهاد وکړ همغوی ريښتوني خلك دي.

او همداسې سنت، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«إِذَا ضَنَّ النَّاسُ بِالدِّينَارِ وَالدِّرْهَمِ وَتَبَايَعُوا بِالْعِينَةِ وَتَبِعُوا أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَتَرَكُوا الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ أَدْخَلَ اللهُ تعالى عَلَيْهِم ذُلًّا لَا يَرْفَعْهُ عَنْهُمْ حَتَّى يُراجِعُوا دِينَهُمْ». رواه الإمام أحمد فى مسنده، والطبرانى فى الكبير والبيهقى فى شعب الإيمان عن عبدالله بن عمر.

ژباړه: کله چې خلک په دينارو او درهمو بخل وکړي، په (عينه) بيع سوداګري وکړي، او د غويو په لکيو پسې سي او د الله په لار کې جهاد پرېږدي نو الله پاک پرې داسې ذلت را پرې باسي چې څو خپل دين ته ور ونه ګرځي ترې پورته کوي يې نه.

(عينه بيع دې ته وايي چې يو څوک يو مال پر چا په پور وپلوري او بيا يې سمدلاسه له هغه څخه په لږ قيمت په نغدو بېرته وپيري).

او په فقه کې هم، که هغه د فقهې پخواني کتابونه دي او که معاصر، تاسو لولئ چې څه وخت جهاد فرض کفايي وي او څه وخت فرض عين؟ او ښه يې په معنا او حقيقت باندې پوهيږئ. نو بيا دغه عاطل او باطل حالت په څه اساس، او دغه مات ذهنونه او ناهيلي زړونه د څه لپاره؟

مسلمانانو ورونو! دا د تکوين او جوړښت عصر دی، ځانونه جوړ کړئ څو امت جوړ شي!

دغه ستره فريضه او لوړ رسالت له تاسو څخه په ايمان جوړ نفسونه او روغ رمټ زړونه غواړي، نو مو د ايمان د تقويې او زړونو د مضبوطتيا له پاره کار وکړئ.

دغه فريضه له تاسو څخه سرښندنه او مال قربانول غواړي، دېته ځانونه چمتو کړئ، تاسو سره چې څه هم دي فنا کيږي او د الله پاک په وړاندې چې څه دي تلپاتې دي او پای نلري، او الله خو هسې هم له مؤمنانو څخه د دوی نفسونه او مالونه پر سورور جنت باندې پيرلي دي.

که تاسو زما پر خبره باور وکړ بلکې د خپل رب او خپل پيغمبر خبره مو ومنله او د دې ستر رسالت اداء ته مو متې بډ وهلي او دې سپيڅلې دندې پر ځای کېدو ته مو ملا وتړله او ځانونه مو ورته چمتو کړل نو په دنيا کې يې بدله عزت او واکمني ده او په آخرت کې جنت او نيکمرغي. او که مو لدې کاره انکار وکړ او په خپل غفلت او بې تفاوتۍ کې پاتې شوئ نو په دنيا کې به مو بدله ذلت، سپکاوی او له منځه تلل وي او په آخرت کې لمبې وهونکی اور!

وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ (38) سورةمحمد

ژباړه: که تاسي مخ واړوئ نو الله به ستاسي په ځای کوم بل قوم راولي او هغوی به بیا ستاسي په څیرنه وي.

ښايي اوس پوه شوي یاستئ چي مخکي ما وویل چي دهغي دندې او رسالت قدر او قیمت وپیژنئ چي الله پاک تاسو ته پر اوږو کړی دی او خپل ځانونه د هغه لپاره سرښندني او قرباني ته چمتو کړئ.

## مونږ خلک څه شي ته را بولو؟

**(۵)**

### د ځان تغییر د ټولني د تغییر بنسټ

**{إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ} [الرعد:11]**

ژباړه: حقیقت دا دی چي الله د هیڅ قوم حالت نه بدلوي تر څو پوري چي هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي.

په تیرو برخو کي مو د اخوان المسلمین ځني افکار بیان کړل، پدې منځ کي یو لړ مناسبتونه داسي راغلل چي ما باید لوستونکوته د هغو په اړه په خپل وخت کي اورمرو څه ویلي وای، او دادی زه اوس خپلي لومړنۍ موضوع ته ورګرځم څو مو هغه دوستان ښه درک کړي چي لاهم د اخوان المسلمین د فکر په اړه پوښتني کوي که څه هم د اخوان فکر دومره روښانه ده چي د پوښتني ځای پکي نشته.

ما مخکي څرګنده کړه چي اخوان المسلمین غواړي څو مسلمانان الله پاک سره په خپلي اړیکي او نسبت وویاړي، پر هغه له برم نه ډک میراث افتخار وکړي چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې ورته را پریښی دی، هغه د ټول انسانیت د هدایت او لارښوني میراث.

ما ویلي و چي مونږ غواړو څو مسلمانان د دغه ستر میراث ارزښت او عظمت په ریښتیني توګه درک کړي، هغه دنده او رسالت وپیژني چي د هغه پر وړاندې د دوی د هر یوه پر اوږو پروت دی، او هغه اثر وپیژني چي په دنیا او آخرت کي پر هغه باندې مرتب کیږي، او ما درته هغه رسالت روښانه کړ او هاغه دنیوي او اخروي پایلي مي څرګندې کړې چي د دغه رسالت او دندې په سرته رسولو او عملي کولو او له هغه څخه پر ناسته او لاس په سر کیدو باندې منځ ته راځي.

تر دې ځایه ټول قناعت ته سره ورسیدو او هغه څه مو ومنل او پرې متفق شو چي د اخوان المسلمین له نظره مو وړاندې کړل کوم چي د الله په کتاب او د پیغمبر په سنتو ثابت او دلیل او برهان سره تائید دي.

پدې هکله يواځې دوه ډوله خلک شک کولی شي:

يو هغه چې زړه يې د اسلام په روح سره نه وي خړوب شوی او د الله پاک د کتاب (قرآن کريم) له اهدافو او مقاصدو څخه ناخبره وي او هغه يې نه وي پيژندلي.

دوهم هغه څوک چې دا هر څه يې درک کړي وي خو د ارادې ضعف او د همت ټيټوالي له کار او فعاليت څخه کښېنولی وي.

هو دربېمه ډله هم سته چې مونږ يې هيڅکله خپل خلک نشو ګڼلی کوم چې هغوی سره تګ راتګ لرو او د خولې او زړه خبره مو سره شريکه ده. دوی هغه څوک دي چې غواړي په خپلو پوکيو سره د الله پاک رڼا مړه کړي او الله خو ارومرو خپله رڼا بشپړوي (و يابی الله الا ان يتم نوره).

زه خپل لوستونکي له دې څخه ډېر لوړ ګڼم چې له دې ډلو څخه دې وي او زه پدې باور يم چې چا هم په اخلاص سره دغه معلومات لوستي وي هغه به په بشپړه توګه له مونږ سره اتفاق ولري.

ګرانه لوستونکيه! اوس نو درته په صراحت سره وايم چې زمونږ دغه نفسونه هغه صلاح او وړتيا نلري چې دغه ستر هدف دې تر لاسه کړی شي بلکې پدغه حالت کې خو هيڅ يو لوړ هدف هم نشي ترلاسه کولی!

## له کوم ځايه پيل وکړو؟

واقعيت دادی چې امتونه جوړول، ولسونه روزل، اهداف لاسته راوړل او هيلو ته رسېدل او د اصولو او مبادئو احترام او لوړاوی له هر څه نه مخکې هغه ولس څخه چې ددې هڅه کوي ا و لږ تر لږه له هغه جماعت څخه چې د دغه ستر رسالت داعيه او بلنه پر غاړه لري يو ستر روحي او معنوي ځواک غواړي چې لاندې ټکي له ځانه سره ولري:

غښتلې او نه ستړې کيدونکې اراده، ننګه او وفاچې هيڅ ډول جفا او خيانت ونلري، بې دريغه سرښندنه او قرباني چې نه يې کومه دنيوي طمع په مخ کې خنډ شي او نه هم کوم ډول بخل. او د اصولو او مبادئو ژور فهم، پر هغو پوخ باور او د هغو بشپړ درناوی او احترام چې د هغو په اړه د هر ډول خطا، انحراف، معاملې او له هغو پرته پر نورو مبادئو د تېر وتو مخه نيسي.

هو، د انساني نفسونو يواځې پر دغسې ځانګړنو او دغسې ستر روحي او معنوي ځواک باندې اصول او مبادئ جوړيږي، پرمخ تلونکي امتونه روزل کيږي، ځواکمن ولسونه جوړيږي او هغه څوک بيا نوی ژوند ترلاسه کوي چې په مودو مودو ترې بې برخې سوی و.

هر ولس او يا لږ تر لږه د هغه قيادت او په هغه کې د اصلاح حاملين چې دغه څلور ګوني صفات

له لاسه ورکړي نو هغه ولس يو لالهانده او بېچاره ولس دی چې نه به کوم خير ته لاره ومومي او نه به کومه خپله هيله ترسهر کړي. او همدايې بس ده چې د خوبونو ، ګومانونو او اوهامو په فضا کې ژوند تېر کړي.

{وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا} [النجم:28] ژباړه: او ګومان د حق پځای هېڅ په کار نشي راتلای .

همدغه د الله په بندګانو کې د هغه قانون او سنت دی:

{إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ} [الرعد:11] ژباړه: حقيقت دا دی چې الله د هېڅ قوم حالت نه بدلوي تر څو پورې چې هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي.

او د الله پاک قانون او دهغه سنت خو بدلون نه مومي: و لن تجد لسنة الله تبديلا.

او همدا هاغه قانون دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ترېنه پدغه صحيح حديث کې تعبير کړی دی:

«يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزَعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمْ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ الْوَهْنَ فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهْنُ قَالَ حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ».3

ژباړه: نژدې ده چې ولسونه در باندې داسې را پرېوزي لکه وږي چې يو بل د خوړو کاسې ته رابولي، يو چا پوښتنه وکړه : په دغه وخت کې به مونږ لږ يو؟ هغه صلی الله عليه وسلم ورته وويل نه، تا سو به ډېر يئ خو د اوبو د ځګ په څېر به ياستئ، د دښمن له سينو څخه به الله پاک ستاسو هيبت لېرې کړي، او ستاسو په زړونو کې به وهن واچوي. نو يوه پوښتنه وکړه: د الله پيغمبره وهن څه شی دی؟ هغه صلی الله عليه وسلم ورته وويل: له دنيا سره مينه او له مرګ څخه وېره.

ته نه ګورې چې هغه صلی الله عليه وسلم د ولسونو د ذلت او خوارۍ لامل د هغوی د زړونو او نفسونو ضعف او کمزورتيا، د لوړو انساني اخلاقو او د مېړاني او نارينتوب صفتونو نشتوالی ښودلی دی که څه هم شمېر يې زيات او مال او شتمني يې پرېمانه وي!

هو کله چې اسلامي امت په مزو او نعمتونو کې اوړي، له هوساينې او عياشۍ سره روږدی شي، د ژوندانه له خوړو او خوندونو سره ملګری شي او په مادي ساز او سامان کې ډوب شي، او سختۍ او

---

3- رواه الامام احمد و ابوداود.

ربړې ګالل هېر کړي، خطرونو سره لاس ګرېوان کېدل او د حق په لار کې جهاد او سربښندنه پرېږدي نو داسې بوله چې پر عزت او هیلو یې خاورې واوښتې!

### د دوو ځواکونو ترمنځ

ډېر خلک ګومان کوي چې اسلامي نړۍ مادي ځواک ته: مال، وسایلو، او جنګي سامان آلاتو ته اړتیا لري ځو راپورته شي او له هغو ځواکونو سره ځان برابر او ترې مخکې شي چې د مسلمانانو حقوق یې ترې سلب کړي دي او د هغوی ځمکې او ملتونه یې هضم کړي دي.

زه وایم د اخبره تر یوه بریده سمه او مهمه ده، خو تر دې هم زیاته مهمه او اړینه هغه روحي او معنوي ځواک دی چې اسلامي نړۍ یې تر لاسه کړي: پاک او سوتره نفسونه، لوړ او عالي اخلاق، خپل حقوق پېژندل او پر هغو باور، جدي او پرېکنده هوډ او تصمیم، د دندو او مسؤلیتونو په لار کې سربښندنه او قرباني، او خپلو موخو او اهدافو ته داسې وفاداري او ننګه چې هم د اسلامي نړۍ باور او اعتماد را ژوندی کړي او هم د صف او کلمې وحدت او یووالی اعاده کړي چې همدا په اصل کې ځواک او قوت رامنځته کوي.

که اسلامي امت خپل حقوق وپېژني او پر هغو باور ولري، په خپلو نفسونو کې بدلون راولي، روحي او معنوي اړخ ته توجه وکړي او خپلو اخلاقو او سلوکو ته پاملرنه وکړي نو باور وکړئ چې د مادي ځواک وسایل به پرې له هر لوري را مات شي. او د تاریخ پاڼو دغه خبره رښتیا کړې ده!

اخوان المسلمین په بشپړه توګه په همدې باندې ایمان لري، د همدې لپاره هغوی ټل دخپلو روحونو په پاکوالي، خپلو نفسونو په تزکیه او تقویه، او خپلو اخلاقو او سلوکو په ښه والي او لوړوالي اخته وي. او په همدې خاطر په ډاګه او څرګنده دې لورته دعوت کوي او له خلکو څخه غواړي چې د دوی اصول او مبادئ ومني او له ټول امت څخه مطالبه کوي څو خپل نفسونه اصلاح او خپل اخلاق او سلوک لوړ او عالي کړي.

دا د اخوان المسلمین کومه نوې او له ځانه جوړه کړې خبره نده بلکه دا د هغو د نورو چارو په څېر د اسلام له ستر قاموس، لوړې مرجع او محکم قانون څخه اخستل شوې ده، د الله له ستر کتاب قرآن کریم څخه. او ما د دې قانون دغه تلپاتې ماده له پخوا اورېدلې ده چې وایي:

{إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ} [الرعد:11] حقیقت دا دی چې الله د هېڅ قوم حالت نه بدلوي تر څو پورې چې هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي.

قرآن کریم دغه مفهوم په خپلو ډېرو آیتونو کې څرګند کړی دی، بلکې د بني اسرائیلو کیسه یې یوه تلپاتې، په ټوله معنا څرګنده او کاملا رښتیني تطبیقي بېلګه او عملي نمونه په لوړ او ښکلي انداز کې بیان

کړې ده چې د هر محروم او ناهیلي ولس لپاره د رغېدو او خلاصون لار رسموي.

## مونږ خلک څه شي ته رابولو؟

**(۶)**

### په قرآن کريم کې د بني اسرائيلو کيسه

### ولسونو ته د ښکيل توب او غلامۍ له مينځ نه د ازادۍ او حريت لار رسموي

**گرانه لوستونکيه!لاندې آيتونه په ښه غور او فکر سره ولوله، داسې افکار او نظريات به دې مخې ته راشي چې په فکر او خيال کې دې هم نه وي در گرځېدلي، بسم الله کړه او دا کار تجربه کړه:**

### ۱ـ د خپلواکۍ سهار

طسم (1) تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ (2) نَتْلُو عَلَيْكَ مِنْ نَبَإِ مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (3) إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ (4) وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ (5) وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ (6) وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ (7) سورة القصص

ژباړه: ط ، س – م، دا دځرگندوونکي کتاب ايتونه دي، مونږ دموسی او فرعون يوڅه حال سم صحيح تاته اوروو، د داسې خلکو دګټې لپاره چې ايمان راوړي. خبره داده چې فرعون په ځمکه کښې سرکشي وکړه او دهغې اوسېدونکي يې په ډلو وويشل.له هغو څخه يوه ډله يې ذليله کوله، دهغو هلکان يې وژل او دهغو نجونې يې ژوندۍ پرېښودلې. په واقع کښې هغه له فساد کوونکو څخه و. او مونږ دا اراده درلودله چې پرهغو خلکو مهرباني وکړو چې په ځمکه کښې ذليل گرځول شوي وو او هغوې رهبران وگرځوو او هماغوې وارثان وگرځوو، او په ځمکه کښې حکومت ورکړو او له هغونه به فرعون او هامان او دهغو لښکرو ته همغه څه وروښيوچې له هغو سره يې وېره وه. مونږ د موسی مورته اشاره وکړه چې ده ته تی ورکړه، بيا کله چې له تاسره دهغه د سرخطروي نو هغه په سيند کښې وغورځوه او هېڅ وېره او انديښنه مه کوه مونږ به هغه همدا تاته بېرته راولو او هغه به د پيغمبرانو په ټولي کښې شامل کړو .

### ۲ـ د حق چيغه

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا إِنَّا رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ (16) أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ (17) قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ (18) وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ (19) قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ (20) فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ (21) وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ (22)سورة الشعراء

ژباړه: فرعون ته ورشئ او هغه ته ووایاست: مونږ ربُّ العلمین ددې لپاره رالیږلي یو چې ته بنی اسرائیل له مونږ سره تلوته پرېږ. دې فرعون وویل : ایا مونږ ته له ځان سره داولاد په څیر نه وې پاللی ؟ تا د خپل عمر ډیر کلونه له مونږ سره تیر کړل او له هغه وروسته دې وکړل څه چې دې وکړل ته خو را بنیکېږه هیروونکی سړی یې . موسی (ع) ځواب ورکړ په هغه وخت کښې ماهغه کار په ناپوهی سره کړی و، بیا زه ستاسي له ویرې نه وتښتیدم له هغه وروسته زما رب ماته حکم راکړ او زه یې په پیغمبرانو کښې شامل کړم، پاتی شوه ستا ښیګڼه چې تاله ماسره کړیده نو دهغې حقیقت دادی چې تا بنی اسرائیل خپل غلامان ګرځولي وو.

۳- د حق او باطل جګړه

وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَى وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَنَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ (127) قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ (128) قَالُوا أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا قَالَ عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ (129)سورة الاعراف

ژباړه: فرعون ته دهغه د قوم مشرانو وویل:ایا ته موسی (ع) او د هغه قوم همداسي پريږدې چې په هیواد کښې فساد خپور کړي او ستا او ستا د خدایانو بندګي پريږدي؟" فرعون ځواب ورکړ " زه به د هغو زامن ووژنم او د هغو ښځې به ژوندی پريږدم . او مونږ پر هغو د قوت برلاسي لرو. موسی (ع) خپل قوم ته وویل" له الله نه مرسته وغواړئ او زغم ولرئ ځمکه د الله ده ، له خپلو بندګانو څخه یې چې چاته خوښه شي د هغې وارث یې ګرځوي، او وروستی کامیابي د همغو له پاره ده چې له هغه څخه په وېرېدو کار کوي"

د هغه د قوم خلکو وویل " ستا له راتګ نه مخکښې هم مونږ ځورول کېدو او اوس ستا په راتګ هم ځورول کيږو " هغه ځواب ورکړ" نژدې دی هغه وخت چې ستاسې رب ستاسې دښمنان هلاك کړي او تاسې ته په ځمکه کښې خلافت درکړي بیا وګوري چې تاسې څنګه عمل کوئ.

## ۴- د الله د لارې د مجاهدینو د ایمان بېلګه

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَى (70) قَالَ آمَنْتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَى (71) قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا (72) إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى (73) سورة طه

ژباړه: په پای کښې همداسي وشول چې ټول کوډګران په سجده پرېوتل او غږیې وکړ :مونږ د هارون او موسی رب ومانه. فرعون وویل: تاسي ایمان راووړ مخکښې له دېنه چې ما درته اجازه درکړې وي؟ ښکاره شوه چې دی ستاسې لارښود دی چې تاسې ته یې کوډګري ښوولې وه ښه نو، اوس به زه ستاسې لاسونه او پښې ردو بدل پريکړم او د خرماو په ونو کښې به مو په دار وځړوم. بیا به تاسې ته څرګنده

شي چې له مونږ. دواړونه د چا عذاب ډېر سخت او پایښت لرونکی دی، (یعنې زه تاسې ته ډېره سخته سزا درکولای شم که موسی)
کوډګرو ځواب ورکړ: قسم په هغه ذات چې مونږ. یې پیداکړي یو دا هیڅکله نشي کیدای چې مونږ. د روښانه نښانو له راتګ نه وروسته هم (په رینښتینولۍ باندې) تاته ترجیح درکړو ستا چې څه خوښه وي هغه وکړه، ته خو ایله بیله د همدې دنیا د ژوند فیصله کولای شې. مونږ. خو په خپل رب ایمان راوړ، تر څو زمونږ. خطاوې راوبښي او له دغې کوډګرۍ نه، چې تاورباندې مجبور کړي وو راتېرشي الله ډېر غوره او همغه باقي پاتې کېدونکی دی.

## ۵- د ایمان بدله

وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا لَا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَى (77) فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ فَغَشِيَهُمْ مِنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ (78) وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ وَمَا هَدَى (79) يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ أَنْجَيْنَاكُمْ مِنْ عَدُوِّكُمْ وَوَاعَدْنَاكُمْ جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى (80)سورة طه

ژباړه: مونږ.موسی (ع)ته وحی وکړه چې اوس شپې د شپې زما بندګان درسره واخله ځه، او دهغو له پاره سمندر کښې وچ سړك جوړ کړه ، ته د چا له شا درپسې تلونه هېڅ وېره مکوه او مه (د سمندر په مینځ کښې په تېرېدو) ډاریږه.
له شانه فرعون له خپل لښکر سره را ورسېده او بیا سمندر پرې داسې خور شو لکه څنګه یې چې د خوربېدو حق و، فرعون خپل قوم ګمراه کړی وء ، کومه سمه لاربښوونه یې نه وه کړې.
ای بنی اسرائیلو، مونږ. تاسې ته ستاسې له دښمن نه نجات درکړ، او د طور په ښی اړخ کښې مو ستاسې د حاضرېدو له پاره وخت وټاکه او پر تاسې مو، من او سلوا نازل کړل.

## ۶- د ولسونو د روحي او نفسي پاکوالي بېلګه څو پورې د جهاد او مبارزې جوګه شي

**يَا** قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ (21) قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا حَتَّى يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ (22) قَالَ رَجُلَانِ مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (23) قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ (24) قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِي وَأَخِي فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ (25) قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتِيهُونَ فِي الْأَرْضِ فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ (26)سورة المائده

ژباړه: ای قومه ! هغه سپېڅلي ځمکې ته ننوځئ چې الله ستاسې له پاره لیکلي ده ، پر شا مه اوړئ که نه نو ناکام او نامراده به وګرځئ".هغوی په ځواب کښې وویل" ای موسی ! هلته خو ډېر زورور خلك اوسیږي، مونږ. به هېڅکله هلته لاړ نه شو تر څو هغوی له هغه ځایه ونه وځي. هوکه هغوی ووتل نومونږ. به دور ننوتلو له پاره چمتو یو". په هغو وېرېدونکو کښې دوه تنه داسې هم وو چې پر هغو الله خپل نعمت پیرزو کړی ؤ هغوی وویل چې " ددې جبارانو د مقابلې له پاره له دروازې نه دننه ورشئ ، کله چې تاسې دننه ورسیږئ نو تاسې به برلاسي یاست. پر الله ډاډه اوسئ که تاسې مؤمنان یئ. خو هغوی

بیا همدا وویل چي" ای موسی ! مونږ به هلته هېڅکله ورنه شو تر څو چي هغوی هلته وي. ته او ستا رب دواړه لاړ شئ او وجنګېږئ مونږ دلته ناست یو ". موسی وویل " ای زما پروردګاره! زما په واك کښي هېڅ نشته بې زما له خپله ځانه او زما له ورور نه، نو ته مونږ له دغو سرکشانو څخه بېل کړه " الله ځواب ورکړ" ښه نو هغه هېواد تر څلويښتو کلونو پورې پر دوی حرام دی ، دوی به په ځمکه کښي لا لهانده سر ګردانه وګرځي ، ددې سرکشانو پر حالت اندېښمن کېږه مه ".

## ۷- بقا او برى د حق او خپلواکی دی.

وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ (137) سورة الاعراف

ژباړه: او د هغوی په ځای مونږ هغه خلك چي کمزوري کړای شوي وو د هغي ځمکي د ختیځ او لویدیځ وارثان وګرځول چي مونږ هغه له برکتونو څخه پوره اباده او معموره کړې وه. په دې توګه د بني اسرائیلو په حق کښي ستا د رب د ښېګڼي وعده تر سره شوه ځکه چي هغوی هم له زغم نه کار اخیستی وْ او د فرعون او د هغه د قوم هغه هرڅه تباه کړی شول چي هغوی ودانول او لوړول.

ګرانه لوستونکیه! که په آیتونو پوه شوی وې او دهغو مقصد دې درک کړی وي نو ته به دې اوس ځان د یوې ښایسته کیسي په وړاندې ګورې چي په ښکلي عبارت، لوړ تعبیر او روښانه بیان سره انځوروي چي د حق او باطل، ازادۍ او استعمار ترمنځ جګړه څه ډول وي؟ او داچي پای او بریا څرنګه د حق او ازادۍ په لوري وي؟

## د رغېدونکي ولس کیسه

## ۱- ضعف او کمزورتیا:

د آیتونو په لومړۍ مجموعه کي ځان د یو طاغوت، دیکتاتور او مستبد پادشاه په وړاندې وینې چي د الله بندګان ځپي، کمزوري کوي یې او خپل خادمان، مزدوران او غلامان ترې جوړوي. بل لوري ته یو شریف او نجیب ولس دی چي دغه ظالم طاغوت ښکیل کړی او غلام کړی یې دی. او بیا ګورې چي الله پاک دغه شریف مظلوم ولس ته له دوی څخه اخستل سوې ازادي، غصب سوی کرامت او له لاسه تللی برم او مجد بېرته ورګرځوي. او ګورې چي د دوی د ازادۍ د سهار لومړی څرک نړۍ ته د تي خور ماشوم په بڼه کي د دوی د ستر رهبر او عظیم قائد د لمر راختل دي.

نَتْلُو عَلَيْكَ مِنْ نَبَإِ مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (3) إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ (4) وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى

الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ (5) وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ (6) سورة القصص

ژباړه: مونږ دموسی او فرعون یوڅه حال سم صحیح تاته اوروو، د داسې خلکو دګټې لپاره چې ایمان راوړي. خبره داده چې فرعون په ځمکه کښې سرکشي وکړه او دهغې اوسېدونکي يې په ډلو وویشل.له هغو څخه یوه ډله يې ذلیله کوله، دهغو هلکان يې وژل او دهغو نجونې يې ژوندی پرېښودلې. په واقع کښې هغه له فساد کوونکو څخه و. او مونږ دا اراده درلودله چې پر هغو خلکو مهرباني وکړو چې په ځمکه کښې ذلیل ګرځول شوي وو او هغوې رهبران وګرځوو او هماغوې وارثان وګرځوو، او په ځمکه کښې حکومت ورکړو او له هغونه به فرعون او هامان او دهغو لښکرو ته همغه څه وروښیوچې له هغو سره یې وېره وه.

## ۲ـ زعامت او قیادت:

د آیتونو په دوهمه مجموعه کې ته د یو ستر قائد او زعیم په وړاندې يې چې الهي عنایت او پاملرنې روزلی او خپل رشد او پوخوالي ته رسېدلی دی، وروسته له هغه چې د نومړي طاغوت له ظلم او تیري څخه په تنګ شو او له خپل ځان او خپلې ازادۍ سره ترې وتښتېد، هلته چې الله پاک د ځان له پاره جوړکړ، د رسالت درونډ بار يې ور په اوږو کړ او د خپل ولس د نجات او خلاصون چاره يې ور وسپارله. نو پداسې حال کې نوموړي طاغوت ته ورستون شو چې زړه او سینه يې له ایمان او باور څخه ډکه وه، هغه ته مخامخ ورغی ، ورته ودرېد او ترې يې وغوښتل چې د ده خبره ومني، ایمان راوړي او پلوي يې وکړي، ولس ته يې ازادي ورکړي او د هغوی عزت او کرامت ته درناوی وکړي او خوندي يې کړي.

او څومره قوي ګوزار دی چې دغه زعیم يې نوموړي طاغوت ته په خپلو خبرو کې ورکوي کله چې وایي: وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ (22) سورة الشعراء

ژباړه: پاتې شوه ستا ښیګڼه چې تاله ماسره کړېده نو دهغې حقیقت دادی چې تا بنی اسرائیل خپل غلامان ګرځولي وو.

ای مستبد او جابر طاغوته څوک چې د الله بندګان ځوروې! دا کوم احسان او کومه ښېګې ده چې ماته يې یادوې چې زما ولس دې غلام کړی، زما ملت دې توهین کړی او زما قوم دې سپک کړی؟

دا دحق چیغه وه چې دقائد پیغمبر له خولې نه په انګازو شوه او د جابر طاغوت تخت او پادشاهي يې ولړزول: فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا إِنَّا رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ (16) أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ (17) قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ (18) وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ (19) قَالَ

فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ (20) فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ (21) سورة الشعراء

ژباړه: فرعون ته ورشئ او هغه ته ووایاست: مونږ ربُّ العلمین ددې لپاره رالیږلي یو چې ته بنی اسرائیل له مونږ سره تلوته پرېږ دې. فرعون وویل : ایا مونږ ته له ځان سره داولاد په څیر نه وې پاللی؟ تا د خپل عمر ډیر کلونه له مونږ سره تیر کړل، او له هغه وروسته دې وکړل څه چې دې وکړل ته خو را ښیګڼه هیروونکی سړی یې.

موسی علیه السلام ځواب ورکړ: په هغه وخت کښی ماهغه کار په ناپوهی سره کړی و بیا زه ستاسي له ویرې نه وتښتیدم له هغه وروسته زما رب ماته حکم راکړ او زه یې په پیغمبرانو کښې شامل کړم.

## ۳- د حق او باطل ترمنځ جګړه

د ایتونو په دریمه مجموعه کې د باطل قهر او غوصه ګورې چې په حق او د حق په پلویانو باندې را پاریږي، له هغه نه غچ اخلي، پلویان یې تعذیبوي او ملاتړي یې ځپي. او بیا حق او پلویان یې ګورې چې څرنګه د دې ټولو په وړاندې صبر او مقابله کوي، او مشران یې ګورې چې څرنګه خپل صف د طاغوت د دې ناتار په وړاندې په لوړو هیلو او خوږو امیدونو سره ډاډمنوي څو زړه ماتي نشي او خپله لار پرېښږدي:

وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَى وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَنَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ (127) قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ (128)سورة الاعراف

ژباړه: فرعون ته دهغه د قوم مشرانو وویل:ایا ته موسی (ع) او د هغه قوم همداسې پرېږدې چې په هیواد کښې فساد خپور کړي او ستا او ستا د خدایانو بندګي پرېږدي؟" فرعون ځواب ورکړ " زه به د هغو زامن ووژنم او د هغو ښځې به ژوندۍ پرېږدم . او مونږ پر هغو د قوت برلاسي لرو. موسی (ع) خپل قوم ته وویل" له الله نه مرسته وغواړئ او زغم ولرئ ځمکه د الله ده ، له خپلو بندګانو څخه یې چې چاته خوښه شي د هغې وارث یې ګرځوي، او وروستی کامیابي د همغو له پاره ده چې له هغه څخه په وېرېدو کار کوي".

## ۴- ایمان او دهغه بدله

د ایمان خومره لوړه او ښکلې بیلګه ده چې په څلورمه مجموعه کې یې د حق د زعیم او قائد د پلویانو له لوري وینې: بې سارې ثبات او صبر، پر حق باندې ټینګې منګولې او ایمان، او د عقیدې په

لار کې هرڅه قربانول او ښندل، آن خپل ژوند څخه تېرېدل او ډېر لوړ موراِل او عالي روحيي سره طاغوت ننګول او هغه وړوکی او ذليل ګڼل: قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا (72) إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى (73) سورة طه

ژباړه: کوډګرو ځواب ورکړ قسم په هغه ذات چې مونږ يې پيداکړي يو دا هيڅکله نشي کيدای چې مونږ د روښانه نښانو له راتګ نه وروسته هم (په ريښتينولی باندې) تاته ترجيح درکړو ستا چې څه خوښه وي هغه وکړه، ته خو ايله بيله د همدې دنيا د ژوند فيصله کولای شې. مونږ خو په خپل رب ايمان راووړ، تر څو ز مونږ خطاوې راوبښي او له دغې کوډګرۍ نه، چې تاورباندې مجبور کړي وو، راتېرشي الله ډېر غوره او همغه باقي پاتې کېدونکی ذات دی.

## ۵ـ سوبه او بری

د دې ټولو نه وروسته د کيسې پايله او پای ګورې او پوهېږې چې هغه څه ده؟ فتح او نصرت ، بری او کاميابي، مستضعفينو ته زېری او خوښي، د هيلو او اميدونو ترسره کېدل، او د ځمکې پر لوړو او ژورو د حق د لوړ اواز انګازې: يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ أَنْجَيْنَاكُمْ مِنْ عَدُوِّكُمْ. . سوررة طه

ژباړه: ای بنی اسرائيلو، مونږ تاسې ته ستاسې له دښمن نه نجات درکړ.

تر دې ځايه پورې د بني اسرائيلو د واکمنۍ او تېر برم د را ګرځېدو لومړۍ نيمې برخې تحقق وموند. له جابر طاغوت څخه خلاص او د غلامۍ له خاورې څخه ازاد شول. او دوهمه برخه يې لا پاتې وه چې د عمالقه وو له لاسه د خپل اصلي وطن ازادول و کوم چې عمالقه وو له بني اسرائيلو په زور ونيو او د هغوی له وتو وروسته پکې مېشت شول.

د آيتونو په شپږمه مجموعه کې يو قوم وينې چې د دښمن له ځواک څخه بېرېدلی او د هغه له جګړې څخه په وېره او ډار کې دی، د هغه له مخامخ کېدو نه بې زړه شوي د دې په ځای چې خپل وطن ازاد کړي او خپل حق ترلاسه کړي پدې راضي شوي دي چې خپله خاوره او خپل وطن د هغه په لاس او واک کې پرېږدي. کله به هم چې خپل قائد (موسی) (ع) په زحمتونو او کړاوونو ګاللو او د تکليفونو او شدائدو زغملو ته وهڅول او د دښمن مسئله به يې ورته اسانه او وړه معرفي کړه او په دوی باندې د الله پاک کړي نعمتونه به يې ور ياد کړل څو يې په ايمان سره زړونه راژوندي کړي او د الله پاک په معرفت سره يې نفسونه ويښ او زړه ور کړي او که به څه هم ورسره پدې هکله د خپل قوم مؤمنو او په الله پاک متوکلو خلکو مرسته او کومک کاوه لکه يوشع بن نون او کالب بن يوقنا . . خو د دې ټولو سره به د هغوی نفسونه وتورېدل او زړونه به يې وترېدل او بله هيڅ خبره يې منله پرته لدې چې له درنښت او فضيلت څخه راپرېوزي، په ذلت باندې راضي شي او پستی او دون همتی ته تن ورکړي. او داهغه جرم

او ګناه ده چې الله پاک يې نه خوښوي. په اصل کې دا نفسي ماته او د زړونو ضعف او کمزوري وه چې ډېره موده له ازاد ژوند او دهغه له راڼه لمرکوم چې د ازادو خلکو په زړونو او نفسونو کې د ذلت جراثيم وژني په محروميت د دوی په زړونو خپره شوې وه.

د همدې له پاره الله پاک پرېکړ ه وکړه او دوی يې څلوېښت کاله راڼه مخونه او هسکې غاړې په ازاده او پرانستې صحرا کې وووسول، څو هغه نسل له منځه ولاړ شي چې له ذلت سره روږدي و او سپکوالی او خواري يې طبيعت ګرځېدلی و او پداسي یوه ازاده صحرا کې چې د ستر ګو ليد پکې مزلونه وهل او تر داسي شنه اسمان لاندې چې د فکر الوت پکې دورې وهلي له هر ډول قيد او بند څخه ازاد نوی نسل را وټوکيږي چې له خپل رب څخه پرته له بل هيچا څخه نه وېرېږي، او له خپلې ګناه پرته د هېڅ شي اندېښنه نلري، هيچا ته غاړه نږدي او هيچا ته سر نه ټيټوي.

څومره ښکلې سزا ده ! رحمت پکې نغښتی دی او په ترخ کې يې روزنه او لار ښوونه ده.

تر دې چې نفسونه يې صيقل شول ، ارادې يې سپېڅلې شوې او راوييښ شوي حريت او را بيداره شوې ازادۍ د جبن او بې زړه توب پاتې شوني وسيځل نو اوس ته د آيتونو په اومه مجموعه کې خپلې مخې ته يو پتمن ، با عزته او کريم امت ګورې چې لوی ښتن ورته د ځمکې ختيځ او لويديځ په ميراث ورکړ او پدې توګه د دوی د صبر او زغم له امله پرې د الله پاک د نعمتونو ښايسته خبره بشپړه او رينتيني شوه.

واقعيت دادی چې پدې کيسه کې د زړونو څښتنانو لره او يا هغوی چې په غور سره خبره اوري غټ پند او عبرت دی. ان فی ذالک لذکری. .

څومره لوړ او عالي مثال دی چې درنو لوستونکو ته مې د امتونو او ولسونو په خوځښت او رغېدو کې او داچې د ولسونو ترقي او پرمختګ د نفسونو او اخلاقو په پاکۍ او سپېڅلتيا سره کيږي د خپلې خبرې د تأ ييد له پاره وړاندې کړ.

په همدې خاطر اخوان المسلمين په لوړ غږ سره اواز کوي چې: د نړۍ مسلمانانو! خپل ځانونه د اسلام د ښنستونو پر فضيلت او ښېګڼې جوړ او برابر کړئ څو مو ستر ښتن د ختيځ او لوېديځ وارثان کړي او په دنيا او آخرت دواړو کې مو لوړتيا په برخه شي.

## مونږ خلک څه شي ته رابولو؟

(۷)

**وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا**

او ستاسي له پاره مې اسلام ستاسې ددين په توګه غوره او منظور کړی دی.

## روښانه تګلاره

اخوان المسلمین پدې عقیده دي چې کله الله پاک قرآن کریم نازل کړ او خپلو بندګانو ته یې امر وکړ چې د محمد صلی الله علیه وسلم پلوي او پلټګي وکړي او اسلام یې ورته د ژوند لاره غوره کړه نو پدغه رینښتیني دین کې یې د امتونو د نیکمرغه ژوندانه او د هغوی د نهضت او ښېرازۍ ټول اړین اصول او بنسټونه ایښي دي. لکه چې الله پاک فرمایي:

{الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ} [الأعراف:157]

ژباړه: ( نو نن دا رحمت د هغه چا په برخه دی ) چې ددې نبي امي پیغمبر پیروي غوره کړي چې د هغه یادونه هغوی خپلې مخې ته په تورات او انجیل کښې لیکلې مومي. هغه دوی ته دنیکۍ حکم ورکوي، له بدۍ نه یې منع کوي، ددوی لپاره پاك شیان حلال او ناپاکه شیان حراموي، او له دوی څخه هغه پیتي کوزوي چې پر دوی دروند شوی و او هغه بندیزونه ماتوي چې په هغه کښې دوی کلك تړل شوي وو.

یا لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې مهرباني کوي:

أيها الناس إنه ليس من شيء يقربكم من الجنة ويبعدكم من النار إلا قد أمرتكم به وليس شيء يقربكم من النار ويبعدكم من الجنة إلا قد نهيتكم . .

«اخرجه ابن ابي شيبه عن ابن مسعود ».

ژباړه: ای خلکو! هېڅ داسې شی نسته چې تاسې جنت ته ورنږدې کوي او له دوزخ څخه مو لیرې کوي مګر داچې ما تاسو ته د هغه د کولو امر کړی دی، او هېڅ داسې شی نسته چې تاسې دوزخ ته نږدې کوي او له جنت څخه مو لیرې کوي مګر داچې ما تاسې له هغه څخه منع کړي یئ.

او که د اسلام په تعلیماتو او لار ښوونو کې لږ ژور نظر وکړې نو ته به تر ټولو سم او سالم اصول او قواعد او تر ټولو مناسب نظامونه او دقیق قوانین ومومې چې اسلام د نارینه او ښځې د فردي ژوندانه، د کورنۍ د جوړېدو او ړنګېدو او په غټه کچه د امتونو او ولسونو د نشئت، ځواکمنۍ او کمزورتیا له پاره وضع کړي دي. او هغه موضوعات او مسائل یې څیړلي او شنلي دي چې د ولسونو مشران او قیادتونه

يې په فکر او اندیښنه کې اچولي دي. مونږ پدې عقیده یو چې ملیت پالنه او نشنلزم، نړیوالتوپ، ټول ګډتوپ (سوسیالزم) پانګوالي، کمونزم، سوله او جګړه، د ثروت او شتمنۍ وېش، د تولیدوونکو او مصرفوونکو ترمنځ اړیکه او ټول هغه څه چې د غو موضوعاتو پورې تړلي دي او د ولسونو په کچه يې د سیاستوالو او ټولنپوهانو ذهنونه مشغول کړي دي دې ټولو په اړه اسلام لارښوونې، اصول او ضوابط لري، او پدې هکله يې نړیوالو ته داسې سیستمونه او نظامونه وضع کړي دي چې د نورو ښېګڼو تر څنګ يې د هغوی ګټې او مصلحتونه خوندي کړي، او له هغو سره د نښتو اضرارو او خطرونو مخه يې نیولې ده.

دلته د دې موضوع د تفصیلي څېړنې او شننې ځای ندی، مونږ دلته یوازې هغه خبره څرګندوو چې پرې ایمان او عقیده لرو، او هغه هدف روښانه کوو چې خلک ورته رابولو. وروسته به مونږ پدې اړه راګرځو او تفصیلي بحثونه به لرو.

## ارومرو به پلوي او متابعت کوو

لکه چې اخوان المسلمین دغسې عقیده لري نو له خلکو څخه هم غواړي څو پدې پوه شي چې د نوي ختیځ (اسلامي نړۍ) نهضت او تمدن د ژوند په ټولو چارو کې که په څه شي بنا کیږي نو هغه به د اسلام اصول او اساسات وي.

اخوان المسلمین پدې عقیده دی چې د نوي غربي تمدن ټولې ښکارندې او مظاهر د اسلام د اصولو پر خلاف دي او د قرآن کریم له لارښوونو سره ټکر لري، غربي تمدن یوه ظالمانه او ناکامه تجربه ده چې ولسونه به ترې د بې درېغو او درنو تاوانونو په ګاللو سره بې له کومې لاسته راوړنې څخه ووځي.

د ولسونو لپاره غوره لاره همداده چې نهضت او تمدن ته د رسېدو لپاره د اسلام د اصولو د متابعت لنډه لاره ونیسي.

اخوان المسلمین دغه د ستر خیر دعوت د کوم ځانګړي اسلامي قطر او سیمې لپاره نه غواړي بلکې یوه نړۍ واله چیغه ده او هیله لري چې د هر هغې اسلامي خاورې د قیادت او زعامت تر غوړونو ورسېږي چې ولسونو یې اسلام ځان ته د دین او ژوند لارې په توګه منلی دی.

اخوان المسلمین پدې اړه دغسې فرصتونه غنیمت ګڼي چې اسلامي خاورې او وطنونه یکې یو بل ته نژدې کیږي او هڅه کوي څو د ترقۍ، پرمختګ او ابادۍ د اصولو پر ثابتو ستنو باندې خپله راتلونکې او مستقبل جوړوي.

## له انحراف څخه ووېرېږئ

تر ټول ستره وېره چې اخوان المسلمين يې لري داده چې د ختيځ اسلامي ولسونه د تقليد او پېښو په بهير کې کيوزي او خپل نهضت او تمدن د غرب په ورستو او رنګېدونکو نظامونو سره پيوند کړي کوم چې دهغو فساد او بې کفايتي په تجربو سره ثابته ده.

اسلامي ولسونه هر يو خپل ځان ته عام اساسي قانون لري او په کارده چې د هغه مادې د قرآن کريم له هداياتو او لار ښوونو څخه سر چينه اخيستې وي، او چې کله د يوه ولس د اساسي قانون لومړۍ ماده وايي چې: اسلام ددې ولس او دولت رسمي دين دی نو بيا په کار ده چې د قانون پاتې ټولې مادې د همدې لومړۍ مادې پر بنسټ جوړې شي او هره هغه ماده چې له اسلام سره سر نه لګوي او د قرآن کريم له لارښوونو سره په ټکر کې وي بايد په داسې بڼه تعديل او واړول شي څو د اسلام له احکامو سره سر وخوري او په دې توګه اساسي قانون په خپله د ننه کې له تناقض او ټکر څخه خلاص شي.

## قانون اصلاح کړئ

هر ولس اساسي قانون لري چې هغه ته د پرېکړو له پاره مراجعه کوي او په کار ده چې نوموړی قانون د اسلامي شريعت له احکامو څخه اخستل شوی وي، د قرآن کريم له لارښوونو او د اسلامي فقهې له اصولو سره همغاړی وي. واقعيت دادی چې اسلامي فقهاوو او مسلمانو قانون پوهانو چې کوم قوانين وضع کړي هغه د بشري ټولنې اړتياوې پوره کوي، درځونه يې نيسي، تنده يې ماتوي او تر ټولو ښې پايلې او خوږې ميوې لري. په ځانګړې توګه که چېرې شرعي حدود پلي شي نو باور وکړئ چې پر جرم روږدي مجرمين به له جرم څخه لاس واخلي، او پر تيري معتاد او اخته کسان به له تيري څخه ايسار شي او په دې توګه به حکومتونه د ناکامو تجربو له کړاو څخه ارام کړي .

تازه تجربو دا خبره بيا بيا ثابته کړې او تائيد کړې ده . د نوي قانون جوړونې اصول د دې غوښتنه کوي او الله تعالی پر بندګانو ضروري او فرض ګرځولې ده. وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (44)سورة المائدة

ژباړه: کوم خلك چې د الله له نازل کړي قانون سره سمې فيصلې ونه کړي هماغوی کافران دي.

## د ټولنې ښکارنده او مظهر اصلاح کړئ

هر ولس د خپل ټولنيز ژوندانه ځانګړي مظاهر او ښکارندې لري چې حکومتونه يې اشراف او سر پرستي کوي، قانون يې تنظيموي او اجرايوي مراجع يې ملاتړ او حمايت کوي.

د ختيځ مسلمانو ولسونو ته په کار ده چې د ټولنيز ژوندانه ټول مظاهر يې له اسلامي شريعت او د هغه له اوامرو سره همغاړې او له اسلامي آدابو سره بشپړ توافق ولري.

رسمي زنا د هر هغه شریف ولس پر تندیه د شرم تور داغ دی چې اخلاق او فضیلت ورته ارزښت لري مسلمان ولس خو لا پرېږده چې دین یې پرې له زنا او هر ډول فاحشي سره جګړه او مبارزه فرض کړې ده، او زنا کارو ته یې د سختي او بې رحمانه سزا امر کړی دی: وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (2)سورة النور

ژباړه: او پردوی باندې د زړه سوې احساس دې دالله د دین په باب په تاسې کې نه پاربږي که تاسې پرالله تعالٰی او داخرت په ورځ باندې ایمان لرئ . او هغوته د سزاورکولو په وخت کښې دې د مؤمنانو یوه ډله موجوده وي.

د ښارونو او بازارونو په جادو او مارکېټونو کې شراب خوني، د الکولي مشروباتو پلني او اوږدې لوحې، د ام الخبائث (شرابو) ښکاره اعلانات . . هغه څه دي چې اسلام یې نه مني او قرآن کریم یې په سختی سره تحریموي.

## اباحیت او اخلاقي فساد له منځه یوسئ

په واټونو، پارکونو ، اوړنیو او پسرلنیو مېله ځایونو کې چې پاروونکی اباحیت، اخلاقي فساد او جنسي تمایلات په ټوله معنا د اسلام له سترو اخلاقو: عفت، حیاء، مېراني، نخوت، درنښت، جدیت او له سپکتوب او بې عزتۍ څخه لېرې والي سره په ټکر او تناقض کې دي کوم چې اسلام خپلو پلویانو ته پرې امر او توصیه کوي. عَنْ حُسَيْنِ بن عَلِيٍّ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ مَعَالِيَ الأُمُورِ وأَشْرَافَهَا ، وَيَكْرَهُ سَفَاسِفَهَا ".رواه الطبراني في المعجم الكبير.
ژباړه: الله پاک لوړې او شریفې چارې خوښوي او پرېوتي او ټیټ کارونه یې بدې ایسي.
بنا پر دې پر مسلمانو ولسونو لازم دي چې په خپل ټول واکمنیز او قانوني ځواک او قوت سره د دغو منکراتو په له منځه وړلو او محوه کولو کې هڅه او هاند وکړي او پدې هکله هېڅ ډول کمزورتیا او غفلت ته اجازه ورنکړي.

## ښوونه او تعلیم تنظیم کړئ

هر مسلمان ولس د خپل نوي نسل روزلو او خپل راتلونکي او مستقبل له پاره د شخصیتونو جوړولو - څوک چې د یوه ولس نوی ژوند ور پورې تړلی دیـ د تعلیمي نظام له پاره جلا سیاست او پالیسي لري، او په کار ده چې دغه سیاست او پالیسي په داسې حکیمانه بنسټونو ولاړه وي چې د نوي نسل دیني ځواک او مقاومت، اخلاقي قوت او وقایه، د شرعي احکامو پېژندګلوي او په تېر اسلامي مجد او تمدن باندې حساب کول او پر هغه ویاړنه تضمین کړي.
دا وو له ډېرو اصولو او بنسټونو څخه لږ هغه څه چې اخوان المسلمین یې له ولسونو څخه د خپل نهضت او تمدن په جوړېدو کې مراعتول غواړي، او ټولو مسلمانانو ته که هغه ملتونه دي او که حکومتونه خپله همدغه بلنه تقدیموي او اخوان د دې ستر اسلامي هدف د تحقق له پاره چې کومه یواځنۍ وسیله له ځان سره لري هغه عبارت ده لدې څخه چې: د اسلامي لارښوونو قوت، ښېګڼې او مزایاوې بیان کړي تر دې چې د خلکو په زړونو او فکرونو کې ځای ونیسي، او د هغو په ګټو او مصلحتونو قانع شي نو په پایله کې به د هغو له پاره کار او عمل ته را پاڅي او د هغو پرېکړو او فیصلو ته به غاړه کېږدي.

قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (108)سورة يوسف
ژباړه: ته دوی ته په ډاګه ووایه زما لاره خو دغه ده، زه د الله لوري ته دعوت کوم، زه پخپله په پوره رڼا کښې خپله لاره وینم او زما ملګري هم ، او الله ډېر سپېڅلی او پاك دی او له مشرکانو سره زما څه اړیکه نشته.

## مونږ خلک څه شي ته رابولو؟

**(٨)**

### إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ

### د ورونو له ورورۍ مو ګټه واخلئ

اسلام یوه ثابته عقیده ده چې په خپلو معتقدینو او پلتګیانو باندې لازموي څو سره ورونه واوسي. په خپله عقیده باندې یو موټی شي، ارواوې یې پرې تولې او زړونه یې پرې متحد شي، او خپل انانیت او ځان غوښتنه د خپلې عقیدې او خپل هدف په لاره کې قربان کړي.

پدې توګه اسلام خپلو اتباعو او پلویانو باندې غږ کوي او ورته وایي چې:

1- {وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا} [آل عمران:103]

ژباړه: ټول یو ځای شئ د الله رسۍ کلکه ونیسئ او تیت پرك کېږئ مه د الله هغه پیرزوینه درياده کړئ چې پر تاسې يې کړېده تاسې یو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسې په زړونو کښې مینه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لورېنه تاسې سره ورونه ورونه شوئ.

2- {إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ} [الحجرات:10] مؤمنان خویو له بله سره ورونه دي.

3- {وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ} [التوبة:71] مؤمنان نارینه او مؤمناني ښځې، داټول د یو بل دوستان دي.

او د اسلام ستر پیغمبر فرمایي:

«وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا».(اخرجه البخارى) د الله پاک ورونه بندګان اوسئ.

لومړنیو مسلمانانو (رضوان الله علیهم) له اسلام څخه د اخوت او ورورۍ همدغه معنا زده کړې وه،

او دغې اسلامي عقيدې يې په زړونو کې د مينې او وحدت تلپاتې عاطفې او د اخوت او تعارف لوړ او ښکلي مظاهر او ښکارندې په الهام پرېيښې دي. آن تر دې چې هغوی ټول يو تن ، يو زړه او يو لاس و!

تر دې چې الله پاک همدغه معناګانې په خپل کتاب کې د خپل احسان په توګه يادوي او وايي:

{وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ} [الأنفال:63]

ژباړه: او د مؤمنانو زړونه يې يو له بل سره ولګول. که تا د ځمکې د مخ ټولې خزانې لګولې هم وای نو ددې خلکو په زړونو کښې دې خپل مينځي مينه نشوه اچولی خو الله دی چې ددوی زړونه يې سره ولګول.

## تطبيق

کله به چې يو مهاجر خپل وطن مکه او هلته پکې خپل کلی، کورنۍ، خپل عيال او دوستان پرېښوول او د خپل دين او عقيدې د ژغورلو له پاره به يې مدينې ته هجرت وکړ نو هلته به يې د سترګو تر وړاندې له لاسه ورکړي شيان هر څه موندل: د کور په بدل کې کور او د اهل، ورونو او خواخوږو په بدل کې اهل ، ورونه او خواخوږي!

يثرب کې به د اسلام بچيانو يثربي ځوانانو ورته په ډېره مينه، لېوالتيا او ناکرارۍ سره انتظار اېسته او د خپل مهاجر ورور له وررسېدو سره به له خوښۍ څخه په جامو کې نه ځايېدل!

پداسي حال کې چې له دېنه مخکې يې نه کومه اړيکه او پېژندګلوي سره درلوده او نه يې ترمنځ د خپښۍ، خپلوۍ، کاکاتوب او ماماتوب کومه رابطه وه، او نه يې د دې کار ترشا کومه ګټه او دنيوي غرض او مقصد ترلاسه کول و. څه شی چې و هغه يواځې او يواځې د اسلام عقيده وه چې ناپيژندلي مسافر ته به هوسيدل، زړه او سينه به يې ورته پرانستل ، هغه به يې د خپلې کورنۍ غړی ګڼاه او د خپل ځان او خپل روح برخه يې بلله!

هو، مهاجر به چې کله نبوي مسجد ته ورسيد د اوس او خزرج غوره او ښاغلي شخصيتونه به ترې تاو شول هر يوه به غوښتل چې خپل ورور خپل کورته بوزي، له ځان نه به ورته وړاندې و، خپل ځان او اولاد به يې ترې ځاراوه او تر هغه به هر يو په خپله غوښتنه کلک ولاړ و څو به خبره پچې اچولو او قرعې ته ورسيده!

امام بخاري (رح) يو حديث مبارک روايت کړی چې معنا يې ده: هيڅ يو مهاجر له هيڅ يو انصاري سره ندی تللی مګر په پچه اوقرعې سره!

او قرآن کریم د انصارو دغه ستر فضیلت او ستر امتیاز په خپلې یادونې سره تلپاتې او ابدي وګرځاوه چې د وختونو او زمانو پر تندي باندې به سپین او روڼ ځلیږي! الله پاک فرمایي:

{وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} [الحشر:9]

ژباړه: ( او دا دهغو خلکو له پاره هم دی ) چې د دغو مهاجرینو له راتګ نه مخکښې یې ایمان راوړی په دارا لهجرت کښې استوګن وو. دوی له هغو خلکو سره مینه کوي چې دوی ته یې هجرت کړی دی او هر څه چې هغوته ورکړل شي دهغو څه اړتیا قدرې هم دوی پخپلو زړونو کښې نه احساسوي او پرخپل ځان باندې نوروته ترجیح ورکوي اګر که پخپله محتاج وي هم . حقیقت دادی کوم خلك چې دخپل زړه له تنګی نه وژغورل شول همغوی فلاح میندونکي دي.

او وروسته بیا د اسلام بچیان پر همدغه لار روان وو، په ځانګړې توګه د اسلام لومړنی نسل هغوی چې ایماني ورورۍ یې په زړونو او نفسونو کې ځای نیولی و. پدې اړه مهاجر، انصاري، مکي او مدني ټول یو شان و او هیڅ توپیر یې سره نه درلود تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یمن د سیمې اشاعره ټبر په خپلې دې وینا سره وستایل:

«نعم القوم الاشعریون اذا جهدوا فی سفر أو حضر جمعوا ما عندهم فوضعوه فی مزادتهم ثم قسموه بینهم بالسویة». څومره ښه ټبر دی اشعریان! چې که په سفر یا حضر کې ستړي شي نو د خوراک خپل شیان سره یو ځای کړي او بیا یې په خپل منځ کې سره مساوي وویشي.

او که ته قرآن کریم تلاوت کړې او د ستر پیغمبر احادیث ولولې او د اسلام د غوره او ښاغلو بچیانو سیرت مطالعه کړې نو دومره زیات څه به ومومې چې سترګې به دې پرې یخې، تنده به دې ماته او زړه به دې پرې موړ شي.

## وروري چې ټول انسانیت په غیږ کې نغاړي

د اسلام دې سترې او نېکمرغې عقیدې دوه مېوې را وټوکولې چې باید تر لاسه یې کړو.

لومړی دا چې اسلامي فتوحات په تاریخ کې هیڅ یوه استعمار ته ورته ندي. نه په هدف او مقصد کې، نه په اداره او چلن کې او نه په پایله او فایده کې.

مسلمان فاتح به چې کله خاورې او وطنونه فتح کول نو هدف به یې دا و چې د الله کلمه پکې لوړه شي او افقونه یې د قرآن په پلوشو روښانه شي. ا و چې کله به هم د محمدي هدایت د لمر شغلو د هغو د اوسېدونکو تیارې ارواوې روښانه کړې نو بیا به ټول توپیرونه له منځه ولاړل، تیارې به محوه شوې او

عدالت، انصاف، میني او وروری به د ټولو په سر یو شان سیوری وکړ.

بیا هلته برلاسی فاتح او مات سوی دښمن نه و بلکې مینه ګرکي ورونه او دوستان به و. او له همدې ځایه به له هغوی سره د نشنلزم او قوم لمانځني فکر د اسلامي اخوت په وړاندې کوم چې قرآن یې د خپلو پلویانو په نفسونو کې خپروي ویلې کېده داسې لکه پر کنګل چې د رڼا او تاوده لمر پلوشې پرېووزي.

هو، مسلمان فاتح مخکې لدې چې چا سره و جنګیږي او مخکې لدې چې پر چا بر لاسی شي هغه خپل ځان او خپل مال په الله پاک پلورلی وي او د هغه په لار کې یې له خپل قومیت او عصبیت څخه ځان خلاص کړی او لاس په سر شوی دی، هغه اوس د عصبیت په خاطر نه جنګیږي او نه د خپل قوم د برلاسي له پاره، او نه د کوم ملیت او کومې جغرافیي ننګه کوي. بلکې هغه که کوم کار او کوم عمل سرته رسوي نو د الله پاک له پاره یې سرته رسوي، بلکې یوازې او یوازې د واحد او لا شریک الله له پاره.

لاندې مبارک حدیث په هدف کې د للهیت او اخلاصمندۍ او له هوی او هوس څخه د نفس پاکولو ډېر ښکلی او لوړ مثال دی: ان رجلا جاء الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال یا رسول الله! انی احب ان اجاهد فی سبیل الله و احب ان یری موقفی. فسکت النبی صلی الله علیه وسلم ولم یجبه، فنزلت الآیة الکریمة: قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا (110) سورة الكهف

ژباړه: یو سړی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته ویې ویل: ای د الله پیغمبره! زه خوښ ګڼم چې د الله په لار کې جهاد وکړم او ورسره خوښ ګڼم چې خلک زما جهاد او سربښندنه ووینې. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چوپ سو او ځواب یې ورنکړ، پدې وخت کې دغه آیت مبارک نازل سو: ای محمده(صلی الله علیه وسلم)! ووایه چې زه خو ستاسې په څیر یو انسان یم. ماته وحی کیږي چې ستاسې خدای همدا یو خدای دی نو څوك چې له خپل پروردګار سره دیو ځای کېدو په هیله وي هغه ته په کار ده چې ښه عمل وکړي اوپه بندګی کښې له خپل رب سره بل څوك شریك نکړي.

ته وینې چې اسلام څرنګه ستاینې او صفت ته د دغه شخص هیله او لېوالتیا کوم چې د انسانې نفس له طبیعت څخه ده پټ شرک ګڼي چې باید ترې اجتناب وشي او د سپیڅلي او لوړ هدف له پاره ترې تېر شي؟

ایا له دې څخه لوړ اخلاص او ستره پاک نفسي شته چې یو شخص خپل ځان د خپل هدف په مقابل کې هېر کړي؟

اوس نو ته داسې فکر کولی شې چې يو څوک چې دين يې د هدف او غايې له پاره خپل ځان هېرول او خپلې ولولې، احساسات، عواطف او غوښتنې د خپل هدف له پاره پرېښودل پرې شرط بڼدي څو يې جهاد خاص او يواځې د الله لپاره شي هغه دې بيا پدې فکر کې وي چې د عصبيت لپاره جهاد وکړي او د قوم او مليت لپاره دې وجنګيږي؟

(اللهم لا) لويه ښنتنه هيڅکله نه.

او هغه چې وطن يې د مسلمانانو لخوا فتح شوی او الله پاک يې په تقدير کې ليکلي و چې په اسلام راوړو به نېکمرغه کيږي او هدايت به مومي هغه خپله خاوره او خپل وطن کوم پردي يرغلګر ته نه سپاري چې څرنګه يې خوښه شي تصرف پکې وکړي، ثروتونه او زېرمې يې په خپل جېب کې واچوي او له ده سره د يو ښکيل او تسخير کړای شوي مريي په څېر معامله وکړي. بلکې دی خپل وطن او خپله خاوره خپل داسې ورور ته سپاري چې ده سره ګډ اوسي او خپله اروا ورسره ګډه ي او په پوره اخلاص ورته وايي چې: مونږ او ته په ګټه او تاوان ، مسئوليت او امتياز هرڅه کې سره يو شان او برابر يو (لک ما لنا وعليک ما علينا). د الله پاک کتاب زمونږ ترمنځ پرېکړه او فيصله کوي . .

او پدې توګه فاتح او مفتوح، او غالب او مغلوب دواړه د اسلام د سپيڅلي هدف لپاره له هر څه تېر شوي، او د خپلو اصولو او مبادئو په لار کې هر څه ښندي او قربانوي يې، او دواړو چې وطن، خاوره، کور او اولادونه پرېښيي د دې لپاره چې د الله پاک روښنايي ټول انسانيت ته خپره شي، د قرآن نېکمرغه او مبارک لمر پرې را دبره شي او په همدې کې د انسانيت وروستی پرمختګ او بشپړ سعادت او تلپاتې نېکمرغي ده (لوکانوا يعلمون) کاش چې دوی پو هېدای!

## د اسلامي خاورې افق

دو همه مېوه داده چې اسلامي وروری هر مسلمان داسې جوړکړی چې عقيده لري چې هره ځمکه چې هلته يو مسلمان ورور د اسلام په اساس ژوند تېروي او قرآن خپل قانون ګڼي د هغې ځمکې هره لوېشت د لوی اسلامي وطن يوه برخه ده کومه چې د هغې ساتنه او سمسورتيا اسلام پر خپلو ټولو پلويانو فرض ګرځولې ده، چې پدې توګه د اسلامي وطن افق ارت او لمن يې پلنه سوه، د جغرافيې، قوم او مليت له وطن څخه د لوړو اصولو او مبادئو ، پاکې او سپېڅلي عقيدې او هغو حقيقتونو او ارزښتونو وطن جوړ سو چې الله بشريت او ټول عالم ته هدايت او رڼا ګرځولې ده.

اسلام چې کله خپلو بچيانو ته دغه احساس ورکوي او په نفسونو کې يې دغه معنا ځای په ځای کوي ورسره يوه ستره فريضه پر غاړه وراچوي چې خپل لوی اسلامي وطن به د يرغلګرو له تيري څخه ژغوري، د غاصبينو له منګولو څخه به يې ازادوي او له هرهغه چابه يې ساتي چې په زړه کې ورته بده اراده او خرابه طمع لري.

دلته ده چې په اسلامي فکر کې د وطنیت نظریه یوه څرګنده او ارزښتناکه محکمه کلا جوړه شوې ده، او پدې توګه مسلمان ته هغه څه برابر شوي چې د هېڅ غیر مسلمان ولس بچیانو ته ندي برابر شوي چې پرته له کوم ډول تعارض او اختلاف څخه هم وطن ته کار وکړي او هم ټول انسانیت او بشریت ته.

هو دغه اسانتیاوې په هیڅ ډول اصولو او مبادئو کې ندي، نه تر دې د مخه او نه به تر دې وروسته جمع شي، پداسې حال کې چې اسلام دغه نظریه سوونه کاله مخکې وړاندې کړې او تطبیق کړې ده.

پداسې وخت کې چې یو شمېر خلک قومي غړونه پورته کوي او وایي: المان تر ټولو لوړ، یا فرنسا ترټولو لوړه، یا ایطالیا تر ټولو لوړه (یا نن سبا چې امریکایان او برطانویان دغه نارې وهي) د غه غړونه او نارې په حقیقت کې هغه انانیت او ځان غوښتنه ده چې کینې او دښمنۍ پاروي، د نړۍ ولسونه سره وېشي او د هغوی ترمینځ بېلتون او جلاوالی راولي، لدې سره غبرګ د مسلمان غږ او ناره په روښانه او فصیحه لهجه پورته کېږي چې د قرآني وحی اعجاز ورته قوت ورکوي او د نبوي سنتو بلاغت او فصاحت ورته ښکلا او ترنم ورکوي: په حق باندې وروري د ټولو شعار، د اسلام خاوره د اسلام د بچیانو لپاره!

څومره ښایسته جوړښت او څومره ښکلې معنا او لوړ مقصد دی!

هغه خلک چې ګومان کوي اسلام وطني فکر له مینځه وړي یقینا چې هغوی خطا شوي دي، ځکه اسلام په خپلو پلویانو باندې د خپلو وطنونو حمایت او ساتنه فرض کړې ده، او هغوی چې فکر کوي اسلام نړۍ ته ګواښ او خطر دی سخت غلط شوي دي ځکه اسلام خو هغه اخوت او وروري ده چې د انسانانو تر مینځ وحدت او یووالی راولي او دهغوی لیکې او صفونه برابروي.

او هغوی چې اسلام په ریښتیا او حقیقي معنا سره درک کړی دی نو هغوی پوه شوي دي چې اسلام د وطن ساتنه او صیانت او نړۍ والوته رحمت او مهرباني ده. او دا هغه حکیمانه خبره ده چې ما له یو ستر سیاست وال څخه چې روح یې د اسلام په ښیګڼو خړوب شوی و اورېدلې او تر اوسه مې په غوږونو کې انګازې کوي او دهغې ښکلا او خوږ والي له کبله چې له ځان سره یې لري د تل لپاره به مې په غوږو کې وي! هغه د ایمان او عقیدې پر بنسټ وویل: که خلکو اسلام په ریښتیني او حقیقي توګه پیژندلی وای نو پوه شوي به وو چې اسلام هم دین دی او هم وطنوالي (نشنلټي) او هیوادنیز تابعیت!

ګرانه لوستونکیه! زه فکر کوم چې په هغه څه پوه شوی اوسې چې ماغوښتل پرې پوه شې، اوس نو له تانه غوښتنه کوم څو عقیده ولرې چې هر مسلمان ستا ورور دی، د هغه په خوښۍ خوښ او په درد یې دردمند شې او د دې نړۍ هره لویشت خاوره چې هلته یکې مسلمان د (لااله الاالله محمدرسول الله ) کلمه وایي هغه د الله پاک هغه حریم دی چې په مسلمان فرض دي څو له هغه نه دفاع وکړي، هغه وساتي او د هغې د ابادۍ او د اوسېدونکو د هوسایۍ لپاره یې کار وکړي.

# مونږ خلک څه شي ته رابولو؟

(۹)

**وَلَا تَيْأَسُوا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ (87)**

او د الله له رحمت نه ناهیلي مه اوسئ، د هغه له رحمت نه کافران نا هیلي کیږي.

## اوږده لار

هیله لرم چې د اخوان المسلمین د دعوت د شرح او توضیح په لړۍ کې د غو پرله پسې کلماتو د لوستونکو پر وړاندې د اخوان المسلمین هدف او مقصد څرګند کړي وي او تر یوه بریده یې روښانه کړې وي چې اخوان خپل هدف ته له کومو منهجونو او تګلارو څخه ځان رسول غواړي؟

که څه هم تر دې د مخه ما یو شمېر ډېرو ورونو ته چې د اسلام او د هغه د مجد او برم په هکله له ننګ او غیرت څخه ډکې ولولې لري تر (مونږ خلک څه ته را بلو؟) عنوان لاندې اوږدې خبرې کړې دي. خیر د یوسي هغوی راته په ښه توګه غوږ نیولی او له پیله تر پایه سره د تفاهم په فضا کې و تر دې چې له بحث او خبرو څخه دې قناعت ته ورسېدو چې په ریښتیا سره هدف لوړ او سپېڅلی دی او لاره او وسیله یې بریالۍ او کامیابه.

خو زه هغه وخت هک پک حیران شوم چې کله مې دوی ولیدل چې پدې خبره یې تقریبا اجماع لرله او یوه خوله وو چې په هیواد کې د قوي منحرفو بهیرونو او جریانونو د موجودیت او فعالیت په پرتله دغه لاره که څه هم بریالۍ ده خو ډېره اوږده ده. چې دې خبرې یې په زړونو کې ناهیلي ټوکوله او پر نفسونو یې یأس او ناامیدي خپروله، آن تر دې چې هغه لېوالتیا او حماس یې نه لیده کوم چې د دې ترمخه ورسره و.

هیله لرم زما دغه خبرې زړونه له هیلو څخه ډک کړي او د بري او کامیابۍ په باور او یقین یې سرشار کړي ان شاءالله. (ولله الامر من قبل و من بعد ) ړومبنۍ او وروستنۍ چاره خو الله پورې اړه لري.

او دادی په درې ټکو کې موضوع راتړم:

### ۱ـ فلسفي او اجتماعي آند او نظر

د ټولنپوهنې عالمان وایي چې: نني حقیقتونه پرونۍ هیلې دي، او د نن هیلې به د سبا ورځې حقایق

وي! او دا هغه نظريه ده چي واقعيت يي تاييدوي او دليل او برهان يي ننګه او ملاتړ کوي. بلکې همدا نکته د انسانيت د پرمختګ او کمال لوړو مدارجو ته د رسېدو محور دی. څو کاله وړاندې چا دا ګومان کاوه چې ساينس پوهان به د اختراعاتو او اکتشافاتو دغه اوسني حالت ته رسيږي؟ آن تر دې چې خپله سترو سترو ساينس پوهانو په لومړي سر کې دا خبره زړونو ته نه غورځوله تر څو واقعيت ثابته کړه او دليل او برهان تاييد کړه. دا يوه څرګنده او بديهي خبره ده، مثالونه يې زيات دي، خبره نوره نه اوږدوو او په همدومره بسوالی کوو.

## ۲ـ تاريخي آند او نظر

حقيقت دادی چي د ولسونو پرمختګونه له داسې کمزوري او ضعيف حالت څخه پيل شوي دي چي ټاکلي هدف ته رسېدل يې ناشونی او محال ګاڼه، خو د دې سره سره تاريخ ښوولي چي صبر، زغم، ثبات او حکمت دغه کمزوري او لږو وسايلو والا نهضتونه د هيلو سره سم د بري او موفقيت لوړو څوکو ته رسولي دي.

چا دا ګوما ن کاوه چې دغه بې کښته او بې اوبو وچه شګلنه عربي جزيره دې نور او عرفان زرغون کړي او د خپلو بچيانو د روحي او سياسي ځواک پر مټ دې د نړی پر سترو دولتونو باندې خپل واک وغځوي؟

او چا دا فکر کاوه چې د علي او عباس (رضی الله عنهما) يو موټی او لاده دې چې په ډار او وېره پټ اوسېدل کولی شي چې يوه ورځ به د امويانو هاغه ځواکمنه، پراخه خپره وره پادشاهي د يوې ورځې د سهار او مازيګر تر مينځ په بل مخ اړوي پداسې حال کې چې هغوی هره ورځ د وژل کېدو، تبعيد او ځپنې تر ګواښ لاندې وو؟

چا دا ګومان کاوه چې هغه نرم زړی او نرم خويه ابوبکر صديق (رضی الله عنه) چي شاوخوا قبايل پرې ورپارېدلي او صحابه کرام يې چاره کولو کې حيران وو په يوه ورځ کې دې يوولس لښکرې وباسي سرغړوونکي دې وځپي، بې لارې دې پر لار کړي، باغيانو ته دې درس او عبرت ورکړي، له مرتدانو دې غچ واخلي او د زکات له مانعينو څخه دې د الله پاک حق تر لاسه کړي؟

چا دا فکر کاوه چې صلاح الدين ايوبي (رحمةالله عليه) دې کلونه کلونه د اروپايي ملکونو د پنځه ويشت سترو پادشاهانو پر وړاندې ودرېږي او دهغوی د زيات شمېر ائتلافي لښکرو او پرېمانه جنګي وسايلو سره هغوی خوار او ذليل په شا وتمبوي؟

دا د تېر تاريخ خبرې وې، په معاصر تاريخ کې تر ټولو ښه مثال د آل سعود کورنی ده. چا دا ګومان کاوه چې ملک عبدالعزيز دې چې پادشاهي يې له لاسه وتې وه او کورنی يې تبعيد او تيته پرکه کړی

شوې وه له څو ویشت کسانو سره دې خپله پادشاهي بیا تر لاسه کوي او بیا دې د اسلامي نړۍ ټوټې ټوټې پاره یوه ستره هیله جوړه شي چې وحدت یې تامین او برم یې اعاده کړي؟

او چا دا منله چې هاغه المانی کارګر (هتلر) دې هاغومره قوي نفوذ تر لاسه کړي او خپل هدف ته په رسېدو کې دې بریالی شي؟ تر دې چې پرون مو واورېدل چې له سترو ازمېښتونو وروسته یې په خپل بري باندې په ډاډه زړه او خوښمنه لهجه سره ویل: ما به خلکو ته ویل چې زه واک او قدرت ته رسېږم، دوی به دا خبره لېونتوب ګڼله، تر دې چې زه واک او قدرت ته ورسېدم، او دادی زه اوس ورته وایم چې زه به په واک او قدرت کې پاتې کېږم، د خلکو خوښه چې څرنګه یې زړه غواړي هغسې ګومان دې کوي!

## ۳- قرآني آند او نظر

قرآن کریم پر مسلمانانو باندې هر ډول یأس او ناهیلي حراموي. کله یې کفر بولي او کله یې ضلالت او بې لارې توب. الله پاک فرمایي:

وَلَا تَيْأَسُوا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ (87) سورة یوسف.

ژباړه: او د الله له رحمت نه ناهیلي مه اوسئ ، د هغه له رحمت نه کافران نا هیلي کیږي".

او فرمايي: قَالَ وَمَنْ يَقْنَطُ مِنْ رَحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ (56) سورة الحجر

ژباړه: (ابراهیم علیه السلام) وویل " د خپل رب له رحمت نه خو ګمراهان ناهیلي کیږي.

بیا مؤمنانو ته د نژدې بري زېرى ورکوي او ورته څرګندوي چې رڼايي به له شدت او سختۍ وروسته وي او نصرت او برى به ترکړاو او زحمت شاته، او همدا د الله پاک سنت دی، فرمايي: حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا جَاءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَنْ نَشَاءُ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ (110)سورة یوسف.

ژباړه: ( له پخوانیو پیغمبرانو سره هم همدا شویدي چې هغوی ډیر وخت نصحیت وکړ او خلکو وانه وریده ) ان تر دې پورې چې کله پیغمبران له خلکو نه نا هیلي شول او خلکو هم دا وانګیرله چې دعذاب په باب هغو ته دروغ ویل شوي وو، نو په ناڅاپي ډول پیغمبرانو ته زمونږ مرسته ورسیدله. کله چې دغسې وخت راځي نو زمونږ قانون دا دی چې چاته چې زمونږ خوښه شي نجات ورکوواو پرمجرمانوزمونږ د عذاب د راتګ مخه نه شي نیول کیدای.

او فرمايي: أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ (214) سورة البقرة

ژباړه: ایا تاسي دا انګېرئ چې همداسي به جنت ته ننووځئ، په داسي حال کښي چي لا تر اوسه پر تاسي هغه هر څه ندي تېر شوي، چي له تاسي نه پر مخکښو مؤمنانو راغلي دي ؟ پر هغو ستونزې راغلي، کړاوونه ورته ورسېدل، ولړزول شول، ان تر دې چي دوخت رسول او د هغه مؤمنانو ملګرو فریادونه وکړل چې د الله مرسته به کله راشي په هغه وخت کښي هغو ته ډاډېنه ورکړل شوه چي هو د الله مرسته نژدې ده.

بیا بل ځای کي الله پاک څرګندوي چي دا یو ډول ناروغتیاوې دي چي ولسونو ته پېښیږي، او بیا چي د هغو په وسیله یې الله پاک پاکي او سوتره کړي نو صحت او روغتیا مومي، الله پاک فرمایي: إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ . . (140) سورة أل عمران

ژباړه: اوس که تاسي ټپي شوي يئ؛ نو له دې نه مخکښي ستاسي دښمنه ډله هم همداسي ټپيان شويدي دا د زماني خوږې ترخې دي چي مونږ يې د خلکو تر مينځه اړوو را اړوو.

ته ګورې چي قرآن کريم پر مسلمانانو باندې ياس او ناهيلي حراموي او د هغوی پر وړاندې د هيلو اسانه او پراخه ډکر پرانزي او ترې غواړي او پرې غږ کوي چي پرې ورننوځي: ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (23) سورة المائدة
ژباړه: ددې جبارانو د مقابلې له پاره له دروازې نه دننه ورشئ ، کله چي تاسي دننه ورسېږئ نو تاسي به برلاسي ياست . پر الله ډاډه اوسئ که تاسي مؤمنان يئ.
دا و هغه ايجابي او مثبت نظرونه او آندونه چي مونږ کار او عمل ته هڅوي او زړونه مو د هيلو په رانه او قوي ځواک سره مضبوطوي.

## آیا بله لار شته؟

د دې تر څنګ دوه سلبي استدلاله هم شته دي چي بعينه هماغه پايله او نتيجه ترې راووزي او د يو غيرتمن انسان زړه کار او عمل ته په سمه او قوي توګه هڅوي.

اول: دا لاره که څه هم اوږده ده خو د نهضتونو او تمدنونو د سم صحيح جوړېدو لپاره بله لار نشته او تجربو همدغه نظر سم او صحيح ثابت کړی دی.

## لومړی فريضه پر ځای کول

دوهم: مسلمان لومړی د دې لپاره کار او عمل کوي څو د خپلې غاړې فريضه ادا کړي، په دوهم قدم کي يې اخروي اجر او ثواب مطلب وي، او دريم قدم کي يې په دنيوي ژوندانه کي د کار او فعاليت فائده او ثمره مراد وي.

بنا پر دې که مسلمان کار او عمل وکړي نو خپله فريضه يې ادا کړه، او که د عمل شرائط پوره و

نو پرته له شک او شبهې دالله پاک له لوري اجر او ثواب هم تر لاسه کوي، پاتې شوه دنيوي ثمره او فائده نو دا د الله پاک کار دی او دهغه خوښه، کېدای شي داسې فرصت راشي چې د ده په خوب او خيال کې هم نه وي او کار او فعاليت يې خوږې مېوې ورکړي. خو که دی له کار او عمل څخه کښېناست او هغه يې تر سره نکړ نو د تقصير او غفلت ګناه خو پرې بار شوه ، خو د جهاد کولو او اخروي اجر او ثواب ګټلو فرصت يې ضايع کړ او له ثمرې څخه په يقيني توګه بې برخې شو.

نو تاسو وواياست کومه ډله (خيرمقاما واحسن نديا) غوره او ښه ده؟

قرآن کريم دې موضوع ته په څرګنده توګه اشاره کړې ده:

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَى رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ (164) فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنْجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ (165) سورة الاعراف

ژباړه: او هغوی ته دا هم ورپه زړه کړه چې کله د هغو يوې ډلې بلې ډلې ته ويلي وو چې " تاسې داسې خلکو ته ولی نصيحت کوئ چې الله د هغوی هلاکوونکی يا ورته د سختې سزا ورکوونکی دی" نو هغوی ځواب ورکړی وْ چې " مونږ دا هرڅه ستاسې د رب حضور ته د خپل معذرت وړاندې کولو له پاره کوو. او په دې هيله يې کوو چې ښايي دا خلك د هغه له نافرمانی څخه په ډډه شي"

په پای کښې چې کله هغوی هغه ښوونې بيخي هېرې کړې چې هغو ته ور زده کړای شوې وې نو مونږ هغه خلك وژغورل چې له بدی نه يې منع کوله او نور پاتې ټول خلك چې ظالمان وو د هغو د نافرمانيو له امله مو پر سخت عذاب ونيول.

بنا پر دې د يو غيرتمن مسلمان لپاره چې روح يې د اسلام په مبادئو او لار ښوونو خړوب وي له کار، عمل او جهاد څخه چاره نشته ده. په همدې خاطر اخوان المسلمين خپل کوښښ په کار اچوي، له خپل هدف او مقصد څخه قربانيږي او خپل هر څه د هغه لپاره د جهاد په لار کې لګوي. که يې موفقيت او برې په برخه شو خو ډېر ښه، او که برې لاسته ورنغی نو دا يې بس ده چې د دې فکر په مخ کې د پله حيثيت غوره کړي څو پرې هغه خلکو ته ځان ورسوي چې تر دوی څخه د هغه په تحقق کې توانمن او ځواکمن دي، او که دا هم ونه شوه نو همدا يې بس ده چې د الله پاک په وړاندې عذر ولري!

# (۳)

# د پر ون او نن تر منځ

د پرون او نن تر منځ

سريزه

د دوهمې نړيوالې جګړې له پيل وروسته په مصر کښې پر له پسې متعدد حکومتونه راغلل چې ټول يې په اخوان المسلمين باندې په کړی تنګولو يوه خوله وو، چې نا ببره نحاس ياچا د ۱۹۴۳ز کال په اوايلو کښې د اخوان المسلمين د مرکزي دفتر په استثناء د اخوان دټولو څانګو د بندلو امر صادروي او مرکزي دفتر د امنيتي چارواکو د کلکې څارنې لاندې راځي.

په همدغه موده کښې د خلکو تر مينځ دا خبره خپره شوه چې انګليسان غواړي له امام حسن البنا څخه د هغه په وژلو او يا تبعيد سره ځانونه خلاص کړي! اخوان المسلمين د انګليسانو له خوا د امام حسن البنا د ترور په دسيسې پوه شول چې غواړي د هغ ترور د يوې ترافيکي پيښې په بڼه څرګند شي ؛ نو امام بنا دغه رساله د خدای پاماني اخيستونکي د وروستي وصيت په څېر وليکله!

دغه رساله په مختلفو نومونو خپره شوې: د امين پيغمبر رسالت، د پرون او نن تر مينځ، او د اسلامي فکر پرمختګونه او دهغه اهداف.

اومونږ د دې رسالې په ليکنه کښې هغه وړوکی کتاب اصل ګرځولی چې د اخوان د مرکزي دفتر څخه د نيتې له يادولو پرته خپور شوی دی.

## د پرون او نن ترمينځ

الحمدلله و صلى الله على سيدنا محمد الفاتح الخاتم و على آله و صحبه وسلم تسليما كثيرا.

### 1. د امين پيغمبر رسالت او د قرآن تګلاره

ديارلس سوه يو اويا کاله وړاندې د الله پاک نالوستي پيغمبر محمد بن عبدالله صلى الله عليه

وسلم د مکې په غېږ کښې د صفا غونډۍ له سر څخه دغه آواز پورته کړ: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ} [الأعراف:158]

ژباړه: ای انسانانو! زه ستاسو ټولو لوري ته د هغه الله استازی يم چې د اسمانونو او ځمکې د باچايۍ مالک دی، له هغه پرته بل خدای نشته، هماغه ژوند بښي او هماغه مرګ ورکوي، نو پر الله او د هغه پر هغه امي نبي استازي ايمان راوړئ چې الله او دهغه ښووني مني، او د هغه پلټګي غوره کړئ هيله ده چې تاسې سمه لاره ومومئ.

په حقيقت کښې د غه جا مع دعوت او بلنه د تياره ماضي، روڼ مستقبل او ښايسته او نېکمرغه حاضر په مينځ کښې د ټولو کايناتو په سطحه يوه ښپلوونکې کرښه وه او د يوه نوي نظام روښانه او ځرګنده اعلان و، چې شا رع او واضع يې حکيم او خبير الله، مبلغ او رسوونکی يې بشير او نذير پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم، او کتاب او قانون يې روڼ او روښانه قرآن، او لښکر يې مخکيني او لومړني (السابقون الاولون) مهاجر او انصار او هغوی چې په نېکه سره يې د دوی متابعت او پلټګي کړې ده دي. دغه نوی نظام د بشر وضع او د انسان په لاس نه دی جوړ، بلکې د الله پاک رنګ او د الله پاک دين دی او له الله پاک څخه په رنګ او دين کښې څوک ښايسته دی؟ **{مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَكِنْ جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (52) صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ أَلَا إِلَى اللَّهِ تَصِيرُ الْأُمُورُ} [الشورى:52، 53]**

ژباړه : ته هيڅ نه پوهېدلې چې کتاب څه وي او ايمان څه وي خو هغه روح (قرآن) مونږ يوه رڼا وګرځوله چې په هغې سره مونږ له خپلو بندګانو نه چې چاته مو خوښه شي لاره ښيو، په يقيني ډول ته د سمې لارې لوري ته لارښوونه کوې. د هغه الله د لارې لوري ته چې د اسمانونو او ځمکې د هر شي مالک دی. خبر اوسئ، ټولې چارې د الله خخواته ور ګرځي.

## 2. د قرآن کريم د بشپړې ټولنيزې اصلاح بنستيز قواعد:

قرآن کريم د ټولنيزې بشپړې اصلاح ټول اصول راټول کړي دي او له پيښو، ظروفو او مناسبتونو سره به وخت په وخت پر پيغمبر صلی الله عليه وسلم نازلېده او هغه به مؤمنانو ته اوراوه او اعلاناوه، **{كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا (32) {وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا} [الفرقان:32، 33]**

ژباړه: هو، داسې ځکه شويدي چې دا په ښه شان مونږ ستا په ذهن کښې کښېنوو، او د (همدې غرض لپاره) مونږ هغه په يوه ځانګړي ترتيب سره د بېلابېلو برخو په بڼه په کراره درته لوستی دی. او (پدې کښې دا مصلحت هم دی) چې کله هغوی تاته کومه بې سابقې خبره ( يا حيرانوونکې

پوښتنه) راوړي د هغې سم ځواب مونږ په خپل وخت تاته درکړ او په ډېر ښه ډول سره مو خبره روښانه کړه.

څو د دوه ویشت کلونو په شاوخوا کښې وحی بشپړه شوه او قرآن په سینو کښې حفظ شو او کرښو کښې ثبت شو او الله پاک پکښې ددې امت لپاره د هر اړین شي حکم بیان کړ.

د ټولنیزې بشپړې اصلاح اصول عبارت دي له:

1 . ربانیت: یعنې خدایي توب او هرڅه د الله لپاره کېدل.
2 . انساني نفس او شخصیت لوړول.
3 . په آخرت کښې د بدلې او سزا عقېده ټینګول.
4 . د خلکو ترمینځ د وروری اعلانول.
5 . نارینه او ښځه دواړه پورته کول، ترمینځ یې د تکافل او مساوات اعلان او په دقیقه توګه د ژوند، ملکیت، کار، صحت، آزادی، زده کړې او امن او امان حقونو په تثبیتېدو او د کسب د مواردو په ټاکلو سره ټولنه بیمه کول.
6 . د دواړو غریزو کنترول، د انساني نفس او انساني نوع حفاظت او ساتنه او د خولې او لمنې د غوښتنو تنظیم.
7 . د اصلي جرایمو په لمینځه وړلو کښې شدت او سختي.
8 . د و لس پر وحدت او یو والي ټینګار او د اختلاف او تفرقې هر ډول مظهر او ښکارنده له مینځه وړل.
9 . د حق د اصولو او مبادئو په لیار کښې کوم چې د اسلام ټولنیز نظام راوړي ولس باندې جهاد او مبازه لازمي کول.
10 . دولت د فکر ممثل، د هغه حامي او ملاتړ، په خپلې ځانګړې ټولنه کښې د فکر د اهدافو د تحقق او په عامه توګه ټولو خلکو ته د هغو د تبلیغ او رسولو مسئول ګڼل.

### 3. د اسلام د ټولنیز نظام عملي شعائر:

دغه قرآني نظام له نورو وضعي نظامونو څخه بدل او بیخي جلا دی، دې نظام د هغو په څېر خپل اصول او لارښوونې په دې بڼه ندي وضع کړي چې یواځې په ذهنونو کښې نظریات، په کتابونو کښې آراء، او د ژبو په سر الفاظ او کلمات وي بلکې په داسې توګه یې وضع کړي چې هغه په ژوندانه کښې ثابت او پاخه بنسټونه وي او د هغوی له اشارو او پایلو څخه په ټولنه کښېد عملي ښکارندو او مظاهرو په توګه ګټه واخستل شي او خپل پلویانو ته یې چې په دغه نظام ایمان لري او هغه ته یې غاړه ایښې ددغو اعمالو په هکله د حرص او پوره پاملرنې امر کړی دی، او هغه یې پر دوی باندې داسې فریضې ټاکلې دي چې په پرېښودو او شایع کولو کښې یې هېڅ ډول غفلت او نیمګړتیا نه منل کېږي، اداء کوونکو ته یې ثواب ورکوي او ترک کوونکو ته یې داسې سزا ورکوي چې کېدی شي یو تن په هغې سره د اسلامي ټولنې له پولو څخه بهر او په یو لرې ځای کښېوغورځوي، دغه مهم فرایض چې اسلامي نظام د دغو اصولو د ټینګښت لپاره ېپیلي دي عبارت دي له:

أ. لمونځ، ذکر، توبه، استغفار....

ب. روژه، پاک لمني، او له مرفه ژوند او مزو چړچو څخه ډډه.
ج. زکات، صدقه او د خير ښېګڼې په لاره کښې لګښت.
د. حج او عمره، سيل او سياحت او د الله پاک په پادشاهۍ کښې غور او فکر، څېړنې او کشفيات.
ه. کسب او کار کول او د سوال حراموالی.
و. جهاد او د الله په لاره کښې جګړه، د جنګياليو تجهيز او د هغوی ترشا د هغوی د اهل او عيال ساتنه او پالنه.
ز. هر چاته پر ښېګڼو امر او هغه ته نصيحت او خير غوښتنه.
ح. له بديو او منکراتو څخه منع او د هغه له ځايونو او د هغو له سرته رسوونکو سره پرېکړه.
ط. د ژوند د مختلفو اړخونو په فنونو او تخصصاتو کښې د نارينه او ښځې دواړو لپاره په خبل خپل وړ او مناسب مجال کښې د علم او معرفت ترلاسه کول.
ي. ښايسته تعامل او غوره چلن او د لوړو او عالي اخلاقو خپلول.
ك. د بدن د سلامتيا او پنځه ګونو حواسو د ساتنې او حفاظت حرص او لېوالتيا.
ل. د حکومت له لوري په خدمت او پاملرنې سره او د ولس له لوري په طاعت او غاړه اېښودلو سره د چارواکو او ولس ترمينځ د ټولنيز تضامن، مرستې او همکارۍ روحيه رامينځ ته کول.

بنا پر دې مسلمان ددغه مسئوليتونو په اداء کولو او په بشپړه توګه د هغو په سرته رسوولو مکلف دی او پرې لازم دي چې په دې هکله هېڅ ډول غفلت او کمی ونکړي.

نوموړي مسئوليتونه ټول په قرآن کريم کښې ذکر شوي او رسول الله صلی الله عليه وسلم، صحابه کرامو او چا چې د هغوی ښه پلوي او پلټګي کړې ده، هغه په خپلو عملونو سره په اسانه او روښانه ښه بيان کړي دي، چې هر عمل يې جلا او يا څو عملونه يوځای د اسلامي نظام د ذکر شويو اصولو او مبادئو يو اصل او مبدأ يا څو اصله او مبادي تينګوي او غښتلي کوی، کوم چې د اسلام ټولنيز نظام د هغو د تحقق او خلکو ته د هغو د ګټو او ميوو د رسېدو لپاره راغلی دی.

## ۴- لومړنی اسلامی دولت:

د ټولنيز نظام پر دغو لوړو قرآني قواعدو او بنسټونو باندې لومړنی اسلامي دولت رامينځ ته شو، چې پر هغو يې کلک او ژور ايمان درلود هغه يې په دقيقه توګه پلي کول او د نړيوالو ترمينځ يې خپرول. تر دې چې د اسلام لومړني خليفه ابوبکر صديق رضي الله عنه به ويل: (لوضاع مني عقال بعير لوجدته في كتاب الله) که له ما څخه د اوښ د پښې رسۍ هم ورکه شي نو زه به يې د الله په کتاب کښې مومم. او تر دې چې هغه د زکات مانعين د همدغه نظام له ارکانو څخه د يوه رکن په ماتولو سره مرتدان وګڼل او له هغوی سره يې جګړه پيل کړه او ويل به يې: والله لو منعوني عقالا كانوا يؤدونه لرسول الله صلى الله عليه و سلم لقاتلتهم ما استمسک السيف بيدی) كنزل العمال.

ژباړه: په الله قسم که دوی راته هغه د اوښ د پښې تړلو رسۍ هم رانکړي کومه به چې دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکوله نو تر هغه به ورسره جنګېږم څومي توره په لاس کښې وي.

وحدت او یو والی په خپله ټوله معنی او له خپلو ټولو ښکارندو او مظاهرو سره ددې نوي امت سره ملګری و.

په قرآني نظام او قرآني ژبې سره ټولنیز او اجتماعي وحدت موجود و او په پلازمینه کښې د امیرالمؤمنین او اسلامي خلافت د بیرغ تر سیوري لاندې سیاسي وحدت موجود و که څه هم د فوځ او لښکر په هکله، د بیت المال په هکله او د والیانو د واکونو او تصرفاتو په اړه د هغه وخت اسلامی تصور په لا مرکزیت ولاړ و خو دغه لامرکزیت ددې نوي امت هر اړخیز وحدت په مخ کښې څکه خنډ نشو، چې ټولو پر یوې عقیدې او پر یوې متحد المال لارښوونې او توجیه کار کاوه.

دغو قرآني اصولو او مبادئو خرافاتي وثنیت او بت لمانځنه په عربي جزیرې او فارسي سیمه کښې پسې وا خسته او له مینځه یې وېوړه، مکار یهودیت یې تعقیب کړ او محاصره یې پرې تنګه کړه او په بشپړه توګه یې د هغه سیاسي او دیني واکمني ور ړنګه کړه او له مسیحیت سره لاس او ګرېوان شول تر دې چې د مسیحیت سیوری له اسیا او فریقا څخه والوت او اروپا ته یې په قسطنطینیه کښې د ختیځ روماني دولت سیوري ته پنا وېوړه او د اسلامي دولت سیاسي او روحي واک په دواړو سترو لویو وچو کښې په ښه توګه ټینګ او مستقر شو او د درېیمې لویې وچې په نیولو یې ټینګار وکړ، د ختیځ لخوا یې قسطنطینیه تر بریدونو لاندې راوسته هغه یې کلابنده کړه تر څو یې کلابندي ښه وځپي او د لویدیځ له لوري یې اندلس فتح کړ او د اسلام بریالی لښکرې د فرانسې زړه او د ایټالیا سویل او قطب ته ورسېدې او هلته یې د اروپا په لویدیځ کښې په علم او عرفان ښایسته مضبوط او د قوي بنسټونو او دنګو منارو څښتن دولت تاسیس کړ، چې وروسته یې بیا قسطنطینیه په بشپړه توګه فتحه کړه او مسیحیت یې د اروپا د زړه په یوې محدوده سیمه کښې کلابند کړ، د اسلامي لښکرو جنګي بېړیو د سپین او سره سمندر څپې و څیرلې او هر یوه یې سوچه اسلامي سمندر شو، او په همدې سره د اسلامي دولت څواکونو په ختیځ او لویدیځ کښې د سمندرونو کلیانې په لاسو کښې ونیولې او په بشپړه توګه د وچې او لمدې واکمني په لاس ورغله.

د اسلامي دولت مسلمان ولسونه له نورو نا مسلمانو ولسونو سره یوځای شول او ډېر تمدنونه یې رانقل کړل خو د ایمان په قوت او د نظام په محکمتیا سره پر هغو ټولو بر لاسي شول، نوموړي تمدنونه یې عربي کړل او یا نژدې ول چې عربي یې کړي او ویې کولی شول چې هغه د خپل دین او خپلې ژبې په رنګ رنګ کړي کوم چې له ځان سره ښکلا، ښایست او خوځښت لري.

هغوی له نوموړو تمدنونو څخه ځینې ګټور شیان پرته له دې چې د دوی سیاسي او اجتماعي و حدت او یو والی زیانمن کړي هم واخستل.

## ۵ـ د اسلامي دولت او اسلامي ملت د شړېدو لاملونه

د اسلامي دولت د بې ساري ځواک او پراخې واکمنۍ سره سره دکمزورتیا او شړېدو لاملونو د دغه قرآني امت وجود ته لاره وکړه اوپه کراره کراره قوي کېدل او خپرېدل ځو یې د امت دغه ځواکمن وجود کاواکه کړ او په شپږمه هجري پېړۍ کښې یې د تاتاریانو په ناولو لاسونو اسلامي مرکزي دولت ړنګ او په څوارلسمه هجري پېړۍ کښې یې د دوهم ځل لپاره ړنګ کړ چې دواړه ځلي یې تر شا تیت پرکه ولسونه او واړه واړه دولتونه پرېښودل کوم چې تل بیا وحدت او یو والي ته لېواله دي او د پورته کېدو او خوځښت هڅې کوي.

## ۵- د اسلامي دولت د کاواکۍ او نړېدو مهم لاملونه:

د اسلامي دولت د کا واکۍ او شړېدو مهم لامولونه عبارت دي له:

### أ. سیاسي او قومي اختلافات او د منصب او شهرت پر سر جګړه:

سره له دې چې اسلام له دې کار څخه په کلکه خلک وېرولي دي او هغوی یې تشویق کړي چې ریاست او امارت سره ډېره مینه ونلري او دې خطرناک اړخ ته یې متوجه کړي دي چې د ولسونو د خرابۍ چینجي او د دولتونو او ملتونو ټوټه کوونکی مرض دی: **{وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ} [الأنفال:46]**

ژباړه: او په خپلو مینځو کښې شخړه مه کوئ که نه نو په تاسې کښې به کمزوري پیداشي او برم به مو لاړ شي، له زغم نه کار واخلئ، په یقیني توګه الله د صابرانو ملګری دی.

او سره له دې چې اسلام په قول او عمل دواړو کښې پر اخلاص او للهیت زیات ټینګار او تاکید کړی دی او له ستاین غوښتنې او شهرت خوښونې یې ویرولي د ي.

### ب. دیني او مذهبي اختلافات:

دین د عقیدې او عمل په توګه پرېښودل، پر وچو الفاظو او بې روحه اصطلاحاتو چاپېرېدل، د الله جل جلاله له کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه اهمال او غفلت، علمي جمود او د خپلو خپلو مشرانو آراوو او نظریاتو ته تعصب او له مناقشو، مناظرو او جدال سره مینه او لېوالتیا. په داسې حال کښې چې اسلام له دغو ټولو څخه خلک ویرولي او په سختۍ سره یې ترې منع کړي دي تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: « **مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوا عَلَيْهِ إِلَّا أُوتُوا الْجَدَلَ**». رواه الترمذي.

ژباړه: هېڅ ولس له لاسته ورغلي لارښووني څخه بې لارې شوی ندی، مګر دا چې په جدل او مناظرو اخته شوی دی.

ج- په ډول ډول عیاشۍ، مزو او چړچو کښې ډوبېدل، په خوندونو او شهواتو پسې کېدل. تر

دې چې په ډېرو وختونو کښې د مسلمانانو له حاکمانو نه په دې اړه هغه څه نقل شوي چې له نورو څخه ندي نقل شوي، سره له دې چې دوی د الله پاک دغه قول لولي: **{وَإِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا} [الإسراء:16]**

ژباړه: او کله چې مونږ د کومې سیمې د هلاکولو اراده کوو نو د هغې بډایانو ته حکم کوو او هغوی په کښې په نافرمانیو لاس پورې کوي، هله نو پر هغې سیمې د عذاب فیصله تطبیقیږي او مونږ هغه بیخي تباه کوو.

د- واکمني، قدرت او ریاست له عربو څخه فارسیانو، دیلمیانو، ممالیکو، ترکانو او نورو ته لیږدېدل، هغوی چې لا د صحیح اسلام خوند نه و څکلی او زړونه یې د قرآن کریم د معانیو د نه درک له کبله د قرآن په پلوشو نه و رانه شوي، سره له دې چې دوی د الله پاک دغه قول لوسته: **{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ} [آل‌عمران:118]**

ژباړه: ای مؤمنانو! د خپلې ټولنې له وګړیو نه پرته نورو سره خپل رازونه مه وایئ. هغوی ستاسې د و رکاوي له هېڅ یو فرصت څخه ګټه اخیستل له لاسه نه ورکوي او تاسې ته چې په هرڅه زیان اوړي د هغو خوښیږي، د هغو د زړه دښمني د هغو له خولې نه راووځي، او څه چې هغوی په خپلو سینو کښې پټ ساتلي دي هغه له دې نه زیات دي، مونږ تاسې ته په ډاګه څرګندې لارښوونې کړې دي که تاسې پوهه لرئ.

هـ - د تجربوي علومو او کوني معارفو اهمال او په ژورو فلسفي نظریاتو او خیالي کاواکه علومو خپل وختونه لګول او خپل ځواکونه ضایع کول.

سره لدینه چې اسلام هغوی په کایناتو کښې غور او فکرکولو ته، د خلقت د رازونو پر حقیقت پوهېدلو ته او په ځمکه کښې سیر او سیاحت ته هڅولي او ورته امر یې کړی څو د الله پاک په پادشاهۍ کښې ژور سوچ او فکر وکړي: **{قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} [یونس:101]**

ژباړه: دوی ته ووایه: په اسمانونو او ځمکه کښې څه دي؟ هغه په غږېدلوسترګو وګورئ.

و- په خپلې واکمنۍ مغروریدل، په خپل قوت تېروتل او د نورو ولسونو اجتماعي پرمختګ له پامه غورځول.

تر دې چې هغوی ترې په تیاري او چمتووالي کښې وړاندې شول او دوی یې په ناخبرۍ او نابېرۍ کښې ګیر کړل، په داسې حال کښې چې قرآن کریم ورته امر کړی دی څو ویښ او بیدار اوسي، هغوی یې د غفلت له خطرناکو پایلو څخه وېرولي و او غفلت کوونکي او بې پروا خلک یې د

ځارویو په څېر او تر هغو زیات بې لارې ګڼلي دي: **{وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ} [الأعراف:179]**

ژباړه: او په یقیني توګه زیات پیریان او زیات انسانان داسې دي چې هغوی مو د دوزخ له پاره پیداکړي دي. د هغوی زړونه شته خو هغوی وربانديې فکر نه کوي، د هغوی سترګې شته خو ځه وربانديې نه ویني، د هغوی غوږونه شته خو څه پرې نه اوري، هغوی د ځارویو په شان دي، بلکې له هغو هم لاپسې تېر، دا هغه خلک دي چې په غفلت کښې لوېدلي دي.

ز- د یو شمېر غوره مالو دښمنانو په دسیسو تېروتل، د هغوی کړه وړه او د هغو د ژوندانه مظاهر او ښکارندې خوښول او په ضرري او بې ګټو شیانو کښې د هغوی تقلید او د هغوی پېښنو پسې کېدل په داسې حال کښې چې دوی په کلکه سره د هغوی له مشابهت څخه منع شوي، په صراحت سره ورته امر شوی ځو په دې هکله د هغوی مخالفت وکړي او د اسلامي امت د مقدساتو او شعایرو ساتنه او حفاظت وکړي او په دې هکله د نامسلمانو د تقلید او پېښنو له بدو پایلو څخه وېرول شوي دي، تر دې چې قرآن کریم فرمایلي دي: **{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ} [آل‌عمران:100]**

ژباړه: ای مؤمنانو! که تاسې د دې اهل کتابو د یوې ډلې خبره ومنئ نو دوی به تاسې له ایمان نه بېرته د کفر لوري ته واړوي.

او په بل آیت کښېفرمایي:**{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ} [آل‌عمران:149]**

ژباړه: ای مؤمنانو که تاسې د هغو خلکو په خوښه لاړشئ چې هغو کفر غوره کړی دی نو هغوی به تاسې بېرته په شا واړوي او تاسې به ناکام شئ.

## ۶- سیاسي شخړې او جګړې

### أ. د اسلامي امت د ختمولو هڅې:

مخکینیو اسبابو او لاملونو د اسلامي دولت او اسلامي امت په کیان او وجود کښې خپل کار پیل کړ، یو شمېر ولسونو فکر وکړ چې فرصت ورته برابر شوی دی ځو خپل غچ واخلي او هغه دولت له مینځه یوسي چې خاورې یې تر مخه فتح کړې وې او د ژوندانه د ټولو چارو وضعیت او نښې نښانې یې اړولې وې.

تاتاریان د یو تېز سېلاب په څېر په اسلامي دولت راغلل او بند بند یې شلاوه ځو د عباسي خلافت پلازمینې بغداد ته ورسېدل او د خلیفه مستعصم په شمول یې تر پښو لاندې کړ، چې ورسره د

لومړي ځل لپاره اسلامي دولت و شړېد او د خلافت مزی یې وشلېد او اسلامي امت په وړو وړو دولتونو ووېشل شو او په هر قوم او قبیله کښې به امیرالمؤمنین او د هغه منبر و.

په اروپا کښې د مسیحیت دې وضعیت ته پام شو، خپلې لښکرې یې سره ټولې کړې او په آ سیا او افریقا کښې یې اسلامي ختیځ په نښه او نه (۹) داسې صلیبي یرغلونه یې پرې وکړل، چې پکښې د اروپا تر ټولو تکړه پادشاهان، پوځونه، او تجهیزات شامل و، چې په پایله کښې یې په بیت المقدس کښې صلیبي دولت جوړ کړ، په ختیځ او لویدیځ کښې یې اسلامي ولسونه تر ګواښ لاندې راوستل او د مسلمانو دولتونو د وخت په ستر دولت مصر یې برید وکړ.

## ب. بیا خوښځت:

خو الله پاک ددې اجازه نه وه کړې چې باطل د ې پر حق بریالی شي هماغه و چې مصر وکولی شو د ځینو نیول شویو دولتونو تیت پوځونه سره ټول کړي او د صلاح الدین ایوبي رحمةالله علیه په قیادت یې د صلیبیانو مرئ ته ودروي، بیت المقدس یې بېرته ترې ونیو او په حطین کښې یې ورته وښودل چې ماته څرنګه وي؟

بیا د تاتاریانو په وړاندې ودرېدل او په عین جالوت کښې یې د ظاهر بیبرس په مشرئ سپک او ذلیل په شا وتمبول او بیا یې له سره د خلافت نظام احیاء کړ، او د الله پاک اراده شوې وه چې اسلام دې بیا یو ځواکمن، ارت او سورور او پر سیالانو برلاسی واکمن دولت ولري چې خپل رعیت یو کړي او خپل ولسونه تر خپل بیرغ لاندې سره ټول او یوځای کړي، داسې دولت چې لوړ همت یې اجازه نه ورکوي مګر دا چې له مسیحیت سره د هغه د کور په مینځ کښې و جنګېږي، قسطنطنیه فتح کړي او خپله و اکمني د اروپا په زړه کښې د ترکانو د عثماني دولت په لاس د اطریش تر مرکز فینیا(ویانا) پورې وغزوي.

## ج. په اروپا کښې د خوښځت او پرمختګ پیلامه:

د عثمانیانو تر بیرغ لاندې اسلامي دولت په خپلې واکمنئ ډاډه په ارام خوب ویده او له هغه څه نه په غفلت کښې و چې شاوخوا یې تېرېدل. خو اروپا چې په لویدیځ کښې د اندلس په واسطه او ختیځ کښې د صلیبي یرغلونو له لارې یې د اسلام له رڼا سره اړیکې پیدا شوې وې، فرصت ضایع نکړ او دغو درسونو څخه یې ګټه اخستل او استفاده کول هېر نکړل هماغه و چې د الغال (فرانسه، بلجیم او دالمان څه برخه) په سیمه کښې د فرنګیانو(له رومیانو او ترکانو پرته نور اروپایان) تر بیرغ لا ندې سره ټول شول او تر هغه وروسته یې وکولی شول په لویدیځ کښې د اسلامي فتوحاتو د بهیر مخه ونیسي، د اندلس د مسلمانانو په لیکو کښې دسیسې او توطیې خپرې کړي، خپلو مینځو کښې یې سره وجنګوي آن تر دې چې په پای کښې یې تر سمندر واړول او افریقایي غاړې ته یې ورسول او په اندلس کښې یې د هغوی پر ځای ځوان هسپانوي دولت جوړ کړ، پدې توګه اروپایان پرله پسې ځواکمنېدل، سره نژدې کېدل، فکرونه یې کول، زده کړې یې کولې، پر ځمکو ګرځېدل او وطنونه یې کشفول، تر دې چې د امریکا کشفول د هسپانویانو له اعمالو څخه و، او د هند لاره

کشفول د پرتګالیانو له اعمالو څخه. د اصلاحاتو غږونه په کښې پرله پسې پورته کېدل او ډېر مصلحین په کښې رامینځ ته شول، کوني علومو او ګټور او نتیجه لرونکي معارف ته یې مخه کړه، چې ددغو اصلاحي انقلابونو په پای کښې په اروپا کښې ملتونه جوړ شول او ځواکمن دولتونه رامینځ ته شول چې ټولو په ګډه سره د اسلامي دولت ټوټه ټوټه کول خپل مشترک هدف وګرځاوه کوم چې اروپا یې له دوی سره نیمه کړې وه، او آسیا او افریقا یې ځانته خوړه. تر دې چې دغو دولتونو د همدې هدف پر سر سره تړونونه وکړل چې ډېر ځله به د تقدس بنه ورکړل شوه!

## د. نوی یرغل:

اروپایانو د ځمکې لرېو پرتو سیمو ته د څېړنو، اکتشافاتو او سیاحت په نامه خپل ناولي لاسونه د هند او د هغه خواوشا ولایتونو په څېر لرې پرتو اسلامي خاورو ته وغځول او د پراخه قوي اسلامي دولت په ټوټه کولو یې پیل وکړ او ددې لپاره یې سترې سترې پروسې جوړې کړې، چې کله به یې د (المسئلة الشرقیه) [د ختیځ مسئله] په نامه یادولې او کله به یې ورته (د ناروغ سړي د ترکې وېش) نوم ا خست. هر اروپایي دولت به خپلې وارې ته کتل او چې فرصت به و رته مناسب ښکاره شو نو بې اساسه لاملونه به یې بهانه کړل او پر یو ارام او ناخبره دولت به یې یرغل وکړ، یا به یې څه برخه ترې نیمه کړه او یا به یې څه حصه ترې خپل ګواښ لا ندې راوسته. دغو یرغلونو ډېره موده دوام وموند چې په کښې ډېرې سیمې د عثماني دولت له واکمنۍ څخه جلا او په اروپایي واکمنۍ ننوتې. لکه لېرې المغرب (مراکش) اوشمالي اروپا. او ډېرې غیر اسلامي خاورې چې دعثمانیانو تر واک لاندې وې خپلواکې او مستقلې شوې، لکه یونان او د بالکان دولتونه. او ددې جنګونو په لړې کښې پای ورکوونکی رول د (۱۹۱۸-۱۹۱۴) کلونو د لومړي نړیوال جنګ و چې د ترکیې او د هغې د حلیفانو په ماته پای ته ورسېد او په همدې سره د اروپا تر ټولو ځواکمنو ولسونو(فرانسې، انګلستان او تر څنګ یې ایټالیا) ته بشپړ فرصت په لاس ورغی او د اسلامي ملتونو او ولسونو په دغه ستر میراث یې لاسونه کېښودل او د بیا ودانولو، اشراف او مشورې، او رضاکارانه مرستې او خدمت تر نومونو لا ندې یې خپله واکمني پرې ټینګه کړه، په دې ترتیب سره چې:

1. شمالي افریقا(مراکش، الجزایر، تونس) د فرانسې مستعمره شوې، چې په مینځ مینځ کښې یې په طنجه کښې د دولتي نفوذ سیمه او په ریف کښې هسپانوي مستعمرات پرتې وې.
2. طرابلس او برقه د ایټالیا مستعمره شوې، چې د اسلام هېڅ یو اثر یې په کښې پر ځای پرېښود، هغه یې جنوبي اتیالیا ونومولې، په اوسېدونکو یې ایټالوي تابعیت لازمي کړ او په زرګونو وږې کورنۍ او بشري لېوان یې پرې مسلط کړل.
3. مصر او سوډان د انګلستان په حمایت کښې داخل شول چې یوه یې هم هیڅ ډول واک اختیار نه درلود.

4. فلسطین د انګلستان مستعمره شوه، او انګلیسانو ځانته اجازه ورکړه څو فلسطیني ځمکې پر یهودانو وپلوري او هغوی په کښې خپل صهیوني قومي وطن جوړ کړي.
5. سوریه فرانسوي مستعمره شوه.
6. عراق انګلیسي متسعمره شوه.
7. حجاز یو ضعیف او کمزوری حکومت و چې خیراتونو ته یې انتظار ویسته او په بې بنسټه تړونو او باطلو معاهدو پورې یې ځان تاړه.
8. یمن یو ګوښی او منزوي حکومت او بې وزله فقیر ولس و او په هر وخت کښې له هرې خوا څخه د یرغل تر ګواښ لاندې و.
9. د جزیرة العرب پاتې برخې واړه واړه امارتونه و، چې امیران یې د انګلیسي قونصلونو په سیورې کښې اوسېدل، د هغوی د دسترخوان په پاتې شونو یې په خپلو مینځونو کښې سره جګړې کولې او پر سینو کښې یې یو بل ته د کینې او دښمنۍ اور په لمبو و. ددې ترڅنګ ښکېلاکګرو متحالفینو د عربي جزیرې پادشا ملک حسین سره پخې وعدې او کلک تړونونه لرل چې له هغه سره به د عربو په استقلال کښې مرسته کوي او د عربي خلافت واک به مضبوطوي.
10. ایران او افغاسنتان دوه نا ارامه حکومتونه و چې له هر لوري ورته تمې کېدې، کله د یو چا تر سیورې لاندې و او کله به د بل چا ترڅنګ ولاړ و .
11. هند د انګلستان مستعمره وه.
12. ترکستان او شاخوا یې د روسیې مستعمره وه او کمونستانو سخت کړول.

تر دې هاخوا تیت پرکه مسلمانان لږه کې او اقلیتونه و چې په ډېرو هېوادونو کښې خپاره و. نه داسې کوم دولت و چې د هغه د ملاتړ په هیله پناه وروړي او نه کوم مسلح او وسله وال حکومت و چې د هغه د تابعیت په اخستلو سره د هغه حمایت تر لاسه کړي، لکه په حبشه، چین، بالکان او د مینځنۍ افریقا، سهیلي، ختیځه او لویدیځه افریقا کښې مسلمان لږه کې.

په دغه وضعیت سره اروپا په سیاسي جګړه کښې برلاسې شوه او د اسلامي امپراتورۍ ټوټه کول او اسلامي دولت له مینځه وړل او په سیاسي توګه یې د سترو ژوندیو دولتونو له لست څخه حذفول څرنګه چې غوښتل هماغسې یې وکړل.

## هــد بیا ځواکمنۍ په لور:

د اروپایانو دغه بربنډ تېري او د ټولو تړونونو او لوظنامو تر پښو لاندې کولو د مسلمانانو سینې تنګې او نفسونه یې راوپارول او ولسونه راپورته شول، د خپلې خپلواکۍ غوښتنه یې کوله او د خپلې سلب شوې آزادۍ او برم د اعادې لپاره یې هڅه او جهاد کاوه او د همدې هدف لپاره پکښې پاڅونونو زور واخست. ترکیې پاڅون وکړ، مصر پاڅون وکړ، عراق او سوریې پاڅون وکړ، په فلسطین او د المغرب په څنډو کښې بیا بیا پاڅونونه وشول، ویښتابه په هر ځای کښې ټولو خلکو

کښې خپره شوه او اسلامي ولسونو په دې کار سره خپل ځینې حقونه ترلاسه کړل. ترکیه د خپلو اوسنیو حدودو په بڼه خپلواکه شوه، مصر او عراق دوه متسقل دولتونه وګڼل شول په نجد او حجاز کښې د سعودیانو دولت جوړ شو. ایران، افغانستان او یمن په خپل حا لت باندې خپلواک پاته شول، سوریه د خپلواکۍ پر درشل ولاړه وه، فلسطین په خپلې مبارزې سره د نړۍ پاملرنه ځانته ور واړوله او مسلمانانو پرته له شک نه د خپلو سپېڅلو موخو (د خپلواکۍ بېرته اخستل، خپل برم او مجد راګرځول او خپل دولت جوړول) په لور خورا ښه ګامونه پورته کړل، که څه هم لږ او ورو ول.

که څه هم دغو ګامونو ځانګړي قومي رنګونه درلودل، هر چا به د یوه جلا او مستقل ولس په توګه خپل حق غوښته، او که څه هم ددغو پاڅونونو کارکوونکو قصدا غوښتل څو د امت په کچه د وحدت او یو والي فکر هېر کړي خو په طبیعي توګه به ددغو ګامونو پایله پرته له شکه د امت وحدت او د اسلامي امپراتورۍ اعاده وي، چې د یو متحد دولت په توګه د اسلامي نړۍ تیت پرک ولسونه له ځان سره ټل کړي، د اسلام بیرغ پورته او د اسلامي دعوت کار پر اوږو کړي، ځکه په نړۍ کښې د مسلمانانو په څېر بل داسې ولس نشته دی چې یوه عقیده، یوه ژبه، ګډې مادي او معنوي ګټې او مصالح او یو شانته دردونه او ارمانونه یې سره یو کړي.

## و- نوې جګړه:

اروپایي دولتونه په داسې حال کښې د نړیوالې جګړې څخه ووتل، چې د کینې او دښمنۍ رېښې یې لا په سینو کښې ژورې پاتې وې او پرځنیو یې د سولې کانفرانس او د هغه تړونونه د یوې بې دریغه څپېړې په توګه پرېوته، چې ډېرو ته یې هیلې په دردناکه توګه نامراده کړې، ددې ترڅنګ نوي نوي فکرونه را څرګندل شول او یو لړ له سخت تعصب څخه ډک اصول کېښودل شول، چې ناچاره باید دغه حالت اروپایان یو نوي اختلاف او یوې نوې شدیدې کورنۍ جګړې ته درولې وای، چې ټولې یې ورمات کړی وای، یو والی یې ورپاشلی وای، عقل یې سرته وروستی وای او لاسونه یې له ظلم څخه لنډ کړي وای، او اسلامي ولسونو ته یې یوه بله موکه په لاس ورکړې وای څو یې خپل ځانونه سره ټول کړي او یو کړي وای، خپل صفونه یې له سره ترتیب او برابر کړي وای، خپله ډله او خبره یې یوه کړې وای، خپله آزادي او خپلواکي یې بشپړه کړې اود امیرالمؤمنین تر بیرغ لاندې یې خپل دولت او وحدت بېرته ترلاسه کړی وای، {وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ[القصص:5]

ژباړه: او مونږ دا اراده درلودله چې پر هغو خلکو مهرباني وکړو چې په ځمکه کښې ذلیل ګرځول شوي وو او هغوی رهبران وګرځوو او هماغوی وارثان وګرځوو.

## ۷- ټولنیزه جګړه:

الف. نوی تمدن:

اروپايي ولسونو چې له اسلام او مسلمانو ولسونو سره په ختيځ کښې د صليبي جګړو له لارې او په لويديځ کښې داندلس له عربو سره د ګاونډيتوب او اختلاط له لارې اشنا شوي و هغوی له دغو اړيکو څخه يواځې د بوه قوي احساس او يا د سياسي يو والي او ټولېدو په حد کښې استفاده ونکړه بلکې دغو اړيکو او اشنايۍ ورته ذهني او عقلي ستره ويښتيا وبښله چې ډېر علوم او معارف يې ترلاسه کړل او پراخه علمي او ادبي خوځښتونه په کښې راپورته شول، کليسا له دغې نوې ښکارندې او ظاهري سره په ټول ځواک مقابلې ته ودرېده او ددې خوځوښت پوهانو او اديبانو فعالانو ته يې سختې او ترخې سزاوې ور وځکلې، د پلټنې او تفتيش محکمې يې دښمنی ته ور وبللې او د هغو په خلاف يې دولتونه او ولسونه وپارول، خو کليسا ته دې ټولو هيڅ ګټه ونه رسوله او دهغې تعليماتو او اوامرو د علم د حقايقو او اکتشافاتو په وړاندې ثبات ونشو کړای او علمي خوځښت ترې په ټوله معنا بريالی ووت.

دولت هم دې کار ته متوجه شو او هغه هم له کليسا سره غبرګ وركړه تر دې چې هغه يې ځملوله او په دې توګه اروپايي ولس د کليسا له واکمنۍ څخه په بشپړه توګه نجات ومونډ، د هغې کارکوونکي او متوليان يې معابدو او اديرو ته وشړل او پاپ په واتيکان کښې اوسېدل پر ځان لازمي کړل، (واتيکان د ايټاليا مرکز روم کښې د پاپانو د اوسېدو ځانګړی ځای و، چې اوس مستقل دولت دی او ايتاليا پرې اعتراف کړی، او جمهور رئيس يې پاپ وي) د مسيحي دين د مذهبي اشخاصو کار د ژوندانه په يوې تنګې او محدودې دايره کښې ايسار شو، چې له هغې څخه نه وتلای شو او نه يې بل څه کولی شول، او په دې توګه مسيحيت په اروپا کښې له ژوند کډه و کړه او د يو تاريخي ميراث بڼه يې غوره کړه، او هغه به د ټولنو د ساده او بې تجربې خلکو د تهذيب او فرهنګ لامل، د استعمار او سياسي اهدافو د ترلاسه کولو آله او وسيله ګڼل کېده.

د اروپايانو په وړاندې د علم چوترې اوړدې شوې او د اختراعاتو او اکتشافاتو ډګرونه ارت او پراخه، د توليد او انتاج تخنيک څو برابره زيات شو او ژوند په صنعتي لورې وخوځول شو، دا هرڅه په اروپا کښې د قومي او ځواکمن دولت له پيلېدو او ډېرو سيمو او هېوادونو ته د هغه د واکمنۍ له غزېدو سره څنګ په څنګ روان و، نو نړۍ وال په دغو اورپايي ولسونو ورمات شول، د هغو ميوې او محصولات هلته ورتولېدل او له هرلوري مالونه ور وخوځېدل.

تر دې وروسته طبيعي وه چې اروپايي ژوند به پردې بنسټ ولاړ وي چې دين به د اجتماعي ژوندانه له ټولو ښکارندو او مظاهرو څخه لېرې وي، په ځانګړې توګه له دولت، قضا او تعليم څخه او دا چې هر څه به په مادي نظر کتل کېږي او په هر شي کښې به معيار او تله همدا ماديات وي. ددې پايله دا شوه چې د اروپايي نوي تمدن ټولې ښکارندې او مظاهر خالص مادي مظاهر او ښکارندې شوې چې ټول هغه څه يې رنګول چې اسماني دينونو راوړي و، او له هغه اصولو او مبادئو سره يې په ټوله معنا تناقض درلود چې د اسلام حنيف دين وضع کړي او د هغه تمدن لپاره

یې د بنسټ په توګه ایښي چې مادیت او معنویت دواړه سره یوځای کوي. هغه مهمې ښکارندې او مظاهر چې له اروپا یې تمدن سره ملګري دي عبارت دي له:

۱- الحاد، د الله پاک په اړه شک، له روح څخه انکار، اخروي سزا هېرول او په هر څه کښې د کایناتو له مادي او محسوسو پولو سره درېدل: {يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ} [الروم:7]

ژباړه: یوازې د دنیا د ژوند په ظاهري اړخ باندې پوهیږي او له آخرت نه په خپله هماغوی غافل دي.

۲- اباحیت او په خوندونو کښې ډوبېدل، مزو او چرچو پسې ګرځېدل، د دنیوي غرایزو غړوندی شلول، د خېټې او لمن د شهوتونو مړښت، ښځه د فتنو او لمسونو په ټولو ډولونو سره سنبالول او په هلاکونکو چارو کښې داسې ننوتل چې بدنونه او عقلونه ټوټه ټوټه کوي، کورنۍ نظام ړنګوي او په کورونو کښې سعادت او نېکمرغي له مینځه وړي: {وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ} [محمد:12]

ژباړه: او کافران فقط د دنیا د څو ورځني ژوندانه خوندونه اخلي، د څارویو په شان خوراک څښاک کوي او د هغو وروستی استوګنځی دوزخ دی.

۳- د افرادو، طبقاتو او ولسونو په کچه ځان غوښتنه او ځان خوښونه: هر فرد یواځې هغه څه غواړي او کوي یې چې دده ګټه پکښې وي، هره طبقه له نورو ځان لوړ ګڼي او هره ګټه او غنیمت له نورو پرته یواځې ځان ته خوښوي، او هر ولس خپل جنس ته تعصب کوي، نور عیبجن او نیمګړي ګڼي او هڅه کوي له ځان نه واړه او کمزوري ولسونه له ستوني تېر کړي.

۴- ربا او سود او د هغه پر قانونیت اعتراف، هغه د معاملاتو اصل او قاعده ګڼل، د هغه نوي نوي ډولونه او صورتونه ایجادول او هغه د وګړو، ولسونو او دولتونو په کچه عامول.

دغو مازې مادي مظاهرو او ښکارندو دا پایله ورکړه چې په اروپا کښې د وګړو نفسونه فاسد شول، اخلاق کمزوري شول او د جرائمو پر وړاندې جګړه سسته شوه، نو بنا پردې ستونزې زیاتې شوې ورانوونکي اصول او مبادئ څرګند شول، د تخریبېدونکو او تبا کوونکو انقلابونو اور بل شو او استقرار له مینځه لاړ، اجتماعي، اقتصادي او سیاسي نظامونه نا ارامه او ګډوډ شول، دولتونه په ډلو او ګوندونو ووېشل شول او ولسونه د کینو او بدو تمو په اساس په دښمنۍ واوښتل او یو د بل مریو ته کېناستل او په دې توګه دغه نوی مدنیت د انساني ټولنې په تامین او هلته د سولې، امن او ډاډ ځای پر ځای کولو او خلکو ته په نېکمرغۍ راوستلو کښې خپله بشپړه کمزورتیا، بې وسي او خپله ناکامي ثابته کړه. د دې سره سره چې د علم او معرفت حقیقتونه ورته پرانستل شوي و،د شتمنۍ او بډای توب اسباب او وسایل ورته ټول برابر شوي و او په ځمکه کښې یې ځواکمني او واکمني ټینګه شوې وه ، په داسې حال کښې چې لا د عمر یوه پېړۍ یې نه وه پوره شوې.

## په اسلامي هېوادونو باندې د ماده پالنې طغیان:

اروپایانو په کلکه هڅه وکړه څو د دوی ددغه مادي ژوندانه ځېنې له خپلو ټولو فاسدو ښکارندو او مظاهرو او وژونکو جرائمو سره ټول اسلامي هېوادونه لاندې کړي، کوم چې د دوی لاسونه ورغځېدلي و او بد قسمت د دوی تر واک لاندې ر اوستي و، چې ورسره یې شدید حرص درلود څو مسلمانانوته د دوی له علومو، معارفو، صنعتونو او نظامونو څخه د صلاح، قوت او ګټې عناصر ونه رسېږي او هغه په خپل انحصار کښې وساتي، په ډېر دقت سره یې د دغې اجتماعي جګړې قوي او محکم پلان جوړ کړ او د خپل سیاسي مهارت او عسکري ځواک پرمټ او مرسته یې هغه څه بشپړ کړل چې دوی غوښتل.

د مسلمانانو مشران یې له دوی څخه پور اخستو او معاملو کولو ته وهڅول او ددې کار لارې چارې یې ورته اسانه او ساده کړې او په دې کار سره یې و کولی شول خپل ځان ته د اقتصادي لاسوهنې حق پیدا کړي او هېوادونه په خپلو پانګو، لګښتونو او شرکتونو کښې ډوب کړي او د هغو داقتصادي چارو څرخ څرنګه یې چې زړه وي وڅرخوي، له ډېرې ګټې او سترې پانګې څخه هغوی محروم کړي او هغه یواځې د دوی وي او تر دې وروسته وکولی شي چې د حکومت، قضاء او تعلیم بنسټونه بدل کړي او په ځواکمنو اسلامي هېوادونو کښې سیاسي، عدلي، قضایي او فرهنګي نظامونه خالص په خپل رنګ باندې ورنګوي.

اسلامي هېوادونو ته یې خپلې په جامو کښې لوڅې بربنډې ښځې راوستې خپل شراب، ډرامې، نڅاوې، لوبې، جرائد، داستانونه، قصې، خیالونه، مستې او بې باکې هر څه راوړل، هغه جرمونه یې دلته روا کړل، چې په خپلو هېوادونو کښې یې نه و روا کړي، او همدغه چخنه پخنه عبث دنیا چې په ګناهونو ډکه او پر بدیو ټنډه او پرسېدلې ده د ساده او بې تجربې مسلمانو شتمنو، د رای او نظر څښتنانو او د واک او مقام خاوندانو په سترګو کښې ښکلې او ښایسته کړه.

په دې یې هم بسوالی ونکړ تر دې، چې د اسلامي هېوادونو د کور په دننه کښې یې مکتبونه او علمي او فرهنګی معاهد، انستیتیونه او پوهنتونونه تاسیس کړل چې د هېواد د بچیانو په زړونو کښې یې شک او الحاد وکري، هغوی ته وروښیي چې څرنګه خپل ځانونه سپک کړي، خپل دین او وطن تحقیر کړي، له خپلو دودونو او عقایدو څخه ووځي، هرڅه چې غربي وي هغه سپیڅلي او محترم وګڼي او دا ایمان او باور خپل کړي چې څه شی له اروپا او غرب څخه ر اځي او صادرېږي یواځې هماغه په دې دنیا کښې لوړ مثال دی او بس!

دغو مکتبونو او پوهنتونو بیا یوازې د لوړې طبقې خلکو بچیان خپل هدف ګرځولي او د هغوی لپاره ځانګړي دي، ځکه د همدې طبقې اولادونه به لویان او حاکمان وي او هغه څوک به وي چې لږ وروسته به په دې ولسونو او امتونو کښې د چارو واک او کلیاني په لاسوکښې نیسي، او که څوک په دغو سیمیزو مکتبونو او پوهنتونونو کښې پاخه نه شول نو غرب ته په پرله پسې بورسونو او سفرونو کښې د دوی د پوره پخېدو ضمانت پروت دی!

واقعیت دا دی چې د اروپایانو دغې منظمې او شدیدې اجتماعي او ټولنیزې جګړې ستر برى ترلاسه کړ او دا ځکه چې اساسا دغه جګړه زړونو ته خوړه او زړونو سره لګېدلې جګړه ده، د اوږدې مودې او قوي اغېزې جګړه ده او ځکه خو تر سیاسي او عسکري جګړې څخه په څو څو ځله خطرناکه ده!

ځینو مسلمانو ولسونو خو د اروپایي تمدن په خوښولو او ښه ګڼلو کښې او له اسلامي رنګ څخه په سترتیا کښې ډېر افراط وکړ او له حده تېر شول تر دې چې ترکانو اعلان وکړ چې تر کیه یو غیر اسلامي د ولت دى او په ډېره سختۍ او شدت یې د اروپایانو د ټولو کړو وړو متابعت او پیروي وکړه، د افغانانو پاد شاه امان الله خان همدغه هڅه وکړه خو دهغه دغې هڅې د هغه تخت رانسکور کړ، په مصر کښې د تقلید او پیروۍ ښکارندې او مظاهر ډېر زیات شول تر دې چې یو د رأى او نظر څښتن (طه حسین) پکښې په جهر سره وویل چې د پرمختګ بله لاره نشته پرته له دې چې اروپایي تمدن واخلو: ښه او بد یې، خواږه او ترخه یې، ګټور او ضرري یې او هغه څه چې ستایل کیږي او هغه چې عیب ګڼل کیږي!

په دې توګه د اروپایي تمدن د نقلېدو غږ په قوت او چټکۍ سره له مصر څخه ګاونډیو هېوادو ته منتقل شو تر دې چې د المغرب پاى ته ورسېد او د حجاز په ځمکه کښې له پاکو او سپېڅلو ځایونو را وڅرخېد!

**مونږ کولی شو اسلامي هېوادونه له اروپایي مادي تمدن څخه د اغېزمنېدو او مادي طغیان له مخې په درې ډولونو ووېشو:**

۱- هغه هېوادونه، چې دغه اغېزه او تاثر په کښې لوړ حد ته ورسېد او د زړونو او احساساتو تر بریده وړاندې لاړ لکه ترکیه او مصر. په دې دوه هېوادونو کښې له ټولو ټولنیزو وضعیتونو څخه د اسلامي فکر سیورى والوت، اسلامي فکر وشړل شو څو مساجدو، تکایاوو، مسکین خانو او ګوښه ځایونو ته پناه یوسي او ځانونه په کښېیټ کړي.

۲- هغه هېوادونه، چې یواځې په رسمي ښکارندو او حالاتو کښې له اروپایي تمدن څخه اغېزمن شویدي خو د ولس او خلکو د زړونو پر احساساتو یې ندى برلاسه شوى، لکه ایران، المغرب او شمالي افریقا.

۳- داو هغه هېوادونه چې له اروپایي تمدن څخه اغېزمن نه شول مګر د فرهنګیانو او حاکمانو یوه خاصه طبقه نه عام خلک او ولس لکه سوریه، عراق، حجاز، د عربي جزیرې زیاتې برخې او پاتې نور اسلامي هېوادونه.

ددې سره دغه څپه د برېښنا غوندې ګړندۍ غځیږي څو هغو نفسونو، طبقاتو او اوضاعوته ځان ورسوي چې تر اوسه پورې ورته نه ده رسېدلې.

واقعیت دا دى چې د اسلام دښمنانو وکولى شول د اسلام انځور یواځې د څو ډوله عقایدو، عباداتو او اخلاقو تر څنګ د خرافاتو او ډېو ښکارندو او مظاهرو په مجموعه کښې د اسلام په

نیمګړي انځور کښلو سره د مسلمانانو پوه او عاقل شخصیتونه تېر باسي او دهغوی د ننګیالیو او غیرتمنو سترګو ته یوه پرېړه پرده ودروي.

او د دوی له دې تېرویستنې سره د خپل دین په حقیقت باندې د مسلمانانو ناخبری مرسته و کړه تر دې چې ډېرو مسلمانانو د اسلام ددغه تصویر او انځور په اړه د ارام او راحت احساس کاوه او پر هغه ډاډه او خوښ شول، او زښت ډېره موده پر همدغه حالت باندې پاتې شول تر دې چې خورا ګرانه شوه چې د دوی یو تن په دې وپوهوو چې اسلام یو بشپړ ټولنیز نظام دی چې د ژوندانه ټولې چارې په ځان کښې نغاړي.

له دې وروسته کولی شو په خواشنینی سره ووایو چې غربي تمدن له خپلو ما دي مبادیو او بنسټونو سره په دغه ټولنیزه جګړه کښې پر اسلامي تمدن له خپلو محکمو مبادئو او بنسټونو سره چې ماده او روح دواړه سره جمعه کوي په خپله د اسلام په خاوره کښې بر لاسی شو، په ډېره شدیده جګړه کې، چې ډګر یې د مسلمانانو ذهنونه او نفسونه و او د هغوی ارواوې، عقاید او عقلونه و، لکه څرنګه چې په سیاسي او نظامي ډګر کښې برلاسي شو. او دا څه د حیرانتیا خبره نده، ځکه د ژوند چارې او ښکارندې له یو بله سره نه جلا کېږي، قوت او ځواکمني په ټولو کښې قوت او ځواکمني ده اوضعف او کمزورتیا په ټولو کښې ضعف او کمزورتیا ده: {وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ} [آل عمران:140]ژباړه: دا د زماني خوږې ترخې دي چې مونږ یې د خلکو تر مینځه اړوو را اړوو.

که څه هم د اسلام مبادئ او لارښوونې په خپل ذات کښې قوي پاتې دي، له ژوند او ښېرازۍ ډکې دي، په خپلې ښکلا او ښایست سره جذابې او زړه راښکونکې دي او تل تر تله به همداسې وي، ځکه د ا حق دی او انساني ژوند به هیڅلکه پرته له دې څخه کمال ونه مومي او دا ځکه چې د الله پاک له صنعې او جوړ څخه دی او د هغه په حفاظت کښې قرار لري: {إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ} [الحجر:9] ژباړه: یقینا مونږه دغه ذکر (قرآن) نازل کړی او مونږ په خپله دهغه ساتندویان یو. {وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ} [التوبة:32]ژباړه: الله پاک د خپلې رڼا له بشپړولو پرته منونکی ندی که کافرانو ته دا هر څومره ناکاره برېښي هم.

ب: ویښتابه:

لکه څرنګه چې د اروپا سیاسي یرغل په مسلمانانو کښې د قومي احساس په بیدراولو کښې اغېزه لرله همداسې د هغوی اجتماعی یرغل د اسلامي فکر په بیداریځ او راپورته کېدو کښې اغېزه لرله، له هر ځای او هر لوري څخه غږونه پورته شول او اسلام ته د ورګرځېدو د هغه پر احکامو او لارښوونو د ځان پوهولو او د هغه د نظام د تطبیق غوښتنه یې کوله، او ډېره نږدې هغه ورځ ارومرو راتلونکې ده چې پکښې د دغه مادي تمدن مانۍ یې د خپلو اوسېدونکو په سر ورپرېوزي او په د غه وخت کښې به بیا د روحي او معنوي لوږې او تندې اور احساس کړي چې د دوی

زړونه او ارواوې لمبه کړي او هېڅ ډول غذاء، علاج او شفا به د اسلام دستر کتاب (قرآن) له تعاليمو څخه پرته ونه مومي: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ (57) قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ} [يونس:57، 58]

ژباړه: ای خلکو تاسې ته ستاسې د رب له لوري نصيحت راغلی دی، دا هغه شی دی چې د زړونو د ناروغيو شفا ده، او څوک چې هغه ومني د هغه له پاره هدايت او رحمت دی.

ای پيغمبره ووايه چې د الله فضل اود هغه مهرباني ده چې دا (قرآن) يې واستوه، پردې خو بايد خلک خوشالي وکړي، دا له ټولو هغو شيانو څخه ډېر غوره دی چې خلک يې راغونډوي.

٨- زمونږ دعوت د پاڅون او خلاصون دعوت دی

الف. درنه ترکه:

درنو ورونو! په دې ترتيب سره الله پاک اراده کړې وه څو دغه په مسئوليتونو باندې درنده ترکه مونږ په ميراث ويسو او د دې تيارو په مينځ کښې ستاسو د دعوت رڼا ځرک ووهي او الله پاک مو د خپلې کلمې د اعلاء د خپل شريعت د برلاسي او خپل دولت د بيا اقامې لپاره تيار کړي: {وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ} [الحج:40]
ژباړه: الله به ارو مرو له هغو کسانو سره مرسته وکړي چې د هغه مرسته وکړي، الله ډېر زورور او برلاسی دی.

ب: زمونږ عام هدفونه او موخې:
ورونو مونږ څه غواړو؟ آيا مونږ مال غواړو، چې الوتونکی سيوری دی؟ آيا مونږ د قدر او منزلت لويي او پراخي غواړو کوم چې بدلېدونکې متاع ده؟ او که په ځمکه کښې تکبر او لويي غواړو؟ او {إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ} [الأعراف:128] ژباړه: ځمکه د الله ده ، له خپلو بندګانو څخه يې چې چاته خوښه شي د هغې وارث يې ګرځوي.

او مونږ د الله پاک دغه قول لولو: {تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ} [القصص:83]

ژباړه: د آخرت هغه کور خو به د هغو خلکو له پاره مخصوص کړو چې په ځمکه کښې خپله لويي نه غواړي او نه د فساد کولو اراده لري، او نېک عاقبت يوازې د پرهېز ګارانو دی.

الله شاهد دی چې مونږ دا يو هم نه غواړو ، نه مو خپل کار او عمل ددې لپاره کړی او نه مو دې ته دعوت کړی دی، بلکې تل ياد ساتئ چې تاسې دوه بنسټيزې موخې لرئ:

١- چې اسلامي وطن مو له هر پردي واک څخه آزاد شي او دا د هر انسان طبيعي حق دی، چې پرته له بې لارې ظالم او زورواک مستبد شخص څخه بل څوک ترې انکار نه کوي.

۲- چې په دغه ازاد وطن کښې آزاد اسلامي دولت جوړ شي، چې د اسلام په احکامو عمل کوي، اجتماعي نظام يې تطبيقوي، روغ اصول يې خلکو ته اعلانوي او حکيمانه دعوت يې خلکو ته رسوي. او څو پورې چې دغه دولت نه وي جوړ شوی مسلمانان ټول ګناهګار دي او د الله پاک په وړاندې د هغه د اقامې په هکله د خپل تقصير او د هغه له ايجاد او رامينځ ته کېدو د خپلي ناستي مسئول دي، او دا به د ټول انسانيت عقوق او له هغه سره جفا وي چې په دغسې حيرانوونکو ظروفو کښې دې داسې دولتونه جوړېږي چې د ظالمانه اصولو او مبادئو غړ کوي او د ظالمانه دعوتونو اواز پورته کوي خو په خلکو کښې دې داسې څوک نه وي چې ددې لپاره کار وکړي څو د حق، عدالت او سولې او سلامتيا دولت جوړ شي.

ددغو دووو هدفونو تحقق غواړو د نيل په دره کښې هم، د عربيت په خاوره کښې هم او په هر هغه ځمکه کښې چې الله پاک په اسلامي عقيده سره نېکمرغه ګرځولې ده، چې هم دين دی او هم ملت او جنسيت دی او هم عقيده ده چې ټول مسلمانان يې سره يو کړي دي.

ج- زمونږ خاص هدفونه او موخې:

موږ تر دې دوه عمومي هدفونو ها خوا نور ځانګړي اهداف هم لرو، چې د هغو له تحقق پرته يوه ټولنه په بشپړه توګه اسلامي نشي جوړېدای. وروښو په ياد لرئ، چې له ۶۰ سلنې زيات مصريان د حيواناتو له ژوند څخه لاندې ژوند کوي او په ډېر کړاو سره رزق او روزي لاسته راوړي، مصر په ټوله کښې د وژونکي لوږې تر ګواښ لاندې دی او د ډېرو اقتصادي ستونزو په مخ کښې قرار لري چې په پايله يې له الله پاک پرته بل څوک نه پوهېږي، په مصر کښېتر ۳۲۰ زيات بهرني شرکتونه دي چې ټولې عامه ګټې او مهم منابع يې په ټول هېواد کښېيه خپل ګورت کښېنيولي دي، د سوداګرۍ، صنعت او ټولو اقتصادی مؤسسو څرخ د بهرنيو سودخورو په لاس کښې دی، ځمکنۍ او عقاري پانګه په چټکۍ سره د مصريانو له لاسونو څخه بهرنيانو ته د لېږد په حال کښې د ه، مصر د نړۍ په کچه هغه هېواد دی چې مرضونه، وباګانې او افتونه په کښې زيات خپاره دي، له ۹ سلنې زيات مصري ولس د بدني کمزورتيا، د حواسو له لاسه ورکولو او ډول ډول عيبونو او ناروغيو تر ګواښ لاندې دي، او مصر لا تر اوسه پورې بې علمه پاتې ځکه چې د متعلمينو او زده کړيالانو شمېره يې پنځمې برخې ته نه ده رسېدلې، چې په دې لړ کښې له سل زرو څخه زيات هغه افراد دي چې زده کړې يې د لومړنيو مکاتبو له الزامي پروګرام څخه نه دي اوښتي، د جرمونو کچه په ويروونکې بڼه مخ په ډېرېدو او لوړېدو ده تر دې چې زندانونه تر مکاتبو زيات فارغان ورکوي، او مصر تر اوسه پورې ونه شو کولی چې د فوځ يوه فرقه په اړينو وسايله مجهزه کړي.

همدغه ستونزې په همدې بڼه او معنا په هر اسلامي هيواد کښې تر سترګو کيږي.

نو ستاسو له اهدافو څخه دي چې د تعليم د اصلاح لپاره کار وکړئ، له فقر، مرض، ناپوهۍ بې سوادۍ او جرمونو سره مبارزه وکړئ او داسې بېلګه ټولنه جوړه کړئ چې د دې وړ وي څو اسلامي شريعت ته يې نسبت وشي.

## د- زمونږ عام وسايل: دغو موخو ته څرنګه رسېدلای شو؟

واقعيت دا دی چې خطبې، ويناوې، ليکنې، درسونه بيانيې او محاضرات، او د ناروغۍ تشخيص او د علاج او دواء معرفي کول دا هرڅه په يوازيتوب سره هېڅ ګټه نه رسوي، غايه او مقصد لاسته نه شي راوړی او دعوتګر هېڅ يو هدف ته نشی رسولی بلکې دعوتونه ځان ته وسايل لري چې ناچاره بايد هغو ته کار وشي او هغه وکارول شي، ددعوتونو عام وسايل نه تغير مومي او نه بدلون او له دغو درېوو چارو څخه نه اوړي:

۱- ژور ايمان ۲- دقيق جوړښت ۳- پرله پسې کار او فعاليت.

دا مو هغه عام وسايل دي ورونو! په خپل فکر ايمان ولرئ، پر هغه ورټول شئ، هغه ته کار و کړئ او پر هغه ټينګ او ثابت پاتې شئ.

## هـ- اضافي وسايل:

کله کله ددغو عامو وسايلو ترڅنګ يو شمېر نور اضافي وسايل وي چې بايد د هغو لار ونيسو او هغه وکاروو، چې ځينې يې مثبت او ايجابي دي او ځينې يې سلبي او ترکي، ځينې يې د خلکو له عرف او دود سره سر خوري او ځينې يې د دود پر ضد، د هغه پر خلاف او له هغه سره په ټکر کښې دي، ځينې يې نرمښت لري او ځينې يې شدت او سختي، او مونږ ناچاره يو ددې ټولو په زغملو او تحمل باندې ځانونه بلد او عادي کړو او دې ټولو ته ځانونه چمتو او برابر کړو، څو پرې برى او کاميابي تضمين کړو. له مونږ نه به کله ددې غوښتنه وي چې د عاداتو او اشنا شيانو په خلاف کار وکړو او له هغو مقرراتو او وضعيتو څخه پېښه واړوو چې د خلکو ترمينځ عادي دي او يو له بله سره پرې خبر او سره پرې پېژني، او دعوت خو په حقيقت کښې پرته له دې، بل څه نه وي چې له پېژندل شويو او عادت شويو شيانو پښه واړوو او د دودونو او وضعيتونو مخ بدل کړو نو آيا تاسو دې ته چمتو ياستئ ورونو؟

## و- له کاره کښېنول او ناهيلې کول:

کېدی شي ډېر خلک ووايي: ددغو وسايلو څه مقصد؟ او دغه وسايل د امت په جوړېدو او د ټولنې په ترميم کښې څه ګټه رسولی شي؟ چېرته چې ستونزې ځنډنۍ شوي دي او حالت او وضعيت اوس پر ګڼو مفاسدو باندې ثبات او استقرار موندلی دی؟ تاسو څرنګه پرته له سود او ربا څخه د اقتصادي وضعې علاج کوئ؟ د ښځې په قضيه کښې څه کوئ؟ او پرته له ځواک او قوت څخه څرنګه خپل حق ترلاسه کوئ؟

نو ورونو ښه پوه شئ چې شيطان د هر مصلح په هيلو او اميدو کښې خپلې وسوسې اچوي، خو الله پاک د هغه وسوسې له مينځه وړي او خپلې لارښوونې مضبوطوي ، الله پاک پوه او حکمت والا دی.

دې ټولو ته وریاد کړئ چې تاریخ مونږ ته د تېرو او اوسنیو امتونو د حالاتو همداغه کیسې کړي دي چې په هغو کښې درسونه او عبرتونه دي، او کوم امت چې د ژوند کولو پرېکړه وکړي بیا نو امکان نه لري چې هغه دې ومري.

## ز- په لاره کښې مو خنډونه دی!

خوښ ګڼم، چې په صراحت درته ووایم، چې ستاسې دعوت لا د ډېرو خلکو په وړاندې نا پېژندل شوی پاتې دی او په کومه ورځ چې دوی ستاسې دعوت پېژني او دهغه اهداف او مقاصد درک کوي، په همغه ورځ به د هغوی له سختې دښمنۍ او شدیدې جګړې سره مخ کېږئ، بیا به تاسو په خپل وړاندې ډېرې سختۍ وګورئ او ستاسې مخې ته به ډېر خنډونه را وړاندې شي او خاص په همدغه وخت کښېبه تاسو د دعوتونو د څښتنانو پر لار تګ پیل کړی اوسي! پاتې شو اوس، نو لا تر اوسه خو نا پېژندل شوي پاتې یئ او لا تر اوسه تاسو دعوت ته لاره هواروئ او هغه جهاد او مبارزې ته چمتو کېږئ چې د عوت یې غواړي او ورته اړتیا لري.

د اسلام پر حقیقت باندې د خلکو ناپوهي او ناخبري به ستاسو په لاره کښې خنډ ودریږي. ډېر متدین خلک او رسمي عالمان به ومومئ چې له اسلام څخه ستاسو فهم نا آشنا ګڼي، او د هغه په لار کښې ستاسو جهاد بد ګڼي! رهبران، رئیسان او د واک او مقام څښتنان به درسره کینه او رخه کوي، او ټول حکومتونه به على السويه ستاسو مخې ته ودرېږي او هر حکومت به غواړي ستاسو فعالیت منع کړي او په لاره کښې به درته ستونزې او کړاوونه ایجاد کړي!

غاصبان به له هرې لارې او په هره وسیله سره ستاسو مقابلې ته او ستاسو د دعوت رڼا مړې کولو ته راووځي او په دې کار کښې به د کمزورو حکومتونو، ضعیفو اخلاقو او هغو لاسونو څخه مرسته اخلي چې دوی ته د سوال لپاره او تاسو ته د ضرر او تیري لپاره اوږده دي، او ټول به ستاسو د دعوت په اړه د شبهاتو غبار راپورته کوي او د تورونو او تهمتونو ظلم به پاروي او هڅه به کوي څو هر ډول عیب او نقص ورپورې و تړي او خلکو ته یې په بده بڼه او خراب صورت وښيي او په دې کار کښې به خپل واک او ځواک او خپلو مالونو او نفوذ باندې حساب او تکیه کوي {يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ} [الصف:8]

ژباړه: دوی د خولو په پوکیو سره د الله د رڼا مړه کول غواړي. او دالله فیصله داده چې هغه خپله رڼا بشپړه خوره کړي که دکافرانو دا هر څومره بده ایسي.

په دې سره به تاسو بې له شکه د تجربې او ازمېښت پړاو ته ورننوزئ، نیول کېږئ به او په زندانونو کښې به لوېږئ، وژل کېږئ به او تبعید کېږئ به، مالونه او ګټې به مو مصادره کېږي، کارونه او فعالیتونه به مو معطل کېږي، کورونه به مو پلټل کېږي، او کېدی شي د ازمېښت دغه موده درباندې اوږده هم شي. {أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ} [العنكبوت:2] ژباړه: ایا خلکو دا ګڼلې ده چې هغوی به یوازې په همدومره ویلو پرېښودل شي (چې مونږ ایمان راووړ) او هغوی به ونه ازمویل شي؟

خو الله پاک له دې ټولو وروسته درسره د مجاهدينو د مرستې او نصرت او نېکي کوونکو عاملينو د بدلې او ثواب وعده کړې ده{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ... فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ} [الصف:10-14]

ژباړه: ای مؤمنانو ايا زه وښيم تاسو ته هغه تجارت چې تاسې له دردناک عذاب نه وژغوري؟
. . . بيا مونږ د مؤمنانو ملاتړ وکړ د هغوی د دښمنانو پر ضد او همغوی برلاسي شول.
نو آيا تاسو په دې با ندې اصرار او ټينګار کوئ چې د الله پاک انصار او ملاتړي اوسئ؟!

## ح- د بري لاملونه:

ورونو! حقه خبره چې ددغو ټولو ستونزو په هکله يې ياده کړو دا ده چې زمونږ دعوت او بلنه د الله پاک دعوت او بلنه ده، کوم چې تر ټولو لوړ دعوت او لوړه بلنه ده، مونږ د اسلامي فکر غړ کوو کوم چې تر ټولو قوي فکر دی، مونږ خلکو ته د قرآن کريم قانون او شريعت وړاندې کوو کوم چې تر ټولو قوانينو عادل قانون دی. {صِبْغَةَ اللَّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ} [البقرة:138]ژباړه: ووايه د الله رنګ غوره کړئ، د هغه له رنګ نه به ښه د چا رنګ وي؟ او مونږ د هماغه بندګي کوونکي يو.

او دا چې ټول عالم دغه دعوت او بلنې ته اړتيا لري او څه چې په دې عالم کښې دي ټول دې دعوت ته کار کوي او لار ورته هواروي، او مونږ – لله الحمد - له شخصي تمو څخه پاک يو، له شخصي ګټو څخه لېرې يو، د الله پاک له رضا او د خلکو له خير ښېګڼې بل مقصد نه لرو، د الله پاک له خوښې ترلاسه کولو پرته د بل څه لپاره کار او فعاليت نه کوو، اود الله پاک د مرستې او نصرت انتظار کوو او چاسره چې الله پاک مرسته او نصرت وکړي، د هغه ماتولو والا بيا څوک نشته. {ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَى لَهُمْ} [محمد:11]

ژباړه: دا د دې له پاره چې د مؤمنانو ملاتړ او مرستندوی الله دی او دکافرانو هيڅ ملاتړ او مرستندوی نشته.

بناء پردې زمونږ د دعوت قوت، هغه ته د ټول عالم اړتيا، زمونږ د مقصد اصالت او پاکي او د الله پاک له لوري زمونږه تائيد او نصرت د بري لاملونه دي چې هيڅ ډول خنډ او ما نع يې د لارې په مخ کښې نشي درېدای: {وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ} [يوسف:21]ژباړه: او الله په برلاسی سره خپل کار کوي خو زياتره خلک پو هيږي نه.

## ۹- وصيت

مسلمانو ورونو واورئ!

په دغه کلماتو سره مې غوښتل ستاسو فکر ستاسو تر وړاندې کېږدم، ښايي سختې لحظې مونږ ته انتظار باسي، زما او ستاسو ترمينځ به د څه مودې لپاره پرده جوړه شي، زه به نشم کولای تاسو سره خبرې وکړم او یا درته لیکنه وکړم، نو زه تاسو ته وصیت کوم چې په دغو کلماتو کښې ښه غور او فکر وکړئ که مو وسه وي له يادو يې زده کړئ، پر هغو راټول شئ او پوه شئ چې تر هر لفظ لاندې ډېرې معناوې پرتې دي.

## ورونو!

تاسو کومه خيريه ټولنه نه يئ، نه کوم سياسي حزب او نه د ټاکلو مقاصدو له پاره جوړ شوی سيميز هيئت او مؤسسه ياست، بلکښېتاسي يو نوی روح ياست چې د امت په زړه کښېچليږئ څو يې په قرآن سره ژوندی کړئ، تاسو نوې رڼا ياست چې روښانه کېږئ او د الله پاک په معرفت سره د مادې تيارې ورخېږئ. او تاسو کړنګېدونکی لوړ غږ ياست چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت او بلنه زمزمه کوئ او پرته له کوم افراط او زياتي څخه حقه خبره دا ده چې تاسو احساس کړئ چې تاسو هغه بار او پيټی په اوږو کوئ چې خلکو ترې اوږې سپکې کړې دي.

که تاسو ته وويل شي چې تاسو څه شي ته دعوت کوئ؟ نو ورته ووايئ چې مونږ هغه اسلام ته دعوت کوو چې محمد صلی الله عليه وسلم ر اوړی و، حکومت د هغه برخه ده، او حريت او آ زادي د هغه له فرايضو څخه يوه فريضه ده. او که درته وويل شي چې دا خو سياست دی، نو ورته ووايئ چې همدااسلام دی او مونږ دغه وېش او تقسيم نه پيژنو.

او که درته وويل شي، چې تاسو خو د کودتا داعيان او بلونکي ياست! نو ورته ووایاست چې مونږ د حق، سولې او سلامتيا بلونکي يو، پر هغه عقيده لرو او پرې وياړو، که تاسو پر مونږ راپاوربږئ او زمونږ د دعوت په مخکښې ودرېږئ نو الله پاک مونږ ته ددې اجازه کړې ده چې له ځان څخه دفاع وکړو او تاسو به بيا کودتاچيان او ظالمان ياستئ.

او که درته وويل شي چې تاسو له اشخاصو او هيئتونو مرسته غواړئ او په هغوی استعانت کوئ نو ورته ووایئ: {آمَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِ مُشْرِكِينَ} [غافر:84] ژباړه: مونږ الله وحده لاشريک ومانه او مونږ له ټولو هغو معبودانو څخه انکار کوو چې مونږ هغوی شريکان ګڼل.

نو که دوی په خپل تيري کښې نور هم وړاندې لاړل نو ورته ووايئ: {سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ} [القصص:55]

ژباړه: تاسې ته سلام دی، مونږ د جاهلانو غوندې کړنلاره غوره کول نه غواړو.

## ۱۰ـ واجبات او مسئوليتونه:

وورنيو! پر الله پاک ايمان لرئ او دهغه په معرفت، پر هغه اعتماد او هغه ته پر تکيه باندې وويارېئ، له هغه پرته بل چا څخه مه وېرېږئ او له هغه پرته د بل چا پروا مه لرئ، د هغه فرايض پر ځای کړئ او د هغه له نواهيو څخه ډډه وکړئ.

فضايل خپل اخلاق جوړ کړئ، پر کمالاتو منګولي خښې کړئ، په خپلو اخلاقو باندې قوي اوسئ او الله پاک چې د مؤمنانو کوم عزت او درنښت او د متقيانو او صالحانو کوم کرامت درکړی پر هغه درانه او عزتمن اوسئ.

قرآن کريم ته مخه و کړئ او تلاوت کوئ يې، نبوي سيرت ته مخه وکړئ او لولئ يې، عملي خلک اوسئ نه نظري او فلسفي، الله پاک چې کوم قوم ته هدايت وکړي هغوی ته عمل ور په برخه کړي او هيڅ يو قوم له هدايت وروسته نه بې لارې کيږي مګر دا چې جدل او مناقشې ور په برخه شي.

خپلو مينځو کښې مينه او محبت کوئ، په خپلو اړيکو او رابطو په ټوله معنی حريص اوسئ، همدا ستاسو د قوت راز او ستاسو د بري ستنه ده، او تر هغه پورې ټينګ او ثابت قدمه اوسئ څو پورې الله پاک ستاسو او ستاسو د قوم ترمينځ حقه فيصله وکړي، او الله پاک تر ټولو غوره فيصله کوونکی دی.

په سختۍ او اسانۍ، او خوښۍ او خفګان کښېد خپل قيادت او مشر تابه خبره واورئ، او ويې منئ همدا ستاسو د فکر رمز او راز دی! او همدا ستاسو ترمينځ د اړيکو او وصلېدو کړۍ ده!

تر دې وروسته د الله پاک د نصرت او تائيد انتظار کوئ، پرته له شکه فرصت ارو مرو راتلونکی دی: {وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ} [الروم:4، 5] ژباړه: او په هغه ورځ به مسلمانان خوشحالي وکړي، د الله په ښېل شوي بري باندې، الله مرسته په برخه کوي چاته يې چې خوښه شي، او هغه برلاسی او مهربان ذات دی.

الله پاک دې ما او تاسو ته د هغه څه توفيق راکړی چې ده ته خوښ او غوره وي، مونږ او تاسې دې دغوره او هدايت شويو خلکو پر لاره روان کړي، او د نېکمرغو او درنو خلکو ژوند دې را په برخه کړي، او د مجاهدينو او شهيدانو مرګ دې را په نصيب کړي.

(انه نعم المولی و نعم النصير)

*Download From; Aghalibrary.com*